# د سینګار هټۍ



ناول

ډاکټر لیاقت تابان

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

20-01-2021

"ادریس غروال" صیب ته ډالۍ.

2021.01.20 2

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# د سینګار هټۍ

«ناول»

ډاکټر لیاقت تابان

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ټول حقوق د ليکوال په حق کي خوندي دي»

«کتاب پېژندنه»

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | **د سينګار هټۍ** |
| ژانر | ناول |
| ليکوال | ډاکټر لياقت تابان |
| کمپوزوونکی | محمد نعيم ازاد |
| خپروونکی | ملګري ليکوال «کوټه» |
| چاپ شمېر | ۵۰۰ |
| پښتې جوړوونکی | ايم اصف کاسی |
| پښتې ليکونکی | راز محمد کاتب |
| چاپکال | جولايي ۲۰۲۰ز ۱۳۹۹ل کال |
| برېښنا ليک | TabanLiaquat@Gmail.Com |
| بيه | ۲۵۰ کلداري |
| د کتاب موندلو درک | تکتو کتاب کور کاسي روډ کوټه<br>کتابونه پلورنځی<br>ريګل پلازه جناح روډ کوټه<br>صحاف کتاب پلورنځی کاسي روډ کوټه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## «ډالۍ»

د شېرخان په نوم
چې همت او جرآت يې پر دې هيبتناکه
موضوع باندې د قلم پورته کولو
توان او جرآت راکړی.



2021.01.20 21:5

(c) ketabton.com: The Digital Library



سريزه

## د لېونيانو نړۍ او تابان

دا وخت زه له ډېر ذهني فشار سره مخامخ يم او نه پوهېږم، چي څه وکړم. ځکه ځيني خلک په ژوند کي ډېر زيات ستړي کارونه کوي او کله چي دوی څه کار وکړي؛ هغه مبالغه ښکاره کېږي. راځئ! چي و وايم، زه يو ډېر مهم کار کوم... زه فکر نه کوم، چي دا مسئله دلته ده. لاکن دا حقيقت دی، چي ما ته يو خورا ډېر سخت کار را سپارل سوی دی، ځکه چي په پښتو ادب کي د نقادانو ډېر کمی شتون لري او بيا زه پخپله نقاد نه يم او نه دا زما کار دی. بنايي؛ همدغه وېره ده، چي دا وخت زه ورسره مخامخ يم.

هو! البت زه يو فکشن ليکونکی يم. زه نه غواړم، چي هر څه زه وايم؛ هغه دي خلک و مني. دا زما هيله ده او نېکمرغي هم، که خلک زما نظر خوښ کړي.

دا چي زه د اردو او انګليسي ادبياتو سره ډېري زړې، ژوري اړيکي او پيوستون لرم او د دې و پايلي ته زه خورا جدي يم او تاسو دې ته بې سکوني او تشويش هم ويلای سی. زه نه غواړم، چي خلک دي له ما سره متفق وي او يا دوی دي زما په څېر ورته نظر و لري، لاکن دوی بايد هڅه وکړي، چي دوی زما پر نظر غور وکړي، کله چي دوی سترګي پټي کړي...

"بوډا سړی او سمندر" د ادب د نړۍ له عالي ناولونو څخه يو دی، دا ډېر ښکلی او لنډ ناول دی. دا يو امريکايي ليکوال ارنسټ ملر همېنګوې (Ernest Miller Hemingway) ليکلی دی او پر دې و ده ته د ادب نوبل جايزه ورکول سوې ده. په دې ناول کي يو ماهی

(c) ke...com: The Digital Library



نيوونکی سېنيټاګو (Santiago) يوه ورځ سمندر ته د کب نيولو لپاره ځي او ده ته يو پخوانی خوب ور يادېږي، چې هغه به نن په رښتيا پوره کېږي. دلته يو غټ ماهی کوم چې د دېو (Giant) غوندي وي، لاکن په اصل کي دا د مارلن (Marlin) کب وي، چې د ده په جال کي بند سي، خو تر نيولو وروسته له يوې نوي ستونزي سره مخامخ سي، چي دی به دا دومره لوی ماهی تر ساحله پوري څنګه رسوي، چي دا مبارزه پيلوي او په دغه مبارزه کي ناول پای ته رسېږي. له ما سره د مارلن غوندي ستونزه د ډاکټر لياقت تابان د اوسني ناول په هکله ده، که څه هم پر دې ناول باندي د ليکلو لپاره فقط څو جملې لرم، لاکن مشکل دا راته پيښ دی، چي څه پر و ليکم او يقيناً په دې کي څه شک نسته، چي زما په مخ کي د مارلن په څېر د ليک يو شاندار شاهکار پروت دی... د ليک يوه خورا پېچلې ټوټه په يو وېروونکي انداز د يوې پېچلې ټولني لپاره...

زما يوازينۍ هيله دا ده، چي خلک پر ځای د دې چي ناول کيسې او د هغه د ليکلو طرز ته مخه وکړي، د ټولني و هغه بدبختي روحيې ته پام وکړي، چي په ناول کي وړاندي سوې ده او دا د ډاکټر لياقت تابان لوی کرېډېټ دی، کوم چي د ټولني د يوه ناوړه دود په خلاف لوی بغاوت دی، چي په خورا عصري ډول د يوې پر مخ تللي ټولني استازيتوب کوي، مګر دا د قسمت بدمرغي ده، چي کله موږ د دې پر مخ تللي ټولني په هکله سوچ کوو، نو دا ټولنه يوه بدرنګه، ناپاکه او خورا بدمرغه غوندي ايسي.

ظاهراً ډاکټر لياقت تابان يو ډېر ساده او بې ضرره څوک دی او دا رښتيا دي، چي ما له ده سره تر ډېرش کاله زياته ملګري کړې ده، ځکه خو دا لامل دی، چي زه د ده د شخصيت هر اړخ پېژنم او د دې ناول تر لوستلو مخکي دا زما مدعا وه او اوس هم سته، لاکن کله چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د ده د دې تخلیق لوستنه وکړه، نو ما له ځان څخه پوښتنه وکړه، چې ښاغلې ته چېرې یې؟ ته خو پر غلطه یې... ته خو د ده په هکله په هیڅ هم خبر نه یې.. او دی خو بېخي بېل څوک دی، کوم چې له تا سره ژوند کوي، هستوګنه کوي او له تا سره ستا په فکر او سوچ کې خاندي... باور وکړی! د دې ناول تر لوستلو وروسته ما ته تابان بېخي جلا کس و ایسېدی. سوچ مه کوی، چې هغه ډېر خوشحال کس دی، نه نه... هغه ډېر خفه او غمجن سړی دی، یقیناً هغه درد محسوسوي، په اذیت کې دی، دا یوازې ستاسو خیال دی، چې هغه د یو پرسکونه دماغ څښتن دی. نه؛ دا کس له بهره بلکل بدل دی او دی د خپلې ټولنې په اړه ډېر اندېښمن دی. دی د انګلېسي ادب د جونا تهن سویفټ (Jonathan Swift) په څېر د پښتو ادب یو تکړه او ځیرک سړی دی.

دا یوازې زما نظر نه دی، لاکن زه ډاډه یم، چې تابان یوازې ناول نه لیکي؛ بلکې هغه د خپل هغه ناروغه تر ځنګ ناست دی، څوک چې د مرګ له حالت سره مخامخ دی او دی د ده په ناروغي خبر وي او د ده تداوي په سمه توګه کوي. د خوشحالۍ خبره دا ده، چې ډاکټر تابان نه غواړي، چې د هغه ناروغه دې مړ سي. دا کټ مټ د ګبریل ګارشیا مارکیز (Gabriel Garcia Marquez) غوندې چلند دی، چې هغه په خپل هر ناول کې جنګېږي او هغه هم نه غواړي، چې د ده ناروغه ټولنه مړه سي. ښایي؛ د همدې لېوالتیا له کبله د نوبل جایزه کمېټۍ و ده ته د نوبل ادبي جایزه ورکړه. تابان هم دغه ډول انقلابي جذبه لري، لاکن موږ د تابان او د ګبریل ګارشیا مارکیز تر میان یو لوی توپیر وینو... تابان نه یوازې یو هنرمند دی؛ بلکې یو انقلابي ډاکټر هم دی او دی واقعاً غواړي، چې د ده د ناروغ درملنه وسي، کوم چې ده ته ډېر نژدې دی. زه فکر کوم، د دې ناروغ د ژغورنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره مبارزه په اوسني ناول کې په روښانه ډول انځور سوې ده. که څه هم اوسنی ناول يوه المیه ده او يو هيبتناک اختتام لري. تابان هڅه کوي، چې د خپلې ټولني د نفسیاتو يو سم او بشپړه انځور د بېلا بېلو رنګونو له لارې په هنري ډول په خپل ناول کې انځور کړي. د تابان نفسياتي ټولنه ډېرې ناروغې لري، لکه د اردو د ښکلي تخليق کار سعادت حسن منټو په څېر تابان هم وايي، چې په ټولنه کې د جنسي ناوړه چلند څخه ناوړه ګټه مه تر لاسه کوی او هڅه وکړي، چې د جنسي چلند په اقتصادي او نفسياتي لاملونو باندې ځانونه پوه کړي... تابان د سرمايه داري نظام سخت مخالف دی او په تعليمي لحاظ د ښاته پاته کېدا هم سخت مخالف دی.

د تابان د ناول کردارونه نادانه دي، دوی ډېرې اقتصادي ستونزې لري. دوی دا وخت د نړۍ د عصري مواصلاتو په عصر کې ژوند کوي، ډېر داسې خلک دي، چې په لاسونو کې يې جديد موبايل وي، چې د نړۍ د لوی اقتصادي ځواکونو له خوا د سکسي فلمونو له لارې زموږ په ټولنه کې د سکس زهر خوروي. له موږ ټولو جنسي ناروغان جوړوي او زموږ جنسي اړتیاوې لا سېوا کوي او موږ نه سو کولای، چې له جنس څخه پرته بل څه وکړو او دا خوند هر وخت موږ ځای ته متوجه کوي. اوس دا پوښتنه را پورته کېږي او په حقيقت کې هم د نړۍ لوی معاشي ځواکونه او د دوی تالی څټ نه غواړي، چې موږ دې اقتصادي واک تر لاسه کړو. دوی هڅه کوي، چې د جنسي تيرې له لارې موږ جنسي ناروغه کړي. دوی نه غواړي، چې زموږ فکري وړتيا وده وکړي. کېدای سي، چې اقتصادي غلامي د دريمې نړۍ د هر وروسته پاته هېواد په څېر زموږ تقدير سي او ممکن موږ ټول ويجاړ او برباد سو..

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر تابان دا ناول په خپل ځانګړي او یکتا سټایل لیکلی دی. په دې کې موږ د ده بشپړه مشاهده وینو، د ده پراخه مطالعه او پر موضوع باندې د ده ګرفت له ورایه معلومېږي. د طبي پوه په حیث دا ناول په حقیقت کې د پښتو ادب او د هغه د لوستونکو لپاره یوه ډالۍ ده. باید دې ته و نه ګورو، چې دا څه دي؛ بلکې هغه جذبې ته و ګورو، چې د دې شاته پرته ده. دا د عصري پښتو ادب د جونا تهن سویفټ (Jonathan Swift) ناول دی او له وحشتناکو طنزونو ډک دی.

دا یو تخلیق دی او زه د دې قدر کوم، زه د هغه اخلاقي زړورتیا ستایم، چې ډاکټر د یوه وېروونکي موضوع په وړاندې کولو ښوولې ده او دا اوس تاسو ته دعوت درکوي، چې تاسو یې ولولی.

درناوی او مننه
فاروق سرور اېډووکېټ
د جون یوولسمه ۲۰۲۰ز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سینګار هڅې

د حسن په سرابونو کښې د ځان ځروبولو لپاره ژوند مستي غواړي، شېر خان هم د دکان تر صفايي وروسته د څنګ کوشنۍ کمرې ته ورغلی، لاس او مخ يې و مينځل او راغلی؛ هينداري ته پټه خوله و درېدی او ژر ژر د ځان په سينګارولو لګيا سو. سيکه خو خدای له آره ښکلې سپينه او سره ورکړې وه، شېر، فټه جګ قد، ګونګرو (پېچک) وېښتان ،چي هر وخت به جېلي پر لګوله ،اوږده غاړه، ښکلي سترګي، چي کله به د باندي واتی، نو د لمر توري چشمې به يې پر سترګو کولې. پر مخ باندي يې لومړی سر سن بلاک (د لمر د تودوښي مخنيوونکی ) کريم او بيايې غوړ کريم و لګاوی، شونډان يې غوړ کړل، له دراز څخه يې خپل قيمتي چېن په غاړه کړی، برېښناليټ په ښي لاس او په کيڼ يې ګړۍ په لاس کړله. دوې ښکلي ګوتمياني يې په ګوتو کړې، د سټين کف بټنان يې بند کړل او پر ځان باندي يې د سينټ ښه پوره سپرې وکړله، بيرته له هينداري سره مخامخ سو. د پاخه رنګ په شنو کاليو کښې اتلس کلن ځوان ته ځان دومره ښکلی او ښايسته و ايسېدی "چي د خپلي انا (نيا) خبره ور په ياد سوه" هغې به ويل، چي دومره ښايسته ځوان چي خور او مور پر عاشقېږي. تر ډېره و هينداره ته ولاړ او خپل هر اندام ته يې جلا جلا په ځير ځير و کتل. ده به لا نور وخت هم د هينداري و مخ ته تېر کړی وای، که يې د موبايل ژنګ په کړنګا سره د خيالونو ماڼۍ نه وای ور ورانه کړې.

زه نن خامخا درځم او فقط د يو ساعت لپاره به په ګاډۍ کي بهر ته ووځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه! نازنین؛ نن د جمعرات ورځ ده، په دوکان کي رش وي...
اوف؛ ستا ټول عمر په پیسو ګټلو تېر سو..
نه، نه! زه د پیسو دومره مینه نه لرم، خو فقط دومره چي ځان او کور په و ساتلای سم او بس.
زه خو دي پخپله خرڅه بیایم، نو ته ولي هره ورځ انکار کوې...؟
پیسې خپلي وي او که د بل؛ معنا نه لري، خو نن زه مصروف یم.
شېرخان یو دم د دکان د مالک ظاهرشاه په راتګ باندي موبایل خاموش کړی او په کار لګیا سو.
ظاهر شاه د لوی دراز قلف خلاص کړی، ښې ډېري پیسې پکښې وې، هغه یې حساب کړې، د نوټونو ثلور غټې بنچې یې په لفافه کي واچولې او شېر خان ته یې و ویل:
دا په بېنک کي جمع کړه، ژر راځه! د ګیراګانو وخت دی، را روان دي.
بس دغه دی؛ ولاړم او راغلم، خو لالا تر هغو ته ګیراکان مه ایله کوه.
هه؛ لالا او ګیراکان...
ما خو یو هم په باک لا نه راوړي، راسي او شا او خوا و ګوري، چي ته ولاړ یې، نو خامخا یو څه نا څه واخلي، کنې د یو داسي شي پوښتنه وکړي، چي هغه له موږ سره نه وي او ژر د مارکېټ خوا ته رواني سي.
ظاهرشاه په عمر اته پنځوس کلن د مارکېټ په خوله کي یې د سینګار د شیانو (کاسمېټیکس) دکان د سینګار هټۍ په نامه درلودی، چي یوه دروازه یې د مارکېټ او بل وَر یې د لوی څړک پر خوا خلاصېدی. په مارکېټ کي نژدې دېرش دکانونه وو، چي زیاتره د مېک اپ د شیانو وو، څو درزیان وو او په ځینو کي د ښځو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کالیو او د کور د استعمال شیان خرڅېدل. مارکېټ ته د ښځو او نجونو راتګ د نارینوو په پرتله زیات وو، خو د تنکیو ځوانانو راتګ به هم بې مقصده نه وو.

د دې مارکېټ په ښار کې یو نوم پروت وو، خو د حکومت او خلکو هم په دې هکله فکر بند وو او پام یې ور اووښتی. په ټول مارکېټ کې د سینګار هټۍ کاروبار پر ټاپ وو. کله کله به د ګیراکانو دومره رش سو، چې دننه درېدل به ګران سو او نجونې به بهر په انتظار وې. د شېرخان سره په دکان کې څلور نور کارکوونکي هم وو، خو نجونو او زیاتره ښځو به هم د شېرخان له لاسه سودا اخستل خپله خوش قسمتي ګڼله. شېرخان یوازې دا نه چې په دکانداري کې ډېر ګړندی وو؛ بلکې پوه او خوش اخلاقه هم وو. د ده خبرې، انداز او نرۍ مسکا به د ډېرو زړونه په نه څه تخنول او د هرې پېغلې به څه نا څه هیله او تمه پیدا کېدله.

.................................

غرمه ناوخته چې لږ ګیراکان کم سو، نو نازنین دکان ته ناڅاپه را ننوتله، ځان یې یو غوړېپ کړی وو، د خوشبو خو یې دا حال وو، چې هر چا ته له لېرې محسوسېدله. موبایل په لاس کې او غوړېدلو وېښتانو خو یې ښکلا دوه چنده کړې وه. څه رنګه چې شوکېس ته ولاړه نجلۍ د شېرخان له مخه ایسته سوه، نو نازنین سمدلاسه ور مخته سوه او د مېډورا ګلابي رنګ سرخي یې طلب کړه. شېرخان له بالا ځخه څو ډوله سرخیاني راکښته کړې او مخته یې ورته کښېښوولې او د هغو تعریفونه یې ور ته شروع کړل.

زه دې تعریفونو ماریفونو ته نه یم راغلې... بس راځه! چې بهر ولاړ سو، نازنین سوکه ورته و ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېرخان شا او خوا و کتل، د ټولو سترګي په ده کښې وې، ځکه یې ځه ورته و نه ویل. کرار یې سرخیاني بیرته را پورته کړې...
نازنین د ده له لاس څخه یوه سرخي بیرته را کش کړه او په همدې ساعت کي یې خپل لاس د ده له لاس سره ټینګ و موښی، چي د دې شېبې لمس ګوره؛ دې ته څومره حظ او خوند رسولی وي، خو چي شېرخان په زوره لاس ځنې کش کړی، نو د دکان مالک ظاهر شاه دا منظر د سترګو تر ښېخو ولیدی، خو مخ یې نه ور واړاوی...
نازنین په موبایل لګیا سوه او خبري ته یې خوله نه جوړېدله او په موبایل کي یې څه ولیکل.
د شېرخان په جېب کي د موبایل کړنګ سو او د میسج خبر یې ورکړ، چي ده هم د سامان را اخستلو په بهانه ګیراکانو ته شا ور و ګرځوله او موبایل یې خلاص کړ...
زه نن په هیڅ ګون یوازي نه ځم، په سمه راځه؛ کښې نو...
د نازنین دې میسج شېرخان لږ پرېشانه کړی، لاکن له څهرې څخه یې د څه داسي تاثر ور نه کړی. ژر ژر یې ولاړي نوري دوې ګیراکاني فارغه کړې او بیا یې نازنین ته کرار و ویل:
زه نن ښځي نه سم وتلای، ته یې خپله هم وینې؛ څومره رش دی...
نه! زه په نورو نه پوهېږم، زه د باندي په مارکېټ کي ستا انتظار کوم.
له دې خبري سره سم نازنین و وتله او د دکان د شیشې له دروازې څخه یې شېرخان ته سترګي ښخي نیولي وې، چي کله به را ووځي...
ښه وخت وروسته شېرخان له دکانه بهر را و واتی، د نازنین زړه خوشحاله سو او کرار کرار په ده پسې سوه. قدمونه یې چټک کړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له مارکېټ څخه لږ نیهام سو، نو نازنین ور نژدې سوه او ورته و یې ویل:

موټر هغه بل طرف ته ولاړ دی...

شېرخان یوازې په مسکا سره په اشارو کې څه ورته و ویل او ګامونه یې لږ نور هم ګړندي کړل...

دومره تېز ولې ځغلې، زه به ګاډی دلته را ولم...

نازنین لا خبره نه وه پوره کړې، چې شېرخان د ماپښین د لمانځه لپاره په مسجد ننواتی...

اوف؛ بزدله... ته...

د نازنین تر خوله وتلي دغه جملې یوازې دا نه چې نازنین ډېره و ځوروله؛ بلکې شېرخان هم چې څه رنګه په مسجد ننواتی، نو یې خولې وچې کړې او ښه ډېر وخت یې په مسجد کې تېر کړی. د مسجد تر دربچه چې یې بهر و کتل او تسلي یې سوه، چې تللې ده، نو په ډاډمن زړه بیرته د سینګار هټۍ ته را ستون سو.

.....................................

ماخستن ناوخته چې کاروبار ختم سو، نو د دکان مالک ظاهرشاه د هرې ورځې په څېر و شیرخان ته پنځه سوه روپۍ ورکړې، په سل روپۍ یې موبایل ته کارډ واچوی، درې سوه روپۍ یې خپلې مور ته ورکړې او سل روپۍ یې له ځانه سره کښېښوولې. تر ډوډۍ خوړلو وروسته چې یې موبایل خلاص کړ، نو بې شمېره پیغامونه او پر واټس اپ باندې مسیجونه ورته راغلي وو، خو ده لومړی سر د نازنین پیغام خلاص کړی...

"د چا زړه ماتول لویه ګناه ده، دومره غرور ښه نه دی، زه څه وکړم، زړه مې بې له تا د بل چا سره نه لګېږي. کنې نو په دې ښار کې نو د



2021.01.20 21:53

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو ځوانانو څه کمی دی. زه چې له ماپښین راهیسې کور ته راغلې یم، نو هیڅ مې هم نه خوړلي او نه څښلي دي. تر څو چې ستا پیغام نه وي راغلی؛ زه به په همدې حالت کې یم او که ستا پیغام رانغلی، نو زه به..."

د شېرخان تر خوله وتلی اوف یې مور واورېدی او په چټکې یې پوښتنه ځنې وکړه، چې...

زویه! څه ټکه لوېدلې ده، چې دومره اوف دې وکړی؟

هیڅ خبره نه ده موري! هسې یو ایکسیډنټ سوی وو، په هغه مې زړه شین سو.

زویه! له کومه وخته چې دې دا موبایل اخستی دی، د دنیا ټول غمونه لکه یوازې چې یې ته ګالې. پرېږده! دا بدبخته کرار ویده سه، سهار به بیا وختې په کار پسې ځې...

هو موري! ته سم وایې، خو دا ځینې ضروري کاروباري پیغامونه استوم او بیا به که خدای کول ویده سم...

نازنین! خدای سته، چې زه هم له غرمې راهیسې ستا په بابت اندېښمن یم، زما و مجبوري ته د بې غورۍ نوم مه ورکوه او بل زما او ستا په حیثیت کې ډېر فرق دی. ته داسې وکړه، نن ما و بخښه او خپله روژه ماته کړه، آئ لب یو...

د شېرخان د دې مسیج له رسېدلو سره سم څو ثانیې وروسته د موبایل برغ سو او نوی مسیج راغلی. د شېرخان مور له بالښته سر را پورته کړ...

شېرخان ژر د اوبو ګلاس کښېښووی او د موبایل برغ یې خاموشه کړی.

اوف... ته که واقعي له ما سره مینه کوې، نو زه به د نن پېښه هېره کړم او تا به معاف کړم، سبا خو به را سره ځې...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نازنین دغه پیغام شېرخان و هڅاوی او پر واټس اپ باندي د چېټینګ لړۍ شروع سوه.

آخر... ته دومره تازیله ولي کوې..؟

د شېرخان لومړۍ جمله وه.

"پر ښه تلوار او پر بدو تامل" متل دي نه دی اورېدلی...

خو په متل او حقیقي ژوند کي ډېر فرق وي.

هر فرق په قربت ختمېږي...

خو زما او ستا د قربت اندامونه بېل بېل دي...

د میني مخته هیڅ یو اندام خنډ نه سي جوړېدلای...

لاکن ما خو کله هم له تا سره...

هو، هو؛ زه خبره یم، چي پر تا نوري هم ګرمي او تش په خوله میني دي، خو زه درسره د زړه مینه لرم...

لاکن...

لاکن واکن زه نه پېژنم، زه ستا د هر خواهش پوره کولو ته تیاره یم، بس ته یو فون را وکړه..

شېرخان چي د مور خوا ته وکتل، نو د هغې ایله سترګي سره ورغلي وې، نو دی هم کرار کرار را ولاړ سو او تر کمره را و واتی... له دېوال سره لږ ګوښه ته و درېدی او نازنین ته یې فون ور وکړی.

تر نیم ساعته پوري دواړو پر فون باندي یو بل ته په خبرو خبرو د زړه غبار لږ غوندي کم کړی وو، چي ناڅاپه فون بند سو. شېرخان چي بیر ته ژنګ ورکول غوښتل، نو په غبرګون کي ورته و ویل سول، چي نور دي بېلنس ختم سوی دی، نو څکه نامراده راغلی او په بستره کي په ویښو سترګو و غځېدی. د نازنین د لاس لمس ور په یاد سو، پر زړه یې نرۍ څړیکه تیره سوه او د ځوانۍ جنسي خیالونو (Fantasies) زور پر وکړی، سترګي یې پټي کړې، پر یوه او پر بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخ سو، زوروزو او توندو خيالونو يې د نازنين نازک لاسونه تر لېڅو پوري را و رسول او توندو غوښتنو يې د خيال په توان ټوله وجود په غېږ کي واخيست، کله به هغې لاس ور وغځاوه او کله به د ده له توانه و وتله، د خيال لړۍ يې تر چونډکو او نوکارو پوري و رسېدله، چي د پستو لاسونو مينه ناکو چونډکو او نوکارو يې د وجود په ژورو کي د بجلۍ د کرنټ غوندي ځپې خورې کړې... شېرخان د خيالي خوندونو په غېږ کي له ځان او جهان ورک په خوند اخستلو سر وو... لټ پر لټ اووښتی، کله به را ټول سو او په همدې وخت کي يې د نازنين د پستو لاسونو پستې او نرۍ ګوتي د سر وېښتانو ته را و رسېدلې، چي په مينه مينه يې مالش شروع سو او د ماشوم غوندي يې په للو للو الله هو للو...

دی هم له ځانه سره بوښېدی، تر ډېره پوري يې د سر مالش روان وو، د خيال دنيا د وجود تر ژورو پوري له ځانه سره واخست او پر بل اړخ باندي له اووښتلو سره سم د نازنين لاسونه تر سينې پوري را ورسېدل. د څه شېبې لپاره چي يې د ده د تي (Nipple) سر په دوو ګوتو کي يوازي د څو شېبو لپاره و نيوی، د تيو لمس يې دومره خوندور او زړه وړونکی وو، چي شېرخان يې د خيالي دنيا له پولي څخه په اووښتلو د رښتوني دنيا په احساس ولمانځی. لمس يې نور د زغملو نه وو او د دې لاسونه يې له دې ځايه کښته پوري وهل اوس نازنين لاسونه د شېرخان د پراخي او ارتي سينې د ځېږو وېښتانو په مالش سر سول، توند خيالونو او د احساس ژورتيا د ټول جهان واک د شېرخان په لاس ورکړی وو. د نو (Umbilicus) پر شا او خوا د نس برخه هر څوک تخنېدلو ته نه پرېږدي، خو شېرخان د دې په لمس هم د خوندونو په جهان کي ورک وو. له ځان او جهانه ورک چي کله يو لاس د ده له ښي ورانه سره اوږد سو او په لمس لمس يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تخنوونکو نازکو ګوتو د وجود تر برخو پوري ځان و رساوی، له شېرخانه څخه هم پښې و غځول سوې او د وجود څریکو یې له خولې څخه د انځکي په وتلو ځان ښکاره کړ، لکه یخ چي یې سوی وي...
مور یې پر انځکي را ویښه سوه او بږغ یې پر وکړ..
زویه؛ زویه! شېره یخ خو دي نه کېږي...؟
نه؛موري! زه خو ډېر ګرم یم، بس دغسي...!
پر کینې اړخ باندي په را اووښتلو یې د لانده خښتګ برخه د ځانه لېري کړه او په څو شېبو کي د خوبونو نړۍ په خپله غېږ کي له ځانه سره یووړی..

...................................

مور یې سهار وختي د لمانځه لپاره پر شېرخان بږغ وکړی، خو ده ځان په یوه او بله کاوی، آخر چي یې ډېر تنګ کړی، نو دی هم د اودس په بهانه واش روم ته ولاړی، چي کمرې ته بیرته راغلی، نو مور یې د چایو پخولو لپاره باورچي خانې ته تللې وه، دی ژر بیر ته په بستره ننواتی. مور چي یې را غبرګه سوه، نو د لمانځه پوښتنه یې ځنې وکړه، ده ځواب ورکړی، چي ما وختي لا لمونځ وکړی...
دومره ژر؟ نن دي وظیفه هم و نه کړله، ولي! په عذاب خو به نه یې؟
نه موري! سترګي مي د خوبه ډکي دي، لږ ساعت لا ویدېږم..
په بستره کي یوې او بلې خوا ته اووښتی او را اووښتی.. تر لمر ختلو پوري شېرخان په بستره کي اتاله (ناکراره) وو او تر معمولي ناشته کولو او غسل وروسته یې په بس کي د سول هسپتال تر او پي ډي پوري ځان و رساوی او سیخ د ګړدو او مثانې او پي ډي ته ورغلی...
ډاکټران لا حسبِ معمول نه وو را رسېدلي، ځکه انتظار سو. د او پي ډي و چپړاسي بشیر ته یې خواست وکړی، چي زه ډېر په عذاب یم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما لږ ژر ور ایله کړه، خو هغه په خنښم ورته و ویل، چي دومره ډېر کسان تر تا مخکي راغلي دي او ناست دي، زه څنګه تا مخکي ور پرېږدم. ده په براهوي ژبه خبري ورسره شروع کړې، د بشیر د مخ بڼه او رویه یو دم بدله سوه، ورته

و یې ویل، چي ټیک ده، زه یوه لار باسم...

لږ ساعت وروسته د هوټل باروالا بېره راغلی، شېرخان بشیر لره د چایو کپ را و غوښتی او بشیر په دې نور هم خوشحاله سو...

شېرخان یې د ډاکټر کمرې ته پټ ور تېر کړ، چي نور مخکي راغلي او پر نمبر ناست ناروغان اعتراض و نه کړي...

ډاکټر چي کله او پې ډي ته را و رسېدی، نو بشیر یې و ډاکټر ته په ټینګار سره سفارش هم وکړی...

د شېرخان لپاره دا ډاکټر نوی وو، ځکه یې په مرض سم پوه نه سو، خو دوایاني یې ور و لیکلې. شېرخان د سرکاري روغتون و میډیکل سټور ته و درېدی، هغو یوازي د پیناډول ګولۍ ور کړې او ویل یې؛ دا نوري له موږه سره نشته... د دوایانو پرچې یې هم ځنې واخستله... بهر راغلی، پر جناح روډ یې یوه میډیکل سټور ته پرچې ور وړله، هغه چي دوایاني ور کړې، نو درې سوه روپۍ یې ځني و غوښتلې، چي د شېرخان په جیب کي یوازي پرونۍ سل روپۍ پرتې وې... لږ ساعت ده هغه او هغه ده ته و کتل، دکاندار چي د ده په لاس کي سل روپۍ و لیدلې، نو په خنښم یې ورته و ویل، چي پیسې درسره نه وي، نو شله او د څه لپاره راځې...

شېرخان په مړو پښو له میډیکل سټور څخه را و واتی او سینګار هټۍ ته یې ځان را و رساوی، چي کله د دکان مالک ظاهرشاه را و رسېدی، نو د دوایانو پرچې یې ور ښکاره کړله او دوه سوه روپۍ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نن ورځي د مزدورۍ په اېډوانس کي ځنې واخستې او په هغو باندي يې له نژدې مېډيکل څخه دوايانې را واخستلې...
نن هم حسبِ معمول د ګيراکانو غومبر ډېر وو، شېرخان هڅه کوله، چي په ورين تندي د ټولو سودا ور پوره کړي، چي کله به ډېر په عذاب سو، نو د بولو کولو لپاره به بهر را و واتی...
ظاهر شاه د ده په ناروغي خبر وو، خو باک يې نه په کاوی، چي د آرام کولو ورته و وايي. غرمه مهال دوی ته د مخامخ دکان مالک نقيب الله د دوی دکان ته راغلی، د شېرخان د حال پوښتنه يې وکړه او د چای ورسره څښلو لپاره يې ست ورته وکړی، چي راسه؛ په دکان کي چای را سره و څښه...
شېرخان د ده په مدعا پوه وو، ځکه يې انکار ورته وکړی، نقيب د ده له کسته ظاهرشاه خپل دکان ته د چای څښلو لپاره بوتلی...
نوکر و ګوره؛ دومره نخرې. په ځان غره دی، چي دومره ښايسته يم. نن سبا چي جېب خالي وي، والله که يې څوک د خاورو له نرخه هم و پوښتي...
نقيب خانه! شېرخان مغروره نه دی، په خپل کار کي مخلص دی، چي ګيراکان ولاړ وي، هغه بيا ماته هم توجه نه راکوي...
نه؛ ظاهر لالا! يوه ورځ خو نه ده، ما څو ځله ست ورته کړی دی، خو دی دا زما ست ګردسره په باک هم نه راوړي...
خير... زه به خبره ورسره وکړم، چي آينده پام کوي...
هو! دا هم ورته و وايه، چي ټول مارکېټ په تا باندي خبر دی، چي نجوني څه لپاره پر تا را کوږه وي...

..................................

(c) ketabton.com: The Digital Library


زویه! د کوم ځای یې، واده یا کوزده دې کړې ده او که...؟
موري! سودا را ښایه، دا خبرې به بیا بل وخت ګورو...
بل وخت څه معنا؟ یوه پوښتنه وه، و مې کړه، د هغې جواب راکړه...
نه موري! تر اوسه لا په دې جنجال کې نه یم را ګېر سوی...
وی؛ ولې جنجال دی، د بختور سړي به کور ودانېږي...
ته صحیح وایې، موري!
زما دوې درې ښایسته لوڼې سته، چې هره یوه دې خوښه وي؛ هغه به در کړم...
موري! د قسمت فیصلې پور ته کېږي..
قسمت یې په کونه پوري مه ورتړه... ته نو څه نخرې کوې. درې سره لس لس جماته پاس دي، ښې ښایستې دي، زړه مې درته غواړي، چې ستا غوندې ښیاسته زوم و لرم...
د دکان مالک ظاهر شاه په خبنم سره شېرخان د ځان خواته ور و بالی او ورته و یې ویل، چې ځان درباندې تاوانوي او که لوڼې..؟
را دې خوا ته سه، دا نورې ګیراکانې درته ولاړې دي... ما ور پرېږده، د دې سودا زه ور پوره کولای سم او سمدلاسه د هغې خوا ته ور تېر سو او لږ په نرمه لهجه یې پوښتنه ځنې و کړه...
ادې وایه! څه دې په کار دي..؟
ادې به دې مور وي... وی، زه خو لا اوس ځوانه یم...
پنډې ښځې له برقعې څخه مخ "چې لږ ساعت مخکې پټ وو" ظاهر شاه ته ور ښکاره کړی... پنډ شونډان یې په تکه سره سرخي سره کړي ورته و مسېدله.
سمه ده خوري؛ راته و وایه! څه دې په کار دي...؟
ما د خپلو لوڼو لپاره هغه ځوان ته شیان ور ښوولي دي... زه به بله ورځ له لوڼو سره راسم، هغوی به پخپله شیان خوښ کړي او زه به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان لپاره نور شیان له دې مخامخ دکان څخه واخلم، هغه دکان لتاسو څخه ډک او غټ دی. پنډه ښځه په خښم نامراده له سینګار هټۍ څخه را و وتله او مخامخ د نقیب الله دکان لره ورغله، چې هلته نقیب الله مخکې لا په خښم ناست وو.

ستا رویه هم د هغو بې مخو رنګه سپکه ده، که ته و ښځو ته عزت ورکوې؟ پنډې ښځې له راتګ سره سم نقیب الله ته په پوښتلو و ویل...

نه، نه! زه خو پخپله ښځو ته مات یم...

مات یې که ښځې ماتوې...؟

ښځې په بې ساختګي سره و ویل.

زه دې په مطلب پوه نه سوم...

نقیب الله لږ شکي غوندې سو.

په مطلب به دې پوه کړم، ته لږ اوبه راکړه، حلق مې وچ دی او ساه مې بندیږي.

نقیب الله ژر له کولره څخه ګلاس د اوبو ور ډک کړی او کرسۍ یې ورمخته کړه. ښځې اوبه و څښلې، چادرې یې له مخه ایسته کړله.

شا او خوا یې دکان تر نظر ویوست او بیا یې د شېرخان لورې ته و کتل،...

نقیب الله ته یې و ویل:

دا ټرو په څومره نخرو کې دی...؟

څوک؛ څوک ښایې...؟

نقیب په حیراني سره پوښتنه ځنې وکړله...

هغه نه دی، په مخامخ دکان کې غوږ سترګی ګونګرو وېښتانو والا...

ښه، ښه! هغه؛ شېرخان ښایې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقيب الله په طنزيه انداز ورته و ويل او دا جملي يې ورپسې زياته کړه.

دا خو دومره مکرجن دی، چي حد يې نسته، تاته خو به يې څه نه وي ويلي...

نه، نه! ماته د چا پلار هم څه نه سي ويلای.

ښځه نوره هم په خبنم سوه.

نو ولي دومره سره او شنه کېږې؟

نقيب په تجسس سره و پوښتله.

ما د لوڼو د ورکولو خبره ورته وکړه او ده زما خبره په باک هم نه راوړله.

نو که ستا خوښه وي، ستا لوڼي به زه...

د نقيب تر خوله په ناپامي سره دا جمله و وتله...

يووو... ته خو لوی سړی معلومېږې.. تاته خپلي نازکي لوڼي څنګه درکړم او.. هو! تا خو به واده هم کړی وي...؟

واده، هو؛ يو ګزاره واده لرم.

نقيب الله د بېزارۍ اظهار وکړی.

نو ولي؛ له واده څخه مطمين نه يې که؟

ښځي په لوی زړه ورته و ويل.

که مطمين وای، نو به ولي په بل پسې...

خبره پوره وکړه، شرمېږې ولي؟

ښځي زړه ورکړی..

نه شرمېږم نه؛ بس دا راته و وايه، ته مي په څه ښه راتلای سې...؟

وی؛ ستا بلا واخلم، اوس دي زما د زړه خبره وکړه...

پنډي په لومړي ځل غاښونه ښکاره کړل او په کرسۍ کي خلاصه سره کښېنستله، وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دکان له ښو شیانو ډک دی، ته زما ښه کوه، زه به ستا...
خو دا به په څه حساب وي...؟
نقیب د دکاندار انداز خپل کړی.
اوف خدایه! یو خو دا نارینه د پیسو تر کونه نه تېرېږي.
ښځې لږ په خښم سره د نارینوو په اړه د خپل زړه خبره وکړه...
ګوره! دا شیان ډېر ګران او له بهر ملکو څخه راغلي دي.
نقیب په نخرو سره و ویل...
موږ هم د خیرو اکا له کلي نه یو راغلي، خوار کیه؛ ستا غوندي اوس هم په ځان پسې ډېر لېوني لرو...
زما په خیال تا خوابده کړه، که څنګه؟
نقیب بیر ته لهجه سمه کړله...
داسي په پسته او خوږه ژبه راته ګاپېږه، چي زړه مي خوشحاله سي.
ښځې په لوی زړه ورته و ویل...
ستا خو زړه خوشحاله سو، اوس به زما د زړه د خوشحالۍ لپاره څه کوې؟
د نر زړه نو په څه خوشحالېږي، لمبر راکړه، چي څوک نه وي، ژنګ به درته را وهم...

..............................

شېرخان د زیات تکلیف له کبله ماځیګر لږ وختي له دکان څخه رخصت واخست او کور ته روان سو، کور ته له را رسېدلو سره سم په بستره کي را واووښتی، سره تبه یې وه، په بستره کي سره کېېدی، مور دوه نور تلتکان پر واچول، ګولۍ یې تیري کړلې. ماخستن ناوخته یې په متیازو کي لږ وینه و بهېدله، نو لږ په ارام سو، جامې یې بدلي کړلې او له موره سره پر څونۍ په مجلس سر سو...

(c) ketab.com: The Digital Library



زویه! اختر را روان دی، د دوو ودسوو خوېندو اختران، د هغو د ماشومانو او ستا د اخشیانو کالي هم اخستل غواړي...

موري! زه چې څه ګټم؛ هغه تالره راوړم...

هو؛ زویه! خدای دي هر چاته ستا غوندي نېک او صالح اولاد ورکړي، خو زویه څه وکړم... پلار دي تر وخت له مخه د خدای په کار سو، بل نارینه اولاد زه نه لرم، دوې لوڼې مي په خپل خپل نصیب پسې کړې، پر آخري خور دي هم مرکې ګرځي او بیا به زه او ته یوازي د ژوند سفر پر مخ بیایو.. بس زویه! لږ بچت غواړي، چي دا خور دي ښه درنه ولاړه کړو.

نه، نه؛ موري! فرزانه ژر نه و دوو، بیا به زه له چا سره جنګونه او خوله وهم.

تر ډوډۍ خوړلو وروسته شېرخان د کور د مېلمنو کوټې ته ولاړی او موبایل یې خلاص کړی، نو مه کوه، چي دومره مس کالونه، مېسیجان او د واټس اپ پیغامونه راغلي وو، چي د لږ ساعت لپاره لږ پرېشانه غوندي سو، خو بیا یې د یوه یوه پیغام ویل پیل کړل او لږ سوچ به یې پر کاوی...

یوې فېن داسي ورته لیکلي وو:

ماځیګر چي دکان ته درغلم، ستا غیر موجودګۍ هغه نشه پیکه کړې وه، چي ستا په لیدلو به یې زه په ځان اخته کولم. یقین وکړه؛ بې نشې ستا له میخانې را و وتم... خدای دي ستا په لیدلو ما همېش مدهوشه ساتي...

بلي د خپل زړه خروښ داسي کم کړی وو:

ته دومره چهټیاني ولي کوې، ستا په دیدن خو زموږ خوږ زړونه رغېږي، ته تر خپلي ناروغي تېرېږه، خو په خپله موجودګي زموږ زړونو ته سرور او غرور را بخښه...

(c) ketabton.com: The Digital Library


يوې چټې پيغلې بيا داسې جرات کړی وو...:
اوف! ستا د لاسونو لمس چې محسوس نه کړم، يقين وکړه، دوې شپې مې خوب حرام وي، د خدای لپاره مې د تل لپاره ځان ته نژدې کړه، چې په ابدي خوب درسره ويده سم...
بلې هم لږ په احتياط ورته داسې پيغام را استولی وو...
منم؛ ستا به مجبوري وي، خو د نورو و مجبوريو ته هم لږ پام کوه.
کېدای سي؛ ستا د ميني يو نظر زموږ ټولې مجبورياني ختمې کړي...
په ګڼ شمېر را لېږل سوو پيغامونو کې شېرخان ته د سليم ناښاد دې شعر ډېر خوند ورکړی، چې يوې پېغلې را لېږلی وو.
آشنا يوه جلوه چير ته د مخ دي را ښکاره کړه
مين به دي تر کومه تصويرونه ښکلوي
شېرخان دې ليکلي پيغام هم ډېر وځوراوی، چې:
ټوله ورځ ستا د ليدلو په ارمان را باندې تېره سوه، يو ساعت مې ستا د نظر را اړولو په نيت پر ځان خواري يووړه، ورور مې په څه خواري رضا کړی، چې د سبا د پارټۍ لپاره ضروري شيان اخلم، خو چې دکان ته درغلم، نو لکه د ژوند جواري چې و بايلم...
يوې خو تر دې آنده ليکلي وو، چې:
ستا د زړه درمانه سم، تا به زه خبرولم، ما به ټوله شپه ستا پر زخمو مرهم در اېښوولای، زه د دنيا د خبرو پروا هم نه ساتم...
يوې ناداني ليکلي وو، چې:
زه خو دې والله که بې واده پر پرېږدم...
يوې زړه سواندې پېغلې داسې د زړه مينه په پيغام کې ښکاره کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا ښکلې ځواني دې دکان و خوړله. ته زما ملګری سه. زه به و تاته دومره لوړه سرکاري نوکري در پیدا کړم. چې ستا له شان سره به سمون خوري.

دې پیغام شېرخان په سوچونو اخته کړی... لویه سرکاري نوکري. زما شان...

تر ډېره یې فیصله نه سوای کولای. خو چې لږ په ارام سو. نو زړه ورته و ویل. چې ته خو صرف ایف اې پاس یې او په دې ډګري خو تاته صرف د کلرک نوکري رسېدلای سي. د کلرک نو څه ژوند دی. د بل غلام وي. زه خو د خپل زړه باچا یم. د دکان مالک را باندي مهربانه دی. د ټول دکان واک او اختیار یې زما په لاس کي دی. هر وخت چې پر ما مصیبت راسي. نو کومک راسره کوي. پر تګ راتګ هم څه بندیز نسته او ښې ښې مشورې هم راکوي او بیا یې لږ په شرم د خانه سره دا خبره هم یاده کړه. چې بچه بازه هم نه دی. لکه د هغو نورو دوو مالکانو چې په سپینه ورځ به..

شېرخان اوس د خان په هکله په یوه نتیجه رسېدلی وو. چې سرکاري نوکري نه کوم. البت دې پیغامونو د ده د زړه دنیا لړزولې وه. ولې دی هم آخر ځوان وو. د دومره ښکلو پېغلو او معتبرو کورنیو د نجونو پیغامونه هر ځوان په رنځ اخته کوي او دا لا هم چې نرګسیت هم د هر چا په رګو کي ځای نیولی مورچه بند وي. صرف د موقعې په تلاش او لټون وي. اوس څنګه د دې اظهار کوي. ځکه دی د ځانه سره په سوچو سو. خو شېرخان تر ضرورت زیات احتیاط کوونکی وو او سوب یې دا وو. چې مخ او شاته یې ځوک نه درلودل. نو ځکه یې نه غوښتل. چې په داسي عذاب کي را ګیر سي، چې په هغه کي د ده ژوند ته تاوان ور ورسېږي. ځکه چې ټولنه لا په دې اړه دومره وسیع النظره نه ده، تنګ نظری د وګړو په رګ رګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ريښې کړلې دي. شېرخان هم د خپل اظهار کولو لپاره په لټون سو او د نيت لاره يې خوښه کړه، چې له دې لارې خپله لانجه هواره کړي.
تر ډېر زيار وروسته دی پر يوه وړوکي مضمون پېښ سو، چې په ډېر غور يې ولوستی...
سېګمنډ فرايډ ويلي وو: هغه جذبات چې اظهار يې و نه سي؛ کله هم نه مري، هغه ژوندي ښخېږي او تر هغه وروسته بيا په ډېره بده بڼه ځان را ښکاره کوي...
تاسو د غالب، مير، داغ، جګر، جون، پروين، وصي او نورو د اردو ژبې د شاعرانو کتابونه ولولی، چې زياتره برخه يې د وصل او هجر و فراق نه ويونکو جذباتو، حسرتونو او د پښېمانۍ په موضوعاتو ډکه وي. تاسو دې تجزيې ته لږ ځير سی، چې په نړۍ کې پاکستان په هغو څو هېوادونو کې شامل دی، چېري چې د جنسي او فحش وېب پاڼو د کتلو شرحه ډېره زياته وي. تاسو که له کراچې څخه تر خيبر او چمنه پوري سفر وکړی، ښځه که چېري په چادري کې پټه هم وي، خو زموږ وږي سترګې به بيا هم ورپسې په لټون وي، تر هغو پوري چې له سترګو مې نه وي پناه سوې. که چېري کله يو ځای څوک په لڅ مخ را ښکاره هم سي، نو بيا داسي ښکاري، لکه دې چې خپل عزت په لاس کې را اخستی وي. که چېري د دوو کسانو خبري تاسو واوری، نو په هره دويمه او دريمه جمله کې به يې د خور او مور له جنسي اعضاوو څخه ډکې ښکنځلې وي. تاسو د مذهبي وګړو او ملايانو بيانونه واوری، په هغو کې به د دواويا (۷۲) حورو او غلمانو د نشيب او فراز او حسن او رعنايانو ذکر په پرېمانه توګه وي او خپله جنسي تنده به پرې ماتوي. تاسو زموږ فلمونه و ګوری، ډرامې، ناول، ډايجسټ... دا ټول د مينې، محبت او عشق داستانونه او له داسي



2021.01.20 21:55

(c) kelaton.com: The Digital Library



کیسو څخه ډک وي. هره ورځ زموږ هر اخبار له دې خبرو ډک وي، چې فلاني له فلانې سره جنسي تېرى وکړى، ځوان هلک او ماشومه نجلۍ د بل د هوس ښکار سول، لېور په ورېنداره تور سو، ماشومان څه چې په قبر کي مو مړې لا هم اوس د جنسي تېري څخه خلاص نه دي. ځينې خودغرض طبيبان او کمپوډران خو بې هوښه مريضان هم د خپل هوس پوره کولو وسيله جوړوي. دلته په دې ملک کي به تاسو و نه وينى، چې يوه ساينسي ډاکومېنټري پر مريخ يا سپوږمۍ باندي ژوند يا به د نوي روبوټس د کارنامو ذکر وي. دلته به هيڅ څوک پيدا نه کړې، چې د رسل، نطشې، آين سټاين يا کوم بل فلسفي موضوع درسره و څېړي. موږ خو پر انډين فلمونو باندي د فحاشۍ په تور بنديز لګولى دى، لاکن زموږ د سټېج په ډرامو کي له مجرو او فحاشۍ علاوه نور څه سته. موږ د پېړيو تر غور او فکر وروسته داسي مثالي ټولنه جوړه کړې ده، چېري چي د يوه واده لپاره د ځوان د تعليمي اسنادو امبار ښه غټه نوکري، کور، ګاډۍ او بېنک بېلنس کتل کېږي او دا تر څه آنده هغه وخت سر ته رسېږي، چې يو ځوان د خپلي ځوانۍ و آخري بريد ته رسېدلى وي او بيا د واده سوچ وکړي. يعني د ده نيمايي ژوند په تنهايي او مجرده توګه تېر سي، پر نجونو باندي د جهيز بوج د بيان وړ نه دى، خو دا يو حقيقت دى، چې جنسي تسکين يو بنيادي انساني ضرورت دى او تر څو چې دغه بنيادي اړتيا پوره سوې نه وي، انسان په نورو تخليقي کارونو باندي توجه نه سي ورکولای. موږ ولي د دې حقيقت منلو ته زړه نه ښه کوو او موږ به تر څو د نيوټن، بل ګېټس او البيروني پر ځای شاعر، مجنون، ادم خان، رانجها او غمزده نسلونه پيدا کوو. موږ به تر څو د ژوند په څلورو ورځو کي دوې په آرزو او تمنا او نوري دوې ورځي په انتظار تېرولو ځوانان مجبوره کوو. د نړۍ کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساينس او نفسيات به دغه ټولنه تندرسته ګڼي، موږ و چاته د دهوکې ور کولو هڅه کوو او له چا سره د درواغو ويلو کوشش کوو... دا څنګه د ژوند نظام دی، چې د بنيادي انساني اړتياوو پر اظهار او پوره کولو باندي بنديز وي. کله چې د حقيقت بيان کولو ټولي لاري بندي سي، خو بيا هم هر هغه څه کېږي، چې په ټولنه کي وجود لري، لاکن دا هر څه د منافقت په پرده کي کېږي او هر کس د فرشته صفت جوړېدلو دعوې دار وي. خو حال دا چې په خوردبين کي د کتلو باوجود يو صفا انسان هم نه سي پيدا کېدلای... موږ بايد دا حقيقت و منو، چې له منافقته جوړي ټولني له بل چا سره نه بلکې د خپل ځان سره د دروغو کارونه کوي او تاوان هم خپله سهي. منټو پخوا لا ويلي وو، چې موږ د داسي ټولني وګړي يو، چې د خپلو خواهشاتو ښخول راته لوی ثواب ښکاره کېږي. ځکه فرايډ ويلي وو، هغه جذبات چې اظهار يې و نه سي؛ کله هم نه مري؛ بلکې ژوندي ښخېږي او وروسته بيا په ډېره بده بڼه کي سر را پورته کوي...

همدې مضمون شېرخان له ځانه سره بلي نړۍ ته رسولی وو.

..................................

نن سهار شېرخان ته ځان بيداره و ايسېدی، وختي تيار سو، چې د پرون د وختي راتګ تلافي هم وکړي. د خپل يوه فېن د لاس جوړه کړې کندهاري غاړه يې په غاړه کړه، په خړو جامو کي چې بهر را و واتی، نو مور يې د دواړو لاسونو و نوکانو ته و کتل، بيا يې خپل لاسونه مچ کړل، زوی يې پر ملا و ټکاوی او نصيحت يې ورته وکړی، چې لږ په خيال ورځ تېره کړي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېرخان ورته و ویل، چې نن ویک انډ دی، نیمه ورځ کار دی، موږ ملګرو بیا د اوړک پروګرام جوړ کړی دی، ماخستن ناوخته راځو... ورځ شېرخان په ډېره بوختیا تېره کړه، د پرون حساب او کتاب برابرول، سمدلاسه د ګیراکانو داسي شلیک جوړ سو، چې د ختمېدلو نوم یې نه اخستی... بنایي؛ اختر را روان وو، نو ځکه هر یوه هڅه کوله، چې ژر تر ژره د اختر شیان پوره کړي. د څنګ دکاندار نقیب الله هم نن د شېرخان پوښتني ته راغلی... ماپښین قضا د شېرخان ملګری داود سره د درې نورو ملګرو را و رسېدل. هغو غټې لېنډ کروزر د مارکیټ و مخته و دراوی، شېرخان ورغلی، صلاح او مشوره یې سره وکړه او بیا هر ملګري خپل خپل ورکړی کار په مخه کړی... په دې وخت کي د کالج د پنځو نجونو یوه ډله د سینګار هټۍ ته را ننوتله، چې په دوی کي د یوې له شېرخان سره مخکي هم شناخت وو او غوښتل یې، چې له شېرخان سره د خپلو خوندکیانو پېژندګلوي هم وکړي، خو چې د شېرخان و تازیله ته یې و کتل. نو پښه نیولې سوه، ټولي بهر و درېدلې او له شېرخان سره یې د خبرو لاره جوړوله. خو شېرخان او ملګرو یې د پکنک سامانونه راوړل او په موټر کي یې ایښوول، په دوی کي یو ځوان په ګاډۍ کي ناست او په پرله پسې ډول یې نجونو ته په ځیر ځیر کتل، لاکن د نجونو تر سترګو نیهام وو...

پای چي د شېرخان او ملګرو کار او مجلس اوږد سو او له دوی سره د خبرو کولو موقع نه وه، نو په نجونو کي یوې خپلې خوندکۍ ته و ویل:

اړې کلثوم! دا هلکان نه دي...

کوم هلکان...؟

دا چي سره ولاړ دي یا نور چي هر څوک وي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو! نو څه خبره ده...؟

دوی چې په خپلو کې سره و درېږي. نو څه سره وايي...؟

يوووا ړې! ته په دې لا نه يې خبره...؟

نه: والله که په خبره يم.

ته خو ډېره نادانه يې.

هر څه چې يم. خو ته يې را و ښايه.

اړې! دوی هغه مجلس سره کوي. چې موږ نجوني يې هم په خپل اپس کې سره کوو..

رښتيا...؟

هو: والله چې..

وی خدايه! دا هلکوان بيا څه رنګه بې شرمه دي..

.........................................

په لاره کې داود چې د ښار د يوه ډېر لوی تاجر زوی وو. د خپلو ملګرو تعارف له شېرخان سره وکړی. چې په دوی کې يو د صحت محکمې د سېکرټري زوی وو. بل د پوليس د ايس ايس پي ورور او دريم د خوراک د څانګې د صوبايي وزير وراره وو... دا سرکاري لېنډ کروزر هم د وزير وراره را روان کړی وو...

څلورو واړو ځوانانو ځان و شېرخان ته نژدې نژدې کاوی او د خپلې دوستۍ باور يې په وار وار ورکاوی... د اوړک په يوه ښه باغ کې د ويالې پر غاړه دوی لږ ګوښه کښېنستلو، هر يوه مجلس ته خوله جوړوله، لاکن د اظهار جرات په چا کې نه وو، کله سپورټس، کله سياست، کله تجارت او کله د ښار د ژوند په هکله دوی سره و ګاېډل، خو د ښهرو او رويو څخه يې دا معلومېدله، چې د دوی هدف بل څه دی، خو د اظهار لاره يې نه سوای موندلای... دوی چې په کله هم خبره سره را نژدې کړه، نو شېرخان به مجلس بلې خوا ته



2021.01.20 21:56

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړاوی... څه ساعت وروسته د پولیس د ایس ایس پي ورور چې د ترخو اوبو په سحر کې را ګېر سو او خمار یې له یوه یوه اندام څخه را خوټکېدی، نو راغلی او شېرخان ته مخامخ کښېنستی، په ډاګه یې ورته و ویل، چې ستا د شناخت نو و موږ ته څه ګټه را رسېږي. داسي د شاپېریانو اتڼ درباندي جوړ وي، موږ هم په دغه شله کې درسره ګډ کړه..

شېرخان هک پک کښېنستی او ورته و یې ویل:

څه مطلب...؟

مطلب صفا دی، ستانو څه حیثیت دی، چې له موږه سره ناسته ولاړه وکړې. موږ ټوله د غټو خاندانو څخه یو، هر یو په تا باندي خرڅه کوي، لاکن ته کنجوس زموږ خیال نه ساتې...

څه رنګه خیال...؟

د سپکرټري زوی را مخته سو او ورته و یې ویل:

په اصل کې موږ ټوله ځوانان یو، خبره پټه نه ده په کار، تا لره هر وخت نجوني راځي، یوه ډله راضي کړه، چې له موږ سره پکنک ته کله راسي...

پکنک او نجوني...؟

ولي؛ نجوني نو پکنک نه جوړوي...

جوړوي یې، خو هغوی د خپل خاندان یا د خپلو کلاس فېلوز نجونو سره.

که له موږ سره یې جوړ کړي، نو څه بده خبره ده...؟

زموږ معاشره دوی ته اجازه نه ورکوي، چې هغه دي له هلکوانو سره ګډه مېله وکړي..

زه به په ایم پي اې هاسټل کې جلا کمرې ورته و نیسم، د صوبایي وزیر وراره غاړي تازه کړلې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو؛ په خدای... ګروپ سیکس بیا بل خوند کوي، خماري ځوان په بې باکه توګه و ویل...
داود خانه! ستا دوستان لېوني دي، که زه غلط یم..
شېرخان په رپېدلو شونډانو و ویل...
ګوره شېرخانه! موږ ماشومان نه یو، موږ په هر څه پوهېږو... ته ښکلی ځوان یې او پخپله خو په دوی باندي موړ یې... موږ وایو، چي کله خواپیټه سې، نو بیا پر موږ هم ږغ کوه...

........................................

تر ماخستنه پوري د شېرخان په مغزو کي د ګروپ سیکس خبره پرله اووښتله را اووښتله... ښایي؛ دی له دې توري سره نابلده وو، ځکه یې ماخستن په موبایل کي په دې اړه پلټنه وکړه، آخر کار یې و مخته څو وېب پاڼې راغلې، چي دغه تماشه پکښې روانه وه. لومړی سر شېرخان هم ځوان وو او دا تماشې یې په خوند خوند و کتلې، د انګرېزانو سره او سپین لڅ بدنونه... د هغو د ځوانانو او پېغلو هوس، لېونتوب، چیغې، زورونه، نذرانې او تماشې خو شېخان هم له شېخۍ و باسي، خو شېرخان ډېر ژر دا وېب پاڼې د خپلي ناروغۍ د بیرته را پورته کېدلو له وهمه بندې کړې. دویم ده ته دا تماشې په دې هم بدې و ایسېدلې، چي په دې کي د انسانیت توهین ډېر وو، حیوانیت پر غالب وو، خو دی ښایي؛ ځوان وو او د دې تماشو د ګټو او تاوان معلومولو په لټه سو، د ده ذهن تر ډېره پوري دې منلو ته تیار نه وو، چي زموږ ټولنه دي دا ډول تماشې و زغمي، ځکه د دې ټولني آداب لا دومره ټیټ هم نه دي، چي ...



2021.01.20 21:57

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېرخان چې به هر وخت په يوه لانجه يا کشاله کې را ګير سو، نو د ده د زړه درمان او سوچه دوست واجد ته به يې حال ورکړی او د ده رايه به يې و پوښتله...

واجد پر مخ ګرځېدلی ځوان، سکالر او د پوهنتون لوستونکی وو، پر هره خبره به يې سوچ کاوی، نن چې شېرخان د دې لانجې په اړه پوښتنه ورڅخه وکړه، نو ده ژر د سعودي عرب هغه ويډيو ور واټس اپ کړه، چې په هغه کې اووه ځوانان يوه پېغله نجلۍ په ګډه رېپ کوي او تر هغه وروسته يې قتل کوي او سعودي سرکار و دې اووه سره مجرمانو ته د سر پرېکېدو سزا ورکړې وي. دا اووه سره ځوانان په يوه خلاص ميدان کې له يوې پنجرې څخه را و باسي، دواړه لاسونه يې د شا له خوا ورتړلي وي، ژړ کالي يې ور اغوستي وي، پر ګونډو يې کښېنوي، سر يې مخ ته لږ را کش کړي او د ښي لاس و خواته يې يو جلاد بېخي تېره او اوږده توره په لاس ولاړ وي، هر ځوان د مغزي له خوا په دومره زور په توره و وهي، چې په يوه او لومړي وار يې سر له تنه جلا و غورځي، د وينو فوارې روانېږي او دا هر ځوان بوخ کوني را واوړي او د مرګ شومه سي...

شېرخان درې مرګونه په مات زړه و کتل، د څلورم ښکلي ځوان و څېره ته چې يې وکتل، چې له وهمه يخې خولې پر را رواني وې او په روڼو سترګو يې د خپل مرګ اسباب ليدل، چې کله يې سر په ډېر زور لېرې و غورځېدی او سترګې يې خلاصې پاته سوې، نو د وينو له فوارو سره د شېرخان تر خوله سوې چيغه و وتله، چې د خدای پار دی، دا څنګه انسانيت دی...

د شېرخان مور يو دم له خوبه را و غورځېدله او شېرخان يې په خپله غېږ کې ټينګ و نيوی، چې له وهمه يې ټول بدن په کپ اخته وو.

........................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل بارانه! ته کله کله دکان له راځه، ساعت به مي در سره تېر وي، مخنۍ کیسې چي واورم، نو زړه مي باغ باغ سي...
نقیب جانه! موږ خو د خدای لغړیان یو، بیا به را څخه تنګ سې، ستا دا دومره غټ دوکان دی، ته خو به یو منټ هم و مجلس ته خلاص نه یې.
نه، نه؛ برخي ازلي دي، نه په زور نه په زاري دي... منم؛ دکان ډېر غټ دی او د ضرورت هر ایتم مو هم ور پوره کړی دی. لاکن دومره ګټه نه کوي...
ولې؟ د مارکېټ حالت ته چي ګورم، نو دومره رش خو بل یو ځای نه وي.
دغه خو د حیرانۍ خبره ده...
نقیب جانه! ګوره؛ ستا مخامخ دکان ته مي له ډېره وخته سودا بنده ده، چي څنګه یوه ډله را ووځي، بله ور ننوځي...
هو؛ د دې مالک ډېر بړوه ځوک دی، یو چوکره یې ساتلی دی، هغه لره دا ټول مخلوق ور روان دی...
نو ته ولي داسي ځوک نه ساتې...؟
دې دله لره ورسم، خو دومره مغروره دی، چي پر پوزه مچ لا نه پرېږدي...
زما په خیال هغه هم پېژندلی یې...
ګل باران له خندا شین سو او ورته و یې ویل:
کښېنه زویه! پخوانۍ خبري مه را یادوه، کنې ټول حال دي بیا و خلکو ته وایم.
په ما کي دي نو څه پرې ایښي وو، ستا د پیسو زور وو، که زه بدنامه کېږم، نو ته خو به هم راسره بدنامه کېږې...



2021.01.20 21:5

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبري پرېږده، دا راته و وايه، چي واده دي کړی دی او که يه؟
هو شکر دی، څلور بچيان لرم...
ګوزاره دي ښه ده...؟
ډېره ښه ده، خپل ټرک چلوم، پنجاب لره مالونه وړم...
اورېدلي مي دي، چي په پنجاب کي دا غټه دنده ښځي ډېره ده.
هو شکر دی؛ الحمد لله.
تاسو هم پکښې اباد ياست...؟
سبحان الله، خوله و نه خورې..
نو څېري وي؟
هر ځای چي ګاډی و درود، هلته لکه مچمچی په خپله پر را ټولي سي...
نو نيول خو به يې ګران کار نه وي..؟
نه وي، دلته اشاره، هلته کفاره او...
څه وايې.. څو قيمت غواړي؟
بس دوه درې سوه روپۍ...
دومره ارزانه...
نو څه کوې، د چين شاپېرۍ خو نه دي...
نو ښکلې وي...؟
د سنده تر لچيانو لږ خوندوري..
نو ما هم کله کله درسره بيايه..
ولي؛ دلته د سنده په لچيانو نه يې موړ سوی..؟
نه؛ هغه اوس خوند نه راکوي..
ولي؟
يو خو مي واده کړی دی او بل...
بل څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل نو دا چي په دې لچیانو کي اوس د اېډز، تور ژړي او نوري ډېري ناروغۍ ګډې دي، ځکه مي زړه نه ور ته غواړي...

نقیب جانه! خپل واده لرې، نو نوري څه کوې؟

بس یوه توره کیخه یې راته کښېنولې ده، والله که مي باړ په ماتېږي.

ګل بارانه زویه! تا خو هم واده کړی دی، نو ته ولي دا کار کوې؟

موږ خو په شپو شپو مسافر یو، سړی چي وږی وي، خروړی سي او خروړی بیا هر ځای خولې اچوي...

نقیب الله چي د شېرخان د دکان سینګار هټۍ ته مخامخ یې دکان وو، پنځه دېرش کلن، کوشنی قد، راوتلی نس، کوشنۍ بږیره، لږ ختلی سر په ډېر مشکل به یې له چا سره دوې خبري کولې، خو د مطلب لپاره به په هر چا پسې کېدی. لاکن حلیه او انداز یې په لومړي سر کي هر چا محسوساوی، چي د خپل مطلب لپاره لګیا دی... لاکن چي کله به یې د خپل سکول کلاس فېلو ګل باران و لیدی، نو دواړه به په مجلس کي دومره ډوب سو، چي بیا به یې د بل شي پروا نه کوله. دا وخت ګل باران له نقیب الله څخه وروستۍ پوښتنه داو کړه، چي:

دا هلک که چوکره دی، نو بیا خو یې په پیسو خطا ایستل ګران کار نه دی او ته خو په دې کار کي ډېر مهارت هم لرې، نو بیا دي ولي وار خطا دی.

همدغه خو مصیبت دی ګل بارانه! دی په هیڅ شي پر لار نه راځي.

..............................................

د شېرخان مور ډېره په عذاب وه، ساه یې لنډه لنډه کېدله، شېرخان د اېدهي امبولانس را و غوښتی، سول هسپتال ته یې و رسوله. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمرجنسي کې یې تر اکسیجن او نیبولایزر لګولو وروسته میډیکل وارډ ته شفټ کړله، ډاکټران پر را کوړه سو، تر پوښتلو او کتلو وروسته یې د ټیسټونو او ایکسرې امر ورته وکړی، مور یې تر اوسه لنډه لنډه ساه وهله، اکسیجن پرله پسې ور روان وو، پر تندي یې خولې را رواني وې، خوله یې وچه کلکه وه، په ناستي ناسته وه، ټوله شپه یې هم دغسي تېره کړې وه، نرسي سیرینج راوړی، چي وینه یې واستوي. شېرخان ته یې و ویل، چي لاس یې راته و نیسه. شېرخان د مور لستوڼی ور پورته کړی او رګونه یې ور بند کړل. د نرسي چي کله د شېرخان لاس ته پام سو، نو بالا یې په ځیر ور وکتل او پوښتني یې پیل کړې، چي دا ستا څه ده؟ ستا نوم څه دی؟ کور مو چېري دی؟ له کومه راهیسي ناجوړه ده؟ ته څه کار کوې...؟

شېرخان ته دا دومره پوښتنو خوند ور نه کړی، ولي مور یې په عذاب وه، خو نرسي ته د ده لاس خوند ورکړ، ګوتي یې ټینګکي ور نیولي وې، بیا به یې ورته و ویل، دلته لاس کښېږده، آخر یې خپل لاس د ده له لاس سره نژدې کړ او دغه نژدېکت دومره اوږد سو، چي د مور له لاسه څخه یې تر ضرورت زیاته وینه را توی سوه...

شېرخان چي په ډېر مشکل سره په خښم کېدی، یو دم یې خپل لاس را پورته کړی او د مور وینه یې بنده کړه. نرسي ته غصه سو... نرسي په ځواب کي ورته و ویل، چي تا لاس کوږ راته نیولی وو..

.........................................

.............................................

شېرخان تر ښه ساعت وروسته له معایناتو سره وارډ ته را و رسیدی، پر کاونټر یې ډاکټر ته معاینات ور ښکاره کړل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر ورته و ویل، چې د سالنډۍ (Asthama) معمولي حمله ورباندې سوې ده، اوس یې طبیعت ښه دی، چې دا ډرپ ختم سي، نو کور ته یې بوځه. زه پرچې درلیکم، دوایاني به ور واخلې...
شېرخان د مور لوري ته راغلی، چې اوس ډېره ښه سوې وه، لږ ساعت وروسته نرسه راغله، د دوایانو پرچې یې راوړله او په ډېر تپاک سره یې شېرخان ته ور و ښووله. شېرخان چې د مور په مینه کې له آره ډوب وو او پرچې ته یې په ډېر ځیر ځیر کتلو، ځکه یې و نرسي ته خاص پام نه وو، خو د مور سترګې یې د نرسي په حرکاتو کې ښخې وې، چې یو وار به یې لاسونه د شېرخان له لاسونو سره و مښلول، بیا به یې ځان ور نژدې کړ او بیا به یې سترګې پکښې ښخې کړې. هڅه یې کوله، چې له خبري خبره جوړه سي او مجلس اوږد سي... څو واره د نورو ناروغانو خپلوان ورته راغلل، چې ډرپ ختم سو، دغه دی ستن مي راوړله؛ دا ور ولګوه، ناروغه مي باکې وهي، خو دې بل هیڅ چا ته هم پام او توجه نه کوله، اوس خو یې شېرخان ته دا هم و ویل، چې هر کله دې مور ناروغه سي، سیخ یې زموږ وارډ لره راوله، که زه چېرې نه وم، زما د موبایل نمبر واخله او ماته فون را کوه، زه به ژر تر ژره ځان را و رسوم... اوهو؛ ښه وایې، زه ماښام فون درته کوم، چې د مور حال دې معلوم کړم...
شېرخان یوې خوا ته د دې مینه ناکه رویه لیدله او بلې خوا ته یې د دې له حسرته ډکې سترګې په زړه کې ښخې سوې او د دې په مدعا پوه سو، خو ده د مور د علاج لپاره هر څه زغمل، ځکه نرسې ته په جار جار ګایېدی... نرسه به نوره هم درېدلې وای، که چېرې کنسلټنټ ډاکټر دې ته بږغ نه وای ورکړی.
شېرخان چې له دې وزګار سو، نو راغلی؛ د مور پوښتنه یې وکړه، مور ورته و ویل، چې زه خو ښه یم، خو دا نجلۍ په تا پسې ډېره اټاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، ستا په باب یې دومره پوښتني راځخه وکړې، چي له ما څخه یې
خپله بیماري هېره کړه... لاکن یوه خبره ده، چي زما یې ډېر
خدمت وکړی...

موري که وخت راغلی، د دې د خدمت صله به ور کړم...

زویه! دا صله نه غواړي...

چي صله نه غواړي، نو څه غواړي...

دا له ما څخه تا غواړي..؟

زه او غوښتل..؟

هو، هو! دې زړه پر تا بایللی دی او دا دي د ځان کول غواړي...

خو موري! ته...

مور یې په دې خبره لږ په سوچو کي سوه، دواړو یو بل ته سره و کتل
او لږ ساعت وروسته یې د مور تر سترګو دوې روڼې اوښکي را توی
سوې...

.......................................

ماخستن ناوخته د شېر خان موبایل و ګرنجېدی...

زه سټاف پروین خبره کوم، ستا د مور حالت څنګه دی...؟

ډېر ښه دی، ستاسو له کومک څخه یو جهان مننه...

نه؛ هیڅ خبره نه ده، دا خو زموږ فرض دی.

تاسو دي خدای هر وخت د حاجت مندو لپاره ژوندي لري...

امین، ثم آمین...

وایه؛ سټاف پروین، له تا سره څه کومک کولای سم...؟

کومک نه غواړم.

نور څه کولای سم.

بې کومکه هم هر څه کېدلای سي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه پوه نه سوم...
پوهېدل وخت غواړي...
څنګه وخت...؟
داسي څو لمحې چي زه او ته یې دواړه یوازي یو ځای سره تیري کړو او...
پروین! زه ټوله ورځ په دوکان کي تېروم او د شپې کور ته راځم...
زما لپاره ته څو لمحې وزګار پېدلای نه سې...؟
نه؛ داسي نه ده، زه ... زه به کوشش وکړم، خو ته ما لږ پوه کړه، چي زه تا ته په څه ښه درتللای سم...
زه ستا د وجود سایه جوړېدل غواړم...
سایه... وجود... زه پوه نه سوم...
اصل کي زه دلته له کوره لېري ژوند کوم، یوازي ژوند د یوې پېغلي لپاره دلته ډېر ګران وي، چي ته زما د ژوند ملګرې سې، نو د دواړو ژوند به پر کراره سي...
د دواړو ژوند به پر کراره سي، څه مطلب؟
زه خو ډېر پر کراره ژوند تیروم.
نه شېرخانه! د ځوان ژوند تر هغو نه سي پر کراره کېدلای، چي د ژوند ملګرې و نه لري...
خو ما په دې اړه تر اوسه سوچ هم نه دی کړی...
هو؛ کله کله بې سوچه او بې فکره هم اچانک د ژوند فیصلې د ژوند یادګاري لمحې پاتېدلای سي...
هغه څنګه...؟
هر کله چي یو انسان پخپله یوه فیصله وکړي، نو بیا هغې ته هر رنګه جامې پخپله ور اغوستلای سي...
ستا خبري زما تر سوچ لږ لوړي دي...



2021.01.20 21:58

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته که له ما سره څو لمحې نژدې پاته سې، نو زه به دي د ژوند په راز او خوند باندي پوه کړم.

..........................................

شېرخان تر ډېره په سوچو کي غرق وو، پرېکړه يې نه سوای کولای، يوې خوا ته د مور ناروغي او بلي خوا ته کومک کوونکې نرسه.. د هغې جذبات، فلسفيانه خبري... د پېغلي وجود، د هغې ناکراره ژوند، له نورو خلکو څخه وېره، د ژوند د ملګري يا خاوند په ملتياله نورو زلخوړو څخه د ځان او عزت ساتنه، بلي خوا ته د شېرخان کورنی ژوند، ځواني، د ده خپله دنيا، په هغه کي پټ رازونه، ځکه ده نه سوای کولای، چي زه پخپله يوه پرېکړه څه رنګه پر خپل سر کولای سم... ځکه يې خپل خواږه دوست واجد ته فون وکړی...
واجد به ماخستن مهال په ډېر دقت د چا فون اخستی، چي دا وخت به هغه اکثر د کتابونو په نړۍ کي ډوب د خپل فکري او ذهني خوراک تومنه به يې را ټولوله... لږ ساعت پس يې پخپله شېرخان ته ژنګ را و واهه...
وايه؛ شېرخانه! ورځ دي څنګه تېره سوه، بيا په څه لانجه کي را ګير يې؟
را ګېر نه يم، را ګېر يې کړم...
بيا چا دانه در واچوله...؟
بس واجد جانه! ته پوهېږې، چي له هري خوا دامونه دي...
و وايه؛ دا بيا کوم دام دی، چي په نيمه شپه يې داسي بې کراره کړی يې؟
هغې خو نه يم بې کراره کړی، د هغې فلسفيانه خبرو کړولی يم.
فلسفه او ښځه...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو؛ هغه وايي، که څوک پخپله ټينګه پرېکړه له ځانه سره وکړي، نو بيا هغه په سر رسولای او عملي کولای سي...
دا خو يې اسانه خبره کړې ده..
څنګه اسانه؟ موږ خو هره ورځ له ځانه سره سوچونه وهو، منصوبې جوړوو، غوښتني لرو، خو په ډېر مشکل سره سوا سېر لا نه سي جوړېدلای..
شېرخانه لږ په ځير راته غوږ سه..
شېرخان هم دواړي غځېدلي پښې سره را ټولي کړې، قلم يې را نژدې کړی او کاغذ په لاس د واجد فون ته په توجه کښېنستی...
"دا خبري د مېټا فزکس (Meta Physics) "چي د فلسفې يو شاخ دی" کي سره را غونډې دي، دغه علم دا وايي، چي د انسان په داخل کي دوه شيان په يوه وخت کي وجود لري "نفس او روح" او دواړه هر وخت خپل خپل افعال تر سره کوي او د دې دواړو له لاري مثبت او منفي سوچونه او کارونه هم روان وي، د دې واک له انسانه سره پخپله وي، چي هغه مثبت ته زياته پاملرنه کوي او که منفي ته. د انسان دننه د ده خپل ضمير هر وخت بيدار وي او که دی پخپله د يو شي تحليل وکړي، هغه د ځان او جهان لپاره فايده مند وګڼي، نو دی يوې پايلي ته رسېږي او د هغه د حاصلولو او عملي کولو لپاره بيا اسباب لټوي. هغه اسباب چي د ده په واک او چاپېريال کي لار ورته جوړېدای سي. که انسان پخپله په خپله فيصله کي واکمن وي، د هغه په خوبيانو او خاميانو خبر وي، نو بيا هغه د نتايجو هيڅ پروا نه ساتي، د هغه شي د حاصلولو لپاره هر څه قربانوي، البت د وخت سوال ډېر مهم دی، که چېري اسباب لاري کوڅې او منډې ترنډې ګړندۍ وي، نو نتيجې هم پر خپل وخت حاصلېدلای سي، په دې اړه د کوټې د ډاکټر شعيب احمد د پي ايچ ډي مقاله



2021.01.20 21:58

(c) ketabton.com: The Digital Library



(When You Believe Then You See It) چې د مېټافزکس مضمون له لارې تر سره سوله؛ هم د ویلو احتیاج لري. هغه وایي، چې کله ستا یقین سو، نو بیا ته هغه شی لیدلای سې او هم دا هغه ستا دننه (Inner) یقین او فیصله ده، چې ته یې تر ډېر غور او فکر وروسته د ځان لپاره کولای سې، په دې اړه چې ته دا وخت د کومې لانجې سره مخامخ یې، نو ته سبا راسه، زه به و تاته د ډاکټر مقبول طارق کتاب "ژوري فکري تېروتني" درکړم، په هغه کي ته یو باب جنسي ژوند ولوله، هغه به ستا دا لانجه در هواره کړي... پاته سوه، ستا دویمه خبره، چي موږ د هري غوښتني مخته حقایقو ته نه ګورو، پر مځکه اوسو، منصوبې د اسمان جوړوو، د غریب زوی خواري نه کوي او تخت د باچا د زوی غواړي. دا له ځان او جهان سره ډرامې دي، حقایق تسلیمول د ژوند ښکلا ده."

.............................................

د "ژوري فکري تیروتني" کتاب د یوه باب تر لوستلو وروسته شېرخان د ژوند د بېلا بېلو پړاوونو په اړه په سوچو کي سو، چي کله د میلیونونو میلیونونو کلونو مخته انسان هم د حیوانانو په څېر په لڅ بدن ګرځېدی، کله چي یې د شعور سطحه لږ پخه او لوړه سوه، نو یې خپل جنسي اندامونه (اعضا) پټول پیل کړل، چي دا عمل انسان له حیوانه بېل کړی، کنې جنسي خواهشات او بچي پیدا کول خو حیوانان هم تر سره کوي، حیوانان هم د انسان په څېر دوه کارونه په ورتیا لرونکې توګه کوي، خوراک او سیکس. خوراک د ځان د بقا لپاره او سیکس د نسل د بقا لپاره... له دې پرته د انسان او حیوان توپیر د کاینات د مسخر کېدلو په اړه دی، د حیوان مزل بس یوازي خوراک او جنس وي، د ذي روح د بقا لپاره د نر او ښځي دواړو له یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل سره مرسته ډېره مهمه ده، ځکه نسل پیدا کول اسان وي، خو د هغه ساتنه او روزنه مشکلات لري... همدې مشکلاتو په نړۍ کې تر ډېرو تجربو وروسته لاري کوڅې پیدا کړې، د ځناورتوب په لکهونو کلونو کې ښځې د څو څو مېړونو (مړونو) جنسي تنده ماتوله، که څه هم د ښځې جنسي هوس تر نارینه زیات وي، خو هغه کله هم جنسي پیل پخپله نه کوي، خو داسې حالت ضرور پیدا کوي، چې نارینه دې شي ته مایل او آماده کړي. په انسان او حیوان کې یو ګډ خاصیت دا دی، چې دوی یوازې او که د ډلې په بڼه سیکس کوي، خو دوی اولاد له ښه پلاره غواړي، ولې چې دوی خپل اولاد پیاوړی لیدل غواړي. دا پیاوړی اولاد د مور او پلار په را روان ژوند کې د دوی د معاشي او معاشرتي او ټولنیز ژوند په ګټه وي.

د کتاب پر یوه مخ شېرخان تر ډېره په سوچونو کې سو، دلته دې خبري دی ډېر حیران کړی، چې د نارینه جنسي تنده خو ژر ماته سي او بیا په زور او زر هم ژر نه را پورته کېږي، لاکن ښځه له جنسي تندي او جذباتو څخه پرته هم جنسي چاري تر سره کولای سي. یعني که یې طبیعت وي او که نه وي؛ څه معنا نه لري، خو د پیسو په خاطر دا هر وخت سیکس ته تیارېږي. د دې څه مجبوري وي، په دې اړه ډاکټر مقبول طارق د ژوند بېلا بېل پړاوونه بیان کړي وو، یعني کرهڼیزه (زراعت) دوره، جاګیردارانه نظام، صنعتي زمانه او تر دې آنده چې تر نني ماډرن وختته پوري یې هر څه صفا صفا لیکلي وو، چې کله به ښځه بادراه وه، د کور کلي او محلت ټوله واکمني به د دې په لاس کې وه، خو بیا دا هم وسو، چې د غلامې، مینځې، مایني، رنډۍ، طوایفي بڼې یې خپلي کړې... هغه وخت هم وو، چې ښځې په ګډه لڅي نڅېدلې او یا به یې ګډه جنسي اړیکي ورسره ساتل کېدلې، بیا د وخت له تېریدلو سره د دوی جنسي

2021.01.20 21:58

Ketabton.com: The Digital Library



اندامونه پټول پیل سول او تر هغه وروسته د دوی ټول بدن تر دې آنده چې دوی په چادري کې هم تر اوسه پټې دي، خو دلته دا پوښتنه او سوال پورته کېږي، چې لڅ مخ او پټ بدن... جنسي خواهشات را لړزوي او که سړوي...؟ دا خبره تر ډېرو تجرباتو وروسته کېږي، که ښځه په چادري کې وي، نو هوس ورته زيات وي او که ښکاره مخ وي، نو هوس ورته کمېږي. همدغه مشکلات انسان په جنسي بېلاريتوب اخته کوي، خو فلسفيان بيا په دې اړه په يوه خوله دي، چې بايد جنسي ازادي هر چاته وي، خو...

پر دې "خو" توري باندي ډېر تفصيل راغلی وو او آخري فيصله شېرخان داسي ولوستله، چې جنسي آزادي په کار ده، چې د سيکس تر تعليم وروسته ورکول سي. ځوک چې د سيکس په الف او بې هم نه وي خبر، نو هغه به د سيکس په نتايجو باندي څه خبر وي، هسي د دوو درې شېبو تر تسکين وروسته چې کوم مشکلات د بچي د زېږېدو، د مور د مشکلاتو، د هغې د (Pregnancy) او د بچي د پيدا کېدلو له مرحلې څخه نيولې د ده د تعليم، تربيت او معاشي مشکلاتو په اړه که ځوک خبر نه وي، نو هغه به ځوک له بېځايه سيکس کولو څخه را ګرځوي... غربي نړۍ که و خپلو وګړو ته جنسي ازادي ورکړې ده، خو هغه يې هم د عمر په يوه ټاکلې برخه کي ورکوي، دوی ته جنسي تعليم ورکول د مور او پلار او رياست ذمه داري وي، د تعليم ورکولو بغير جنسي بنديزونه څه معنا لري؟ ځکه چې ځوک د جنس په تاوانونو خبر نه وي، هغه به څه رنګه له هغه څخه را و ګرځول سي... د شېرخان پر تندي باندي دې پېراګراف خولې را توی کړې، چې په سويډن کي د انتهايي اړتيا پر مهال و لور او پلار ته هم اجازه ورکول سوې ده، چې د دواړو په خوښه دوی جنسي اړيکي ساتلای سي او دې شي په دغه هېواد کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنسي بېلاريتوب شرحه ډېره را ټيټه کړې ده. تر داسي نورو ډېرو مثالونو ورکولو وروسته د کتاب ليکوال د طلاق په اړه هم په ډېر تفصيل ګاېدلی وو، چي طلاق پر ښځه څه اغېز کوي او پر نارينه هم د طلاق اثر کېږي او که نه... او په خصوصيت سره تر طلاق وروسته چي ماشومان د کوم ذهني، جسماني، معاشرتي او معاشي لانجو سره مخامخېږي، هغو د شېرخان زړه ډېر و درداوی، خو دې شي بيا ډېر حيران کړی، چي د واده بغير هم په غربي نړۍ کي په ګډه جنسي ژوند تيرېدلای سي او موده يې هم تر کلونو کلونو پوري رسېږي. که چېري پای سره رضا سول، نو په ګډه او د دواړو په خوښه د واده پرېکړه وکړي، کنې نو داسي هم خوشحاله ژوند سره تېروي.

شېرخان چي ساعت ته و کتل، نو د شپې دوې بجي وې. د ده دماغ دې مضمون دومره ناکراره کړی وو، چي خوب يې رډ سو. د خپلي ټولني په اړه سوچو يووړی، چېري چي سيکس هر يو خوښوي، ولي د سيکس په اړه خبره کول يې ګناه ګڼل کېږي. په داسي ټولنه کي به د سيکس تعليم څوک او څه رنګه ورکوي، چي د بل نامحرم سره که په خبرو کولو څوک ښځينه ذات و ليدل سي، نو د توپک شپېلۍ يې يو دم خوله د تل لپاره خاموشه کړي، خو پخپله ټوله ورځ د بل د نامحرمي د عصمت درۍ لپاره په ذهني هلو ځلو ځان ستړي کوي... د دې سوچ تر څنګ شېرخان ښايي؛ ځوان وو او د غربي نړۍ د بې واده تعلقاتو په اړه سوچو يووړی...

.......................................

شېرخان به کله کله د هري ورځي له کاروبار څخه په دې تنګ سو، چي يو ډول سوداوي او خبري به وې، يو ډول غوښتني او ماحول به وو، د ده زړه به غوښتی، چي ووځي او و ګرځي، دنيا و ګوري او د زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسکین حاصل کړي، خو مجبوري هم بده بلا وي او معاشي مجبوري خو سړی د بل غلام کړي، نن يې هم دغه ډول موډ وو، که څه هم چا د ده پر څهره داسي تاثر نه ليدی، له هر چا سره خندا، مرسته، په خبرو او ښه خوی د هغو زړه ګټل، خو په درون (دننه) کي نن ناکراره وو او زړه يې غوښتی، چي له دې ماحول څخه ځان لرې لېري کړي، دا وو، چي ماپښين مهال د خپل سکول يو هم صنفي عبدالقادر د خريدارۍ لپاره د سينګار هټۍ ته راغلی، شېرخان د ده په راتګ دومره خوشحاله سو، چي هغه ګړی يې هر څه پرېښوول او د څنګ کوشنۍ خوني ته يې بوتلی، دلته يې په برقي تهرماس کي شنې چای وايښولې او د سکول د وخت په يادونو او کيسو سر سولو. عبدالقادر ښه کوه پېما دی، يو وخت يې شېرخان هم له ځانه سره غره ته بيولی وو، شېرخان نن بيا هغه وخت ور په ياد کړی، عبدالقادر هم پر شېرخان باندي ټينګار وکړی، چي په دې اتوار به ته له موږه سره څلور (چار)غاښي غره ته خېژې، چي شېرخان هم په ست خوشحاله سو، ځکه هغه هم له دې ماحول څخه تنګ او ستړی سوی وو، د سکون او اطمينان دنيا يې لټوله...

.................................................

د اتوار په سهار تر لمانځه وروسته عبدالقادر، شېرخان او شېر نور ملګري د شالدرې په ماجت ميدان کي سره يو ځای سول، هر يوه د پکنک سامان را اخستی وو، ټولو سامانونه سره تقسيم کړل، هر يوه خپله غوټه په بېګ کي واچوله او خپل خپل بېګ يې په شا کړی. شېرخان په دوی کي نوی وو، ځکه يې ده ته کوشنۍ غوټه ور په شا کړه، خو ده له ځانه سره دوه بوتله اوبه اضافه را اخستي وې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پټ لمر د سهار وختي چوپتیا د مرغانو خوږو اوازونو ماتوله، نری شمال تسکین رسوونکي ماحول هر چا او هر زړه ته تسکین رساوی، له همدې ځایه چي د غره په راغه کي د کوټي ډېره زَړه او خوره ابادي وه... دوی د مهردار غره له لمني څخه خپل تګ پیل کړی. له زینو باغ څخه د ګلانو را پورته کېدونکي خواږه بوی او د نیالګیو د شنو او زرغونو پاڼو دید د دوی ذهنونه نور هم ښاد او تابانه کړل.
شېرخان د سوچ نړۍ ته ځان وسپاری، چي انسان خو د خوشحالۍ او اطمینان لپاره هلي ځلي کوي، دا خوشحالي خو په فطرت او د فطرت په اجزاوو کي پرته او پټه ده. چي د یوه ساعت سکون یې د نړۍ په هیڅ شي کي هم نه وي... د دې لپاره نه د منډې ضرورت وي او نه د معاش... دی په دې سوچو کي ډوب تللی وو، چي عبدالقادر بیا د نبو تر کوډۍ ځان رسولی وو او هلته شېرخان ته ایسار سو. چي له را رسیدلو سره سم یې و شېرخان ته و ویل. څه سوچونه وهې، راځه؛ د عمل دنیا و ګوره، د فطرت اداګاني و ګوره. شېرخان چي د کوټي ښار ته ور وکتل، نو له څلورو خواوو څخه غرونو په غېږ کي داسي نیولی وو، لکه پیاله داسي ښکارېدی...
د کوټي ښار دومره غټ، پلن سوی او خور سوی وو، چي له سرې غوړګۍ څخه نیولې تر هزارګنجي او لوېدیځ (مشرقي) بای پاسه پوري او دلته له شالدرې څخه نیولې تر بروري او چلتن غره پوري خالي ځای نه ښکاره کېدی، د درختو شرحه د لوړو ودانیو (پلازو) په پرتله را ټیټه سوې وه، پخوانۍ اووه سېنماوي اوس له نظرونو نیهامي وې، ځکه چي پخوا به د ښار هر ځای دې ځای ته راغلو خلکو نښاني کولای سوای او د هري سېنما د بام چادران به له لېري ځایه برېښېدل، خو بیا هم د مېري غونډۍ، د مالي باغ جګي وني، د کواري روډ شراب خانه او د بروري ابادي هغه ډول معلومداره وې...



2021.01.20 21:59

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی چې و مخ ته و کتل، نو د دوی نور ملګري بیا د مهردار غره د سر کمرې ته رسیدلي وو، دواړو ګامونه ګړندي کړل او ځانونه یې د غره سر ته و رسول، د غره شاتنۍ ابادي هم د غره تر سره پوري را رسېدلې وه. له دې ځایه د چاوڼۍ پراخ میدانونه، سټاف کالج، چلتن مارکېټ، کوټه کلب، د هني اوړک پراخه ناوه او د مري اباد غرونه او راغونه ښکاره کېدل او د یادو سوو سیمو په هوارو مځکو کرل سوو غنمو او نورو کروندو د ژوند د ښکلا نخښې شیندلې...

ملګري یې د جي پي پر لوَړه (چړهایي) باندي کرار کرار روان وو، کوټه اوس هغه کوټه نه وه پاته، د هسکو غرونو په منځ کي د بې ترتیبو ودانیو، کږو وَږو واټونو، بې آب او ګیاه میدانونو او د سپیرو بې ډوله پلازو یو خور وور سمندر وو...

اوف خدایه! دا ښار څومره ژر ژر ځله خوربږي، یوازي په یو څو کلونو کي یې دومره خورېدل... دا لړۍ که همداسي دوامداره وه، نو بیا خو به ډېر ژر د دې ځای د اوسېدونکو ژوند له نورو کړاوونو سره هم مخامخ سي. دوی دواړه چي دې پېچومي ته و رسېدل، نو شېرخان هم د اوبو بوتل پر غاړه پورته کړی، ساه یې لنډه لنډه کېدله... عبدالقادر ورته و ویل، چي دا چړهایي له سړي څخه د ټولي هفتې غمونه او فکرونه هېر کړي، که هر څوک دا چړهایي په مېړانه تر سره کړي، نو هغه څوک بیا د ژوند هره چاره تر سره رسولای سي، له همدې ځایه چي موږ ورو ورو د انسانانو له ابادۍ څخه نیهام سو، نو د سکون نړۍ نوره هم ودانه سي، هغه سکون چي انسان ته نه په دولت رسېږي او نه په کومه کرسۍ او چوکۍ... د ښار له شور ماشور او اخ و ډب څخه را لېري و زړونو او فکرونو ته د څه مودې لپاره سکون او خوشحالي محسوسه سي.

د چړهایي په سر کي د دوی ملګري ورته انتظار وو او دلته دوی لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساه واچوله. اوس کرار کرار مخ ته روان سول، تر جهنډو او پوځي غونډۍ تېرېدلو وروسته له کوترخانو سره عبدالقادر و شېرخان ته و ویل، چي د هغې بلي پلا د راتګ په وار به دلته ستا په یاد وي؛ ګڼ شمېر کوتري وې، خو د انسانانو د لالچ او بې غورۍ له کبله اوس له دې ځایه کډه سوي دي... دوی چي څومره مخته تلل، خاموشۍ ورته هغومره په ژورتیا سره هر کلي وایه، کرار کرار د کوټې د ښار نخښې او ماڼۍ هم له سترګو نیهامېدلې، د حیدر دره چي څنګه تېره سوه، نو په سرو کي ختل بیا یو څه نا څه زور او دقت غوښتی.. شېرخان چي و نورو ملګرو ته و کتل، هغوی بوک (په غره کي د اوښ بوک ته سوی ځای) ته ځانونه رسولي وو، نو دوی هم ګامونه چټک کړل او ټول په یوه وخت تر تمبو پوري و رسېدل. تمبې د دویم غره پر سر ولاړې دي او له دې ځایه څخه د کوټې ښار نظارې او ننداري تر کچلاغ، لکپاس او کولپوره پوري په ښه توګه کېدلای سي، خو د خواره ګرځ له کبله هر څه صفا نه معلومېدل، ولي د دې غره له سره د کوټې خړ پړ ښار هغه ښه نه درلوده، چي پخوا به غوړېدلې ښکارېدله. اوس یې پر څهره باندي د خړو ګرځونو او دودونو تورو لوګیو وزر خواره کړي وو، هر څه مبهم او تر دودونو لاندي ښکاره کېدل، تر دې آنده چي د ونو ښاخونه هم په لوګیو تور ښکارېدل...

دلته دوی په ساه اچولو سره د سهار ناری هم وکړی او د ستړیا تر هوسا کېدلو وروسته په ملتیا سره د راوړو کېکونو او چای خوړلو خوند...

د مورچو او عثمان کلا له لارو څخه غره ته راختونکي (کوه پیما) هم پر دغه ځای سره یو ځای کېږي او پر مخ باندي دا لاره صدیق اوطاق ته رسېږي، پر دې ځای له دوی څخه د ټین ټاون یو ځوان مخ ته تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سو دا ځوان د پوځي ټرېننګ لپاره په هر اتوار د څلور غاښي پر لار سپین کارېز ته اوړي او له هغه ځایه څخه بیا په وېګن کي کور ته راځي، پرله پسې اته یا لس ګهنټې په غرونو کي مزل انسان څومره قوي کوي، د دې اندازه هر چا د دې ځوان له تګ څخه کولای سوه، چي په غوږو کي یې هیډ فون لګولی وو او موسیقي یې اورېدله، د نړۍ په هیڅ یو شي کي یې هم زړه نه واهه او د خپل هدف لوري ته په لوړ استقامت روان وو.

........................................

غرمه ناوخته دوی د دریم او څلورم غره د مابین و میداني ته را و رسېدل، دا پراخ میدان دومره خوندور او پر سکون دی، چي که هر څومره قیمت ورباندي و لګېږي، نو خلک به یې په لیدلو سره ادا کوي او ځانونه به ور رسوي. دلته شېرخان د ډېري ستړیا له کبله پټو هوار کړی او اوږد اوږد پر و غځېدی، نظر یې شا او خوا او دلي دوري و غړاوی، مخامخ د چارغاښي څلورم جګ غر لکه د بامیان.. شاته د دریم غره غونډۍ او دوی پخپله دا وخت دومره لوړ راختلي وو، چي بس یو آسمان، وریځي، هوا او دا غرونه وو، د دوی په چپه بل هیڅوک نه معلومېدل. دلته ملګرو له یو بل سره ګپي او مسخري پیل کړې، خنداوي وې او سوکه سوکه موسیقي هم ږغېدله... دوی د لرګیو خوږ بوی هم په فضا کي خوشګوار بدلون راووست. ناستو ملګرو پر بېلا بېلو موضوعاتو خبري کولې، کله د کرکټ، فټ بال، د هغو لوبغاړو د ژوند، د باډي بلډنګ، د خپل بدن او خوراک، د خپل کور د وګړو د ښو اعمالو او سبقونو په اړه... خو شېرخان دا خبري ځوراوی، چي دوی هره موضوع څېړي، خو د کاروبار، پیسو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيکس په اړه يو هم خبره نه کوي او نه يو داسي عمل کوي، نه تنده
او هوس لري، چي د دوی د کړېدلي ژوند خړګندونه او عکاسي
وکړي. هر يو په سکون او خوشحاله دی. عبدالقادر "چي دوه کاله
يې په اروپا کي په يو پوهنتون کي لوړي زدکړي تر سره کړي وې"
غوښه په کړايي کي واچوله، يو ملګری يې ورته کښېناوی او پخپله
راغلی، له شېرخان سره په مجلس سر سو. ورته و يې ويل، چي څه
سوچونو اخستی يې...؟
دومره سکون او خوشحالي مي په دا تېر پنځه کاله هم نه ده
ليدلې...
چي اوسې؛ په خوی به د هغو سې..
هو؛ قادره ستاسو دې ملګرو ته چي ګورم او د دوی ... نو ځان ډېر
ګناهکار راته ښکاره سي...
هغه څنګه؟
د هر يوه چست بدن، سپېڅلي خيالونه، پاک ژوند او راڼه ذهنونه،
آخر د دې راز څه دی...؟
شېرخانه! ته ښه خبر يې، چي د نن سبا ځوانان په کوم ماحول کي
اوسي؛ هلته له بدو کارونو څخه د ځان ساتل ډېر ګران وي...
هو؛ زه هم دا خبره کوم...
نو د دې لپاره لازمه ده، چي هر ځوان په داسي يو مثبت کار بوخت
وي، چي نورو بېځايه او بدو کارونو ته يې پام نه ور اوړي..
هو؛ قادر جانه، که د انسان ژوند په خپل لاس کي وي، خو ټيک ده،
دلته خو ځواني او حسن د شريف خلکو لپاره پېغور سي...
نه؛ شېرخانه! موږ لا تر اوسه پوري د ټولني اقدار له لاسه نه دي
ورکړي.. منم چي ډېر ځوانان او پېغلي به بې لاري وي، خو که څوک
د خپل ژوند يو مرام اومقصد و لري، هغه له دې لارو ځان ساتلای

2021.01.20 22:00

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي...
شېرخانه! د ځوانۍ حفاظت که هر څوک وکړی؛ هغه به ټول عمر پر سکونه پاتېږي.
هغه څنګه..؟
ګوره؛ په نس او نفس کي دغه يو فرق دی، چي نس بس لري او تر درې څلورو ډوډۍ خوړلو وروسته موړ سي، خو نفس بس نه لري، په يوه پسې بله، په بله پسې بله... نو يو شی چي بس نه لري، په هغه پسې انسان ولي خپل ژوند بربادوي او له دې سره تړلي تاوانونه لا سپوا دي...
کوم تاوانونه..؟ عبدالقادره!
ولي د وخت او پيسو ضياع، بې سکونه ورځ، له ټولني څخه جلا ژوند، ګناه او بيا د نن سبا د اېډز، تور ژړي او نوري بدي بلاوي...
قادرجانه! ته رښتيا وايې، دا نن چي زه دلته څومره سکون احساسوم، ماته د يوې مياشتي تر ګټه هم ډېره خوشحالي لري، خو؛ آخر انسان له خپل ماحول څخه څنګه را ووځي...؟
شېرخانه! واقعي ګرانه خبره ده، نن سبا چي په منفي توګه د نيټ کاروني کومه وبا را الوتې ده، دا زموږ د ځوانانو او پېغلو سکون او ژوند لوټ کړی دی. مغربي نړۍ لره هر څه پر خپل وار او قسط وار راغلو، ځکه هغوی و هر څه ته په ذهني، مالي او جسماني توګه تيار وو او دا ټول شيان د هغوی په ټولنه کي شتون لري، ځکه يې خلک ورسره بلد او اشنا وو، چي د ټولني له اړتياوو سره سم يې دا شيان نيټ ته پورته کړل... زموږ بدبختي دا ده، چي د ګلوبل ويليج په دې منډه کي موږ د بل کلتور، اقدارو او معاش ته اړ سولو، خو د هغو او زموږ په ټولنه کي د پېړيو پېړيو توپير پروت دی، هم په ذهني ډول او هم په حقيقي توګه... موږ خو تر اوسه پوري د نيټ په ښه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوړه یا مثبت او منفي توګه د کارولو لاري نه دي موندلي...
هغه څنګه...؟

د مثال په ډول هلته سکرټ په عادي توګه اغوستل کېږي. خو دلته د ښځي ورون څه چي لېنګي ليدل يې هم ګناه ګڼله کېږي.. ګناه خو پر خپل ځای ده، که يې څوک داسي و ويني. نو کېدای سي: په سپينه ورځ حمله هم ور باندي وسي. همداسي نور څه مو د ځوانانو او پيغلو زړونه را لړزوي. هغوی چي زموږ و ذهني کچه ته و کتل. نو هغه ټول شيان يې پر نيټ را پورته کړل. چي په دنيا کي د جنسي موادو تر ټولو زياتي ويب پاڼي په پاکستان کي کتل کېږي ..

قادره! دا خو منم او تر څه حده پوري په خبر هم يم. خو لاکن...

لاکن څه معنا لري، دوی زموږ د ځوانانو ټول تخليقي صلاحيتونه په زنګ ولړل... دا د منلو ده، چي جنسي تنده يوه اړتيا او ضرورت ده. خو دلته يې د يوې ذهني ناروغۍ بڼه خپله کړې ده... ته کليوالو ته ورسه، ښار ته و ګوره، د طلاق شرحه ورځ په ورځ زياتېږي. د ناجايزه ماشومانو اجسام په کوڅه کوڅه کي موندل کېږي. خو بيا هم موږ په دې ځانونه نه پوهوو، چي انجام به يې څه وي؟

عبدالقادر د جذباتو په بهير کي ډوب وو، چي ملګري ور باندي ږغ کړل، چي کړايي پر پخېدلو ده..

له کړايي سره مستې، وريجې، سلاد هر يوه دومره و خوړل، چي حد يې نه وو، نن خو د شېرخان معده د هره جوښه خالي وه، ځکه ده هم په ډک نس خوراک وکړی، دلته ټولو په جماعت د ماپښين لمونځ ادا کړی، بيا يې سامانونه په شا کړو او مخ ته روان سول...

د چارغاښ له ميداني څخه باجري او بيا د د چارغاښي لمن ته و رسېدلو، له دې ځايه يې د سايڼ غار، چارغاښ درې، ټاپ او چپه لاس ته تر ولاړې درختي پوري را و رسېدلو او بيا يې د چارغاښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی، دويم، دريم او څلورم غاښی تر پښنو وکښی... دلته يې شاو خوا و کتل، نو د کوټې ښار، ډګاری، ګړنګ، سپين کاريز، اوړک، زرغون غر، څځوبی، نوحصار، غبرګ، کچلاغ الغرض چې چېرې چېرې يې د دوربين سترګه اړوله؛ هغه ځايونه ورته ښکاره کېدل... همدلته يې د ماځيګر لمونځ ادا کړی... مېوه يې نوشِ جان کړه... د ځينو ملګرو غوښتنه وه، چې سپين کاريز ته به شېوه سو او له هغه ځايه به په وېګن کې کورونو ته ولاړ سو، خو عبدالقادر د شېرخان په غوښتنه دا پرېکړه وکړه، چې پر راغلې لاره به بيرته کورونو ته ځان رسوو، ځکه شېرخان چې دلته کوم سکون موندلی وو؛ هغه يې و هر قيمت ادا کولو ته چمتو او تيار وو... سترېيا، ځنډ، خو سکون... دا وو، چې د څځوبي له لاري د چارغاښي لمن ته را کښته سول...

په لاره کې شېرخان له نورو شپږو ملګرو څخه د دوی د ژوند او و غرونو ته د باقاعده تګ راتګ او د ګټو په اړه و پوښتل.. په دې شپږو ملګرو کې يوه ملګري و شېرخان ته و ويل،

چې په دکان کې په ډېره ناسته چاغ سوم، نس او ورنونه مې را و وتل، معدې مې کار نه کاوی، په ډېر مشکله به کار ته ولاړېدلم، يورک اېسډ (Uric Acid) مې زيات سو... دا دريمه مياشت ده، هره ورځ لومړي غره ته او هر اتوار چارغاښي ته راځو، نس ته مې و ګوره، شل کلو وزن مې کم کړی، يورک اېسډ مخ له ختم سو، د معدې جوښ اوس نه لرم، ټوله ورځ داسي تازه او مست يم، لکه تازي...

دويم ملګري و ويل،

چې د باکسنګ لوبه کوم، هره ورځ په سپېشل سکول کې دوه ساعته منډې و وهو، بيا پريکټس کوو، د اتوار د غره راتګ دا ګټه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



و رسېدله، چي د صوبې پر کچه باندي د لوبو په سياليو کي مي دوه واره لومړی پوزيشن اخستی دی، له نشو بېخي خلاص يم او د کالج ژوند په ښه ډول انجوای کوم، نور بس...
دريم ملګری چي ډېر سنجيده وو؛ په څه خواري او ډېر مشکل و خبرو ته رضا سو او څرګنده يې کړه، چي زه پخپله له فطرت سره مينه لرم، د غره خاموشي، له ښاره څخه لېري خواپاکې فضا، د اوبو آبشارونه، د خاورو خوشبو، د غرو بوټي او وني غرض د فطرت هره هره نظاره مي نور نور هڅوي، چي شاعري وکړم... د پينټنګ سامان چي کله راوړم، نو دلته د فطرت نظارې د قلم او برش په مرسته تخليق کوم او همدغه زما فن دی. دا و ماته معاشي ګټي هم را رسوي، پر فطرت باندي د مين و نورو مينو ته اړتيا نه پاتېږي او نه زه دومره وخت لرم، چي و بلي خوا ته مي پام واوړي.
څلورم ملګري چي ساه يې لږ شړله؛ و ويل،
چي په نشو باندي اخته وم، ساه مي بندېدله، هيچا له ما سره شناخت نه کاوی او نه يې زړه راسره غوښت. معاشي حالت مو داسي ځای ته و رسېدی، چي د کور شيان مو وړل او خرڅول.. ورور مي په يوه ټرسټ کي داخل کړم، تر علاج وروسته د خدای پاک شکر دی، خپل کاروبار کوم، په فروټ منډۍ کي مي کوټۍ ده. په مياشت کي دومره ګټم، چي د محلې د يوه يا دوو نشه يانو يا غريبانو علاج زما پر غاړه دی، د مسجد د ملا تنخواه ور کوم، د اتوار په ورځ غره ته راتګ مي د ژوند لاره را بدله کړه او ژوند ته مي زړه و غوښت...
پنځم مست ملګری وو، چي شېرخان نژدې ور و رسېدی او د ژوند په اړه يې د نورو ملګرو په څېر پوښتنه ځنې وکړه..
ملګري څرګنده کړه، چي د قام پرست ګوند فعاله ګړی يم، ټوله اوونۍ په سياسي هلو ځلو کي تېره کړم، د اتوار د ورځي دغه سيل



2021.01.20 22:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي زړه او فکر ته دومره توان راکړي، چي بیا پر هر توپان لکه پتنګ ورځم او لویه خبره دا ده، چي د قام د روڼ سباوون لپاره نوي نوي ایډیاز هم ذهن ته راځي.

د شپږم ملګري کیسې شېرخان لږ و لړزاوی، ملګري یې و ویل، چي ټوله ورځ به پر نیټ لګیا وم، د شپې ناوخته پرېوتم، له کالج څخه یې و ایستلم او پر نیټ باندي مي له څو نجونو سره یاري سوه، چي فرمایشونو یې زه دومره ډېواله کړم، چي پورونه مي شروع کړل، آخر یوه ورځ مي مور په ډېر غور راته و کتل، نو زما سترګي ژړې وې... ماښام پلار ډاکټر ته بوتلم، تر ټېسټونو وروسته ښکاره سوه، چي تور ژړی یم... شپږ میاشتي مي علاج وکړی، لاکن وایرس مړ نه سو، بیا شپږ میاشتي علاج جاري وو، د خدای په فضل اوس له هغې ناجوړۍ خلاص سوم، د نیټ یاریاني مي پرېښوولې، خو کالج را څخه پاته سو، میډیکل ریپ یم، پر وخت کار ته ځم. د اتوار په ورځ د دې ملګرو په مرسته غره ته را شروع سوم، اوس په ذهني، معاشي او جسماني توګه دومره مضبوط یم، چي که شل نجوني هم راته و دروې، یوې ته به هم و نه ګورم، ولي زما فکر بدل سو، مور مي لګیا ده، د کوزدې تیاري کوي، لاکن ما منع کړې ده، چي زه یو وار د خپلو تېرو درې کلونو حساب برابر کړم، وروسته به بیا نوري منصوبې جوړوم...

.........................................

ماخستن ناوخته چي شېرخان کورته را و رسېدی، نو مور ښه د لاندي ښوروا ورته جوړه کړې وه، مور یې هغه وخت ډېره حیرانه سوه، چي شېرخان پوره کاشین خالي کړی او مور یې مجبوره سوه، چي له کټوي څخه نوره ښوروا ورته جوړه کړي. تر شوروا وروسته فرزانې خور خوږه پېرني ورته پخ کړې وه، هغه یې هم نوشِ جان

(c) kitabton.com: The Digital Library


کړه. فرزانې ګپه ور باندې وکړه، چې نن ولې دومره خوشحاله او مطمین یې...؟
نن مي حقیقي ژوند له نژدې ولیدی.
زه خو هره ورځ درته وایم، چې دا موبایل خوشمړی پرېږده، هر وخت یې په عذاب کې را ګېر کړی یې..
فرزانې! زه نن پوه سوم، چې د خپلو لېري او پرېدو ته نژدېکت هم دغه تاوان لري، چې سړی له خپلو بېګانه کړي...
موري یې په ښوروالړلي ګوتي و څټلې او فرزانې ته یې وویل:
دا خوشمړی موبایل نن له ده څخه پاته سوی وو، اوس یې هم مه ورکوه.
موري! هغه ما نن پټ کړی دی، نن به له ورور سره ښې ډېري خبري وکړم. اوهو؛ موري! ته ولې نه ورته وایې، چې ژر تر ژره واده وکړي.. ما په کور کي ماشوم نه دی لیدلی، زه به ورسره ټوله ورځ بازۍ کوم...
واده خو به اول ستا کوو...
نه؛ خپله خو ټوله ورځ ورک یې، د مور خدمت زه کوم، د کور کار کوم، ستا جامې مینځم، ډوډۍ پخوم، دا دومره ډېر کارونه به نو څوک کوي؟
ته چې هر څه بهانې وکړې، نجوني آخر پای د خسر په کور کي ښې ایسي.. د پلار پر کور مېلمنې وي.
نه؛ موري! زه واده نه وکم، اول لالا و کوزده ته راضي کړه، زه به د لالا په کوزده کي ټولي خوندکیاني را و بولم، نکریزي به ور ولګوم، شپه به روڼه کړو، په دویمه ورځ به د ورېنداري کره ورسو، مخ لڅی به ورکړو او زه به ورېنداره ټینګه په غېږ کي و نیسم، لکه خوندکی داسي به یې پالم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداسي ټول خوبونه خو زه ستا په اړه وينم، خورکۍ، چي خپل کوشنۍ اخښۍ و وينم، نوي کالي ور په غاړه کړم، ګړۍ ور په لاس کړم او ښه قيمتي موبايل ورکړم...

مور يې تر لاس مينځلو وروسته يو خرپټ نسوار و خوله ته واچول..

کله چي يې د شېرخان دا جمله واورېدله، نو يو دم يې پر بړغ کړل، زويه! خدای ته وګوره، که به و اخښي ته موبايل ورکوې. ته لا کم يې، چي له موږه څخه يې لېري کړی يې. اوس اخښی هم له خپلي خوره څخه لېري کوې.

هو؛ موري! دا موبايل هم عجبه بلا ده، چي زموږ په برخه سوی دی، خو دا تر استعماله پوري فرق لري او دا خبره هم د منلو ده، چي زموږ په ټولنه کي يې استعمال په هغه ډول نه کېږي، چي څه ډول په کار دی...

نو که ستا خوښه وي، زه به ستا موبايل مات کړم...

فرزانې موبايل په هوا کي پورته و نيوی او ورور ته يې اشاره وکړه.

خورکۍ! خو دا زموږ مجبوري هم ده، چي له دې بغير چاره نسته..

ولي؛ چاره نه لرې، نن دي له سهاره څخه موبايل کور ته پرې ايښی وو، دا دی؛ سيل دي هم وکړی، صحت دي هم ښه دی، دومره ډوډۍ دي په يوه مياشت په ډک نس نه ده خوړلې، موږ ته دي هم دومره وخت راکړی، پوره مي زړه ډاډه سو او بل دا چي نن څومره پرسکون يې، بس دا يو ارمان مو لا را پوره کړه، چي کورته ورينداره ژر راوله...

..............................................

پر شېرخان ورځ په ورځ د کوزدې لپاره ټينګار زياتېدی، د کوشنۍ خور يې هم د پېغلتوب دوران اوږدېدی، مرکې ورته را رواني وې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور يې دا ارمان وو، چې ښه مرکه ورته راسي، نو بايد د لور لاسونه ورسره کړي. ځکه چې د لومړيو شپو ښې مرکې بيا نه راځي.
شېرخان هم د خور په اړه فکرجن وو، نن چې يې د خور له خولې د کوزدې خبري واوريدلې، نو نور هم په سوچو سو...
د ډول او سورنا ږغ وي، د ځوانانو اتڼونه وي، بهر ټکان وي، په کور کې د خورلڼو درياوي په لاس کې او شله يې اچولې وي، خورښادي وايي...
چې چيلم؛ چيلم مې د مسري دی چې چيلم چيلم مې د مسري دی
د خدايسپين؛ سپين رښتيا به وايو زوم تر ناوې؛ ناوې فېشني دی
پر دېوال؛ دېوال ناسته مينا ده پر دېوال؛ دېوال ناسته مينا ده
زموږ د خېښ په دروازه کې د شېرخان؛ خان ښايسته ورا ده
شېرخان ښه سپين کالي په غاړه کړي وي، تور کوټ، ورېښمينه لونګۍ پر سر، کندهارۍ غاړه، نوې ګړۍ، نوي ګوتونه... د ملګرو په سيوري بهر را و واتۍ، د ملګرو له خوا ښه سپينه ټو ډې ګاډۍ سينګار سوې وه، شېرخان يې د مخ له خوا کښېنوی، ويډيو فلمونه پر له پسې جوړېدل، د موټرانو اوږد قطار په واده کې روان وو...
ښه دروند خوښی، د شېرخان د خسرګنی له خوا ښه دروند ښه راغلی تر سره سو، د کلا ور تړل، پيسې طلبل، ملا ور تړل، د خوابنې او خوښينانو د ليدلو لپاره د زوم کور ته ور وستل، کليوال ټوله رسمونه يې په ادا کړل. تر هغه وروسته چې يې غاړه د پيسو له هارونو ډکه کړه، نو شېرخان کرار ملګري ته و ويل، چې دا څو هاره خو را څخه ايسته کړه، تنګ کړی يې يم. کله چې را و واتی، نو د دوستانو او خپلوانو له خوا ګډ عکسونه ورسره واخستل سول، بيا يې په غټ اتڼ شېرخان هم ورسره ګډ کړی، ځينو ښوخو ځوانانو يې د کوټ له جېبونو څخه د خوابنې په کور کې ورکول



2021.01.20 22:01

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوي ټولي خوږې و ايستلې... په واپسي کي شېرخان د مخ له خوا او شاته يې ناوې او دوې خپښاني ناستي وې. شېرخان ته دا وخت خپل ځان د نړۍ باچا ښکاره کېدی، د کلي ماشومانو څو ځايه موټر و دراوی او پيسي يې طلب کړې.. کورته له را رسېدلو سره سم د خوشحالۍ ټکانو او خوربنادي خو بيا... شېرخان دومره جذباتي کړی، چي تر سترګو يې د خوشحالۍ اوښکي را رواني سوې، د ګوګ مخته يې ناوې درولې وه، د زوم خپلوان يې راټلل او د خپلي ورېنداري پر سر باندي يې پړونان او پر وږو کالي ور اچول... بيا يې شېرخان راوستی، له ناوي سره يې په اوبو او قرآن شريف کي و کتل، خورلڼو پر دواړو باندي ګپي کولې، لاکن شېرخان له خوشحالۍ هر څه زغمل. د ماخستن تر ډوډۍ خوړلو وروسته د ناوي او زوم د آئينه مصحف رسم هم تر سره سو، چي په دې رسم کي خورلڼو او کوشنۍ خور فرزانې د زړه ټول ارمانونه و ايستل، اوس نو څو د پاخه عمر ښځو زوم او ناوې تر خپلي خوني پوري و رسول. هلته يې ملګرو د زوم کمره دومره ښايسته کړې وه، چي د ژوند ټول خوارډه يې پکښي ګډ کړي وو، پلنګ خو يې دومره په زړه پوري او ښايسته کړی وو، چي د هر چا هوا ورته کېدله...

شېرخان د مخ لڅي لپاره ښه د سونې سيټ ناوي ته ور کړ، دواړه تر ډېره خاموشه ناست ول، چي وروسته شېرخان خاموشي ماته کړله او په لوی زړه يې ورته و ويل، زه ډېر خوش قسمته يم، چي ستا غوندي ښايسته مېرمن مي په برخه سوې ده، اوس زما او ستا په مخکي د ژوندانه يو اوږد سفرپروت دی، چي دغه مخ په وړاندي سفر به په ښه توګه تر سره کول غواړي... تر دې وروسته دواړو له يو بل سره تر ډېره پوري خوږې خبري کولې، چي د شپې په نيمايه کي د خوني بلپان مړه سول او لږ ساعت خاموشي وه، چي يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دم پلنګ سره و ښورېدی، چیغې سوې، د شېرخان زړه په دربې سو، خولې پر را روانې سوې، تر خوله یې څګونه را وتل او د مورې! مورې نارې یې وهلې...
مور چې یې سر را پورته کړی، نو شېرخان سره کېېدی، مور ژر ژر په غوځې کې و نیوی او په پوه سوه، ورته و یې ویل،
زویه! دا خوبونه مه وینه، دغه خوبونو خو زما او ستا ژوند په عذاب کې اچولی دی...

.................................

شېرخان د سول هسپتال په او یې ډې کې د بشیر چپړاسي له خولې خبر سو، چې نن د ده معالج ډاکټر نادر ناست دی. نو زړه یې خوشحاله سو، هغه ځکه چې د تېرو لسو کالو را هیسې ډاکټر نادر د ده په ناروغې او مشکلاتو خبر وو. د ده په غیر موجودګې کې نورو ډاکټرانو و شېرخان ته ښه او خاطر خواه ګټه نه سوای رسولای. شېرخان له ډاکتر نادر سره ذهني یووالی درلودی. ځکه په کار دی. چې هر سړی ډاکټر، درزي او نایي یو ولري.
نن شېرخان ډېر په عذاب وو، د جسماني بیمارۍ لپاره ډاکټر نادر دارو ور تجویز کړل او د ده د روحاني تحلیل نفسي لپاره یې لس منټه یوازې خبرې ورسره وکړې، خو د شېرخان غوښتنې او پوښتنې ډېرې زیاتې وې. ډاکټر نادر ډاډه کړی، چې په را روانو نژدې شپو کې موږ یو سمپوزیم په نظر کې لرو او پر هغه مې په باقاعده ډول کار هم پیل کړی دی، له هغو کسانو سره مرکې او د هغو پر تحلیل باندې هم کار روان دی، چې هر کله دا کار پوره سي او د سمپوزیم ورځ و ټاکل سي، نو زه به تا خبر کړم.. ته به په هغه ورځ ټوله ورځ همدلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېروې، ځکه دا دومره مهم کار دی، چې د ټول عمر ګټه به ځني تر لاسه کړې...

........................................

شېرخان په دکان کې تر دوایانو خوړلو یو ساعت وروسته لږ جسماني راحت و موندی، د برایي خوب ډېر ځورولی وو، لاکن په خپل زړه کې چې ده کومه خوشحالي محسوسوله، هغه یې پر څهره او کړه وړه باندې صفا څرګندېدله. دکان ته هم هغسې ګیراکان را روان وو، له هغوی سره هغه ډول مجلس، راسه پاسه، خو چې څه رنګه به ګیراکان فارغه سول، نو دی به سوچو واخستی، د پېغلي نازنین آفرونه، د پروین خواهشات، د دوستانو فرمایشونه، د نورو زړه ساتنه، د برایي شپې د خپل واده خوبولي خوندونه، د ملګرو او ګرلز فرینډز مېسیجونه، له هغوی سره تېر سوي وختونه او کړې لوظونه، واقعي... داسې حالات سړی سره سربداله کوي او بیا د یوه ځوان ذهن دومره پوخ هم نه وي، چې په داسې حال کې د ښه او بد تمیز وکړای سي، د میني، جنس، رشتو تقدس او نورو توپیر سره وکړي، همدا هغه پړاو دی، چې ځوان له لارې اړوي او یا یې بل خطا باسي، چې بیا خپله لاره او منزل موندل او بیا تر منزله پورې ځان رسول یو ګران کار وي. لاکن ښه دوست، مخلص لارښود او علمي اپروچ ځوان له هرې بدبختۍ را ګرځولای سي، نن هم شېرخان څو ځله خپل مهربان واجد ته ژنګ و واهی او ډېر تپوسونه یې ځنې وکړل، خو د ده ذهن د برایي خوب دومره سره ګډ کړی وو، چې دی د هغه څه غوښتونکی وو، چې په خپله یې هم سر نه په خلاصېدی... له ځانه سره یې فکر کاوه، چې زه څه تپوسونه کول غواړم، ښایي؛ د هغو ځواب له چا سره نه وي او که ځواب وي هم، نو هغه کېدای سي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ډول نه وي، چې زما خوښ سي او یا زما په کار راسي. ځکه دی د تذبذب په یو داسي چارسو باندي ولاړ وو، چه په ژوند کي ډېر ځوانان په داسي حال کي له خپله ژونده څخه لاس پر سر شي، خو د واجد په وروستي فون باندي د شېرخان دا تسلي وسوه، چي ستا د دې سوالونو د ځوابولو لپاره ما یو کتاب موندلی دی، ماښام چي کورته ځې، نو دا کتاب به درکړم.

---

په لرغونو وختونو کي خلکو مینه لېونتوب ګڼله..

بو علي سینا په خپل نوموړي کتاب "قانون" کي داسي وایي:

"مینه یوه وسواسي ناروغي ده"

مولانا رومي په خپله مثنوي کي یوه کیسه لیکلې ده، چي یو باچا پر یوه مینځه مین وو، مینځه پر زرګر مینه وه او د هغه په بېلتانه کي ورځ په ورځ ویلېدله. شاهي معالج صلاح ورکړه، چي دا نجلۍ دي له زرګر سره یو ځای کړل سي، هم هغسي وسو، هغه معالج و زرګر ته داسي دارو ورکړل، چي په هغه باندي زرګر ډېر کمزوری او ډنګر سو، د مینځي له هغه څخه زړه تور سو او بد یې ځنې راغلل، د باچا مراد تر سره سو.

شکسپیر په مین او لېوني کي فرق نه کوي.

نیتښې وایي: کله چي سړی پر یوه ښځه مین سي، نو و هغه ته دي د واده کولو واک او اختیار نه ورکوي، ولي چي په لېونتوب کي هیڅ څوک هم د خپل سباوون په اړه سمه او کره فیصله نه سي کولای.

د اروا سپړني د لوستونکو په خیال د میني په لېونتوب هغه سړی اخته کېږي، چي په وړوکوالي کي د مور او پلار له میني بې برخي پاته سوي وي، د ځوانۍ په پیل کي چي کوم لومړی وګړی پر هغه

2021.01.20 22:02

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي د ميني پېرزوينه وکړي، هغه ورته په ډېر اعتماد د ميني غبرګون ورکوي.

د فرايډ په خيال چي کله د جنسي ځرګندوني په زړه پوري وخت چا ته په لاس ور نه سي، نو انسان له يو اروايي کړکېچ سره مخامخ سي، چي يوه نخښه يې مينه ده.

د ميني د دوو قسمونو په اړه په کتاب کي بيان سوی وو، شېرخان د دويم قسم يعني مجازي ميني چي هغه بيا مخته پخپله دوې برخي لري، لومړۍ برخه لوستل پيل کړه او په هغه کي د دې ميني په اړه داسي بيان وو.

د وحشت په دور کي انسان له رومانوي ميني ناخبره وو، د نن سبا د افريقې او آسټرېليا د وحشيانو په ځېر هغوی هم په جنسي يووالي کي له هيچا نه کښېښتل او نه يې له چا ځان پټوی، د خوړلو، څښلو په ځېر به يې له ښځي سره په يووالي سره کار اخستی. د زراعت له دورې سره انساني ټولني بله بڼه و موندله، نارينه خپله شتمني و خپل حقيقي زوی ته ورسپارل غوښت، چي د همدې لپاره يې د خپلي ښځي کره ځارنه پيل کړه او له همدې څخه د پت او ننګ تصور او هم د پړدې تصور را منځته سو ،د پړدې تصور هم له دې ځايه څخه پيل سوی دی.

د جنسياتو ځيني پوهان وايي:

د ښځي مخ او ځان پټول د نارينه د کيني د جذبې پنځونه ده، وېټنر پر ښځينه ستر، شرم او پړده باندي په خبره کولو سره ويلي دي، چي:د اوسنيو قبايلو په ځېر تر زراعتي اووښتون مخکي هم ښځو خپل ستر او پړده بې ځايه ګڼله، د هغوی په خيال نارينه خپله ښځه د نورو له هوس څخه د خوندي ساتلو په نيامت ښځه و ستر او پړده ته مجبوره کړه، کله چي ښځي ستر پټول شروع کړل، نو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نارینه کي یو کاهښت را منځته سو، چي سوکه سوکه د جنسي غوښتنو بنسټ و ګنډل سو، د ستر پټولو ډېري په زړه پوري پایلي را منځته سوې...

سټېنلي او ایلن پر دې سکالو یا موضوع باندي داسي وینا کوي:
دا خبره باوري ده، چي د مذهب، آرټ او د ژوند د خوندورو توکیو د زړه غوښتني ماخذ جنسي جذبه ده، چي په وار وار خوره سوله، هغه احساسات چي له جنسي اندامونو سره تړلي وو، په خورېدلو سره د ځاروو جګ جګ غورځلاو او په انسان کي ټوکي ټکالي، بې ارزه ورځ او بې درکه خندا را منځته کړه، د دې جذبې په بې مهاره ځرګندونه کي چي خنډ را منځته سو، نو د رنګونو، بڼه، د جنسي یووالي، د موسمونو د جوښ او خروښ ځرګندونه پیل سوه. د انساني بدن د ځینو اندامونو له پټولو څخه د ښکلا احساس سترګو، زلفو، د مخ کړه وړه، د رنګ او کالیو لوري ته واووښت.

د برټرېنډ رسل په وینا پخوا به په مندرونو کي له جنسي یووالي څخه د مځکي و شنېزي ته واک ور په برخه کېدی. د مثال په ډول د کروندې او جنسي یووالي کړه یو ډول کړه ګڼل کېدل، د کښت پر کرلو او رېبلو باندي د خوشحالیو لمانځني تر سره کېدلې، چي په هغوی کي به ښځو او نارینوو یو ځای نڅا کوله، پر داسي ځایونو باندي د جنسي یووالي لاره پرانستې وه، له هغو کړو سره هیڅ ډول ګناه تړون نه درلودی. د جنسي جذبې له ځرګندوني سره د ګناه احساس د یهودیت او عېسویت د خپروني سره و تړل شو، په داسي چاپېریال کي رومانوي مینه نه شي راټوکېدلای. په لرغونو اسطورو او کیسو کي د دیوتاګانو او پاچاهانو د مینو یادونه کېږي، خو په هغو کي د رومانویت رنګ ډېر تت دی او د هوس جذبه پر خوره ده.

د رومانوي میني د ودي غورځنګ د مېړنتوب له خوروني سره تړاو



2021.01.20 22:02

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، چي د مسلمانانو د واکمنۍ په دوره کي په سوریه (شام) او اندلس کي پیل شو.

د علي عباس جلالپوري په کتاب اولسي فکري تېروتني کي شېرخان تر ډېره غرق وو، هغه د رومانوي ميني او جنسي جذبې، هوس او ښکلا په اړه ډېر څه ولوستل، خو د ده زړه په دې ناکراره وو، چي په ګلوبل ويليج کي یوې خوا ته غربي نړۍ ده، چي د جنس په اړه دومره آزادي لري، چي يو صوفي او شيخ هم بې څه کولو نه سي ځنې پاتېدلای او بلي خوا ته زموږ ټولنه ده، چي څه نه کوې، نو ماحول دي نه پرېږدي او که څه کول و غواړې، نو ژبه، کلتور، حيا او پرده را مخته سي، آخر يو ځوان چي د دې شيانو په ګټه او تاوان خبر نه وي، د ګناه او ثواب مضمون يې ويلی نه وي، د غيرت او نامردۍ له موضوع سره بلد نه وي، هغه به څوک او څنګه له دې لاري را ګرځوي. همدغه سوچونو شېرخان نيمه شپه د خوب و نړۍ ته و رساوه.

........................................

شېرخانه! موږ خو دي په نقيب الله تر توري پوکي پوري راوستلو، چي ته نه يې؛ بس ګريز يې جوړ کړی وي، چي دی نو ولي له ما سره چای نه کوي او ما نو په ده څه کړي دي، ټول مارکېټ له ما سره کښېني، زه په هيڅ چا هيڅ نه کوم، دی نو ولي نخرې کوي او داسي نور..؟

ظاهر لالا! زه چي سهار وختي راسم، د ټول مارکېټ په دکانونو و ګرځم، له ټولو سره روغبړ او پوښتنه وکړم، بيا دکان خلاص کړم، ما کله هم د ده له دکانه مخ نه دی اړولی، خو... خو..

خو، خو څه... سمه خبره وکړه؟

ظاهر لالا! ته پوهېږې، زما او د ده په عمر کي ډېر فرق دی، زما او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده د خوښي موضوع هم سره یوه نه ده، چې مجلس سره پر و کړو...
خو د ده زړه درسره غواړي.
او زما له ده څخه تراه کېږي...
څنګه تراه دي څنې کېږي او ولي...؟
ظاهر لالا! دی زمان ګوري او نه مکان... بس چې وس یې و رسېږي،
نو په ډېر زور یې والله پوښتی را ماتې کړي...
نو د ده سره دومره مه فري کېږه..
بس، نو زه خو هم حت الامکان له ده څخه لاره چپوم، خو زه یې
وینم، د ده وږي سترګې هر وخت په ما کې ښخي وي...
بس شېرخانه؛ لږ یې د عمر خیال ساته، کله کله چې خلک ناست
وي، یو څو دقیقې ورسره کښېنه...
ظاهر لالا؛ څو واري مې داسې کړي دي، خو دی په یوه نه یوه بهانه ما
خپل کوشني دفتر ته واستوي، چې زه څه رنګه دفتر ته د هغه شي
لپاره ورسم، نو دی هلته را پسې راسي، بس نو...
څه لاس خو به یې نه وي در اچولی...؟
نه؛ والله زامې یې ور ماتې کړم، که داسې وکړي..
نو څه غواړي...؟
بس ځان دې خوا او آخوا کوي او هسې ځان را باندې مږي، دی
بدبخت څه خبر دی، چې...
ظاهر شاه نور څه ورته و نه ویل او شېرخان ته چې یې و کتل، نو ډېر
یې زړه پر وسو،
مجبوري هم بده بلا وي، معاشي مجبوري هم سړی و ډېر څه ته اړ
باسي... ظاهر شاه له ځانه سره و ویل او د باندې و واتی...
شېرخان دلته په سوچو سوچو د خیالونو نړۍ ته اسپه روانه کړې
وي، چې نازنین له خپلې خوندکۍ سره راسي او د سرخي طلب



2021.01.20 22:02

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي. شېرخان څو قسمه سرخياني ورته کښېږدي، دا دوې درې دانې پکښې خوښې کړي او شېرخان ته و وايي، چې زه يې پر شونډانو ګورم، هينداره چېرته ده، د سينګار هټۍ ښکلې هينداره پر شوکېس ښکاره پرته وي، خو دا ټينګار وکړي، چې په پټ ځای کي يې لګوم. شېرخان يې د څنګ کوشنۍ خوني ته واستوي او خپله د نورو ګيراګانو سره بوخت سي. نازنين پرله پسې اشارې ورته کوي، چې يو وار راسه، ښه ساعت وروسته چي شېرخان ډېر مجبوره کړي، نو ور دننه سي..

ها! خوښه دي سوه..؟

هو؛ ډېره لاکن...

لاکن ولې؛ معياري نه ده، که څنګه...؟

نه؛ خبره د معيار نه ده..

نو قيمت يې ګران دی...؟

د قيمت خبره هم نه ده...

نو بيا څه خبره ده...؟

ته غوږ راوړه...

زه يې اورم ستا خبري، و وايه... څه خبره ده.

خو دا ډېره پټه خبره ده...

کرار يې راته وکړه..

ته خو غوږ رانژدې کړه، نو...

شېرخان چي غوږ ور نژدې کړی، نو نازنين په سرخي باندي سره سوي شونډان په زوره د شيرخان پر بارخو کښېږدي او بيا يو تېره غاښ په جک کړي، د شېرخان له خولې څخه نرۍ چيغه ووځي، نازنين سره او سپينه سي، ورته و وايي:

که دي نارې جوړې کړي، نو والله چي په ټول مارکېټ کي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدنامه کړم...
له دې سره سم شېرخان ټینګ په غېږه کې و نیسي، ځان د مخ او شا له خوا پر مړې، په شېرخان غاښونه جګوي، له خولې یې بې ډوله اوازونه را ووځي، اوس خو له غاښونو سره نوکاري هم جګول پیل کړي او بدن یې ورتک سور کړي، له نوکارو سره چپلاخي او سوکان د نازنین د وحشت مست ترین ګامونه وي. شېرخان یو وار بهر و ګوري، بیا د دې د لاسو را نیولو هڅه وکړي، خو کله چې د دې لاسونه په لاس ورسي، نو دا نور هم بد شروع کړي، اوس خو یې له ډېره زوره د شېرخان قمیص هم ور چاک کړی او د شېرخان پر سینه یې داسي په زوره زوره غاښونه ور جګول، چې د زغملو نه وي، خپله سینه یې هم پړانستې وه، خو د شېرخان له خوا هیڅ د تودښت جذبه نه وه، ځکه یې بې ارامه کړه، آخر چې ډېره ستړې سي، نو شېرخان ټینګ په غېږه کې و نیسي، تر ډېره پوري د دواړو زورونه وي، کله دا ستړې سي او کله شېرخان... لاکن هر یو بل ته وار نه ورکوي، یو وخت له د دې لاس د شېرخان تر پرتوګاښه پوري رسېږي، شېرخان ورته وایي:
.. دا.. ارمان.. دي... والله...
یو دم نازنین زورورہ سي، لکه د لېونۍ پښې نوکاري غاښونه، لغتي او چپلاخي یې زور واخلي، دلته یوه کلکه جټکه و وهي او د شېرخان له خولې څخه چیغه ووځي...
څه وسو، څه وسو، څه وسو شېرخانه!
د دکان کوشنی نوکر شېرخان ته را منډه کړي، د شېرخان تر خوله ځګونه را روان وي، نوکر ظاهر شاه ژر را و بولي، هغه چې را ننوځي، نو د شېرخان په حالت پوه سي او ټینګ یې په غېږه کې و نیسي...
..........................................

2021.01.20 22:02

(c) ketabton.com: The Digital Library



زویه! نن د فرزانې لپاره ډېره ښه مرکه راغلې ده، د ښه پلار او نیکه خلک دي، په کلي او ښار دواړو کې کور لري، د کپړو ښه غټ کاروبار یې دی، د الله والا دي، د هلک په اړه یې هم و ویل، چې شپاړس جماته پاس دی، درې نوري نرېندې یې له ښو مړو مړو کورونو ښځه را ود (واده) کړي دي. بس ته یو کار وکړه، چې د هلک په باره کې لږ معلومات وکړه، چې دوی هم ژر حال غوښتی دی، د کورنۍ څه کسان یې عمرې لره تلل...

د شېرخان مور دا ټول مجلس تر ډوډۍ خوړلو وروسته په سره سینه وکړ.

سمه ده مورې! ته د هلک نوم او د دکان پته راکړه، زه به سبا سبا په پسې سم، دا خلک زه هم لږلږ پېژنم، خو بل سبا زموږ د سکول د ختونو د ملګرو په بولان کې پکنک دی، موږ پر موټرسایکلانو د ورځې له مخه ځو، په هغو کې یو هلک دا کورنۍ ښه پېژني، له هغه ځخه به زه معلومات وکړم، چې له ما ځخه هیڅ هم نه پټوي...

سهار خپل دکان ته تر تګ مخکې شېرخان هغه مارکېټ ته ورغلی، چې د خان محمد دوی دکان پکښې وو. شېرخان په مارکېټ کې څو واره تېر را تېر سو، د خان محمد کره وړه ته یې و کتل، هلته یو شناخته دکاندار پر پېښ سو، هغه په ټینګه د چای ست ورته وکړی او شېرخان هم ورسره و منله... او د چای پر مهال یې د خان محمد په اړه هم پوښتنه ځنې وکړه..

ښه ځوان دی، خاموشه، په چا کار نه لري، بس خپل کار کوي او پر خپل وخت لمانځه ته ځي، نور نو موږ څه ویلای سو...

د خان محمد په اړه که څه هم د دوست په خبرو د شېرخان تسلي وسوه، خو شېرخان نور هم غوښتل، چې په پوره پوښتنه یې تر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل سي، نو ځکه یې نور معلومات پر سبا پرېښوول...
سبا هم په نن بدل سو او دوی لس دوستان پر پنځو موټر سایکلانو باندي سهار وختي د بولان غره پر خوا روان سولو او په بولان کي یې د کوه باش هوټل و شاته په خلاصه فضا کي واړول. د بولان د مانده (خوړ) رواني روڼي اوبه، معتدله هوا، ډېرینه مځکه، شا او خوا غرونه، پر څرک د موټرانو او لاریانو ږغ ږوغ او پر دې ټولو سربېره بیا هم یوه پر اسراره خاموشي خوره وه... خلاصه فضا انسان په داسي مستي اخته کوي، چي په تورو کي بیانېدل یې ګران وي...
د ملګرو ټوکي، مسخرې، د یو بل حال معلومول، لوډو او پتي کول، کړایي پخول، په اوبو کي لمبېدل، پر یوه او بل باندي د اوبو پاشل... داهر څه لوبي یې تر سره کړې.. ماپښین مهال چي ښه ستړي سول، نو یې چای جوښه پر اور کښېښووله، دوی پر کمبله سره را ټول سول، د دوی دوست نثار ډېري ګپي کولې او دوی هم هره ګپه په خندا ورسره بدرګه کوله او هر ملګري غوښتل، چي و خاندي... له موقعې سره سم شېرخان له خپل یوه دوست څخه "چي د خان محمد دوی همسایه وو" د خان محمد په اړه و پوښتل، هغه لږ په سوچو کي سو، خو بیا یې له شېرخان څخه و پوښتل، چي څه لپاره یې پوښتنه کوې...؟
شېرخان صفا صفا ورته و ویل، چي د کورنۍ خلک یې په مرکه راغلي وو.
د خور لپاره..؟
هو؛ نو.. زما د کوزدې لپاره خو به مرکه نه راځي...
نه؛ نه! ګرد سره یې ور نه کړی...
ولي؛ څه په سوي دي؟ خو دوی وایي؛ تبلیغ لره هم ځي...
هو؛ ځي، به خو... بس ما درته و ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی خبره نثار واورېدله او په خندا خندا کي يې ورته و ويل، چي څه تبليغ تبليغ کوی، په چيله کي خو نه ياست روان... زما زامنو ورسی، ورسی، چي ښه مو چاپي کړي او د خپل زړه ارمانونه در باندي پوره کړي.

ګوره ياره! ماته سم و وايه. زما خور ستا خور ده. هر وروړ د خپلي خور ژوند خوشحاله ليدل غواړي...

شېرخانه! ما درته و ويل، چي مه يې ور کوه، دا هلک سم کېريکټر نه لري.

آخر نشه کوي، که څه بله دنده؟

هو؛ هو؛ د شيشې نشه کوي او بل...

بل څه...؟ پوره يې کړه، صفا راته و وايه.

پرېږده يې، ياره د خلکو پرده ولي په ما پورته کوې..

ګوره، د يو چا ژوند که ستا له لاسه په ارام سي او يو څوک ستا په وينا له يوې کندي و ژغورل سي، نو تا ته خو تاوان نه در رسېږي...

شېرخانه! ته هم زوروړ سړی يې، بس دومره درته وايم، چي زما د خولې به بيا بل چا ته نه وايې...

خان محمد هلکوان پر بوی نه پرېږدي.

شېرخان سړه ساه واخسته او کرار کښېنستی... د ملګرو چي ورته خيال سو، نو پوښتنه يې ځنې وکړه...

شېرخان لکه د خپل زړه خروښ چي کمول غواړي، نثار ته يې و ويل، چي ياره! دا زموږ په سيمه کي دا د هلکوانو مينه په کوم ځای کي ډېره ده..؟

نثار پر وخندل او په ګپه کي يې ور غبرګه کړه..

ولي؛ بيا خو چا نه ده در ياده کړې...

ياره نثاره؛ زه سيريس پوښتنه در څخه کوم، ته يې پر ګپه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړوي.
وروسته نثار او نورو ملګرو ښه په پوره ډول پر دې موضوع باندې خپل خپل نظر وړاندې کړی... نثار په پیل کې و ویل:
په مدرسو کې پلرونه خپل کشران یوازې داخل کړي او بیا په میاشتو میاشتو پوښتنه هم نه باندې کوي او دلته چې له هغوی سره څه څه کېږي، هغه له هیڅ چا څخه هم پټ نه دي.
بل ملګري څرګنده کړه.
چې پرون پرون په ډان ورځپانه کې په دې اړه د محمد اکبر نوتېزي یو فیچر راغلی وو او هغه دلته په شاهرګه. ډګاري. سورينج. مچهـ او نورو هغو سیمو کې "چې کویله را وځي" یوه بشپړه سروې کړې وه. دلته هغه کشران هلکوان "چې له نورو صوبو څخه د غربت له کبله په کار پسې راغلي وي" دلته د زیاتره هغو کار کوونکو "چې کلونه کلونه مسافر وي" او مالکانو تر لاسونو وځي... دوی مجبوره وي او چا ته څه ویلای هم نه سي، بس یوازې یې بېوزله ورځ دغه چارې په زغمي.
د دوی یوه سنجیده دوست یوه ناشوده خبره وکړه او و یې ویل:
زموږ یوه همسایه هلک پنځلس کاله په یوه ګېرج کې کار وکړی، چې کله یې دا ګېرج د یوې ناروغۍ له کبله پرېښوو، نو د ډاکټر په ټینګار سره یې ورته و ویل، چې
د ګېرج استاد هره دویمه او دریمه ورځ پنځلس کاله پر له پسې له ده سره دا لوبه کوله...
پنځلس کاله...؟ نثار په زوره زوه و خندل...
نو د خره زوی ولې خپل پلار یا ورور ته نه ویل، چې اوس یې ډاکټر ته و منل...
نثاره! د دې بڼغ نه کولو بېلا بېل وجوهات دي او دا خبره د منلو ده،



2021.01.20 22:03

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هر هغه ځای دا دنده کېږي، چې د هلک د کورنۍ له خوا د دوی ځارنه نه تر سره کېږي. هغه که مدرسه وي، سکول وي، ګېرج وي، هاسټل وي، غټه ګډه کورنۍ وي، پوځي بېرکان وي او که داسي نور ځايونه... په کوم هلک چې د پلار او مشرانو ځار نه وي پسې، نو هغه به هرو مرو له داسي سترو سره مخامخ کېږي او مخان به توروي...
آخر زموږ ټولنه ولي په دې ګند کي نښتې او ورسره مخامخ ده، دا خو زموږ د پلار او نيکه دنده نه ده، که څنګه...؟
زويه! ستا د پلار په کېريکټر نو ته څه خبر يې؟
نثار ګپه پر وکړه...
نه؛ نثاره، زه سيريس وايم، موږ بايد د دې خپلي ناروغي ټولني په معاشرتي، تاريخي او نفسياتي شاليد خبر و اوسو..
دا نو د نفسياتو د ماهرانو کار دی... واخلی؛ دا تودې تودې چای و څښئ، چي ځو، روانېږو. ماځيګر ناوخته سو، په متې ماخستن کوټې ته ورسېږو.

....................................

شېرخان يو خو د خور د مرګې په ناکامۍ غمجن وو، دويم د دې مسئلې په اړه فکرجن وو، خو د دې په اړه ده د علي عباس جلال پوري په اولسي فکري تيروتني نومي کتاب کي يو باب نښاني کړی وو او دريم واجد پر فون ورته "د شيدا او حنان پر تليز جاج" نومي کتاب کي هم يو باب ور په ګوته کړی وو، دا کتابونه يې سبا ماخستن ته پرېښوول، مور ته يې هم نن څه و نه ويل. دا خبرو شايد خوند ورکړی وو، که څنې بد زړی او بد ظنه وو، خو د ځوان و هره هغه خبره ته فکر ور اوړي، چي د بل له خولې يې واوري او تر څو چي يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عملي بڼه نه وي تر سره کړې؛ پر کراره نه کښېنې.
شېرخان نن د ستړيا له کبله ژر پرېواتی، له بلي خوني څخه يې يو ګول بالښت راوړی او له ځانه سره يې نژدې کښېښووی، مور پوښتنه ځنې ور څخه وکړه، چې دا څه په کوې...؟
ده په ځواب کي ورته و ويل، چې پر موټر سايکل باندي مي ورنونه لګېدلي دي؛ هغه ته ارام پر ورکوم، چې کله يې بتۍ مړه کړه او مور يې پرېوتله، نو و ده ته د نثار هغه خبره ور ياده سوه، چې و خپل دوست ته يې ماځيګر په ګپه ګپه کي ويلي وو، چې
زويه! پلار دي کنجوسه وو، زياتره يې په بالښت ګوزاره وه.
شېرخان هم بالښت د دوو پښو په ميان کي کښېښووی، لومړی سر خو يې تر پښو لاندي خوند ورکړی، چې پښې يې تر بدن پورته وې او وينه د سر خوا ته په حرکت زياته سوه، پر موټر سايکل د ډېري ناستي له کبله يې پښې پړسيدلي وې، کرار کرار يې د لېنګيو مابين ته بالښت را و رساوی، خو دلته يې زړه بد سو... کله چې يې بالښت د ورنو ميان ته کړی، نو شېرخان د سوچو نړۍ ته ور و دانګل، بس د ده ليلا وه او د ده زورونه... د ده زارۍ وې او د هغې نخرې... خو نن د هغې ټولي نخرې بې ځايه وې، ځکه چې دا وخت شېرخان د هري خوا پر غالب وو، هر څه د ده په قبضه کي وو، چې هر کله به دې زور وکړی، خو ده به په هغومره زور دا را ټينګکه کړه، هم دا زور به د ده ورنونو ته نور خوند ورکړی.. کله به شېرخان يو طرف ته سو، کله به دا بل اړخ ته، خو دا ټول حرکت د شېرخان په خوښه کېدی... شپه وه، د وصال چې نه ختمېدله او په هره لحظه او شېبه کي يې د خونډونو يو جهان پټ وو، خو شېرخان دا يو کار نه کاوی، کوم چې د نثار په قول د ده د دوست پلار کاوی، بس غېږه وه، سينه وه، د ورنونو جنګ وو او هم په دغه وصالي جنګ کي د شېرخان شپه په ډېر خوند



2021.01.20 22:03

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېره سوې وه، چې سهار د لمانځه لپاره مور ږغ پر وکړی، خو دی د لمانځه کولو نه وو...

....................................

نن په کوټه ښار کي د دوو تاجرانو د تېښتې او وژلو په وير او غم کي هړتال وو، شېرخان د شپې لا خبر سوی وو، ځکه ناوخته را کښېنستی او تر ناشته کولو وروسته د هغو دوو کتابونو و لوست ته لېواله وو، کومي موضوع چي دی سربداله کړی وو، ولي ډاکټر نادر ورته ويلي وو، چي پر کومه موضوع دي لاسبر تيا نه وي موندلې، نو تر هغو ستا ذهن نه سي پر کراره کېدلای، نو ځکه هر وګړي ته په عامه توګه او ځوان ته په ځانګړې توګه په کار ده، چي په ذهن کي يې کومي پوښتني را پورته کېږي، د هغه ځواب په کار دی؛ تر لاسه کړي. که چېري ثوک له حقيقته ثخه سترګي پټي کړي، نو دا حقيقت يې بيا ټول عمر پر کراره نه پرېږدي، نو ځکه تر ناشته وروسته شېرخان د مېلمنو په خونه کي يوازي کښېنستی او د هم جنسيت په اړه يې له "اولسي فکري تېروتني" او د "شيدا او حنان پر تليز جاج" ثخه د امرد پرستۍ په اړه دا معلومات تر لاسه کړل.
د دې ناروغۍ پيل له مصر ثخه کېږي، چېري چي د ماتا آيس دېوي په معبد کي هيجړاګان اوسېدل او زيارت کوونکو (زايرينو) به ورسره تمتع کوله، د قديم مصر د يو ليک ثخه "چي ثلور نيم زره کاله زوړ دی" دا معلومېږي، چي په سدوم او ګموره ښارونو کي د امردو قحبه خانې وې او سدوميت (Sodomy) توری هم د دغه يادګار دی. د عهد نامه قديم په بابِ پيدايش کي راغلي دي، چي کله دوې حسيني فرشتې د هلکوانو په جامه کي د سدوم د تباهۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره د حضرت لوط کور ته راغلې، نو سدومیانو د حضرت لوط کور شا او خوا را ګیر کړی او د فرشتو غوښتنه یې ځنې وکړه، خو دې فرشتو په خپل روحاني طاقت دا سدومیان ړانده کړل او خپل ځانونه یې ځنې بچ کړل.
فنیقیانو چې کله د شمالي افریقې پر ساحل کاتهیج ښار اباد کړی، نو هلته یې هم دې کاروبار ته وده ورکړه. د یونان ښار کورنته هم د دې سدومیت لوی مرکز وو، یونانیانو و خپلو ښځو ته په ډېره سپکه سترګه کتل، په کور کې به یې دننه ساتلې، د هغوی خیال وو، چې رنډیاني د زړه خوشحالولو لپاره وي، مینځې د روغتیا پالنې لپاره، مایني د اولاد زېږولو لپاره وي... د میني رښتونې جذبه یوازې د نارینوو د خپلوی په بڼه کې را سربېره کېږي، له دې ځایه دا مرض تر ایرانه پورې را و رسېدی...
افلاطون چې په خپله مکالمه سمپوزیم کې د میني کوم لوړ او ارزښتناک انځور وړاندې کړی دی؛ هغه د هم جنسی ډول دی.
نامتو لیکوال هومر لیکي:
"نوی ځوان د نړۍ حسین ترین مخلوق دی"
په اسلام، یهودیت، هندومت او آتش پرست مذهبونو کې د هم جنسیت یا سدومیت په اړه ډېر سخت ممانعت راغلی دی. قسطنطین د سدومیت سزا مرګ و ټاکله، د مجوسیانو په شریعت کې د سدومیانو سزا مرګ وه. په اوستا کې سدومیت دروند او سنګین جرم و ګڼل سو، چې له کبله یې د نسل پر پراختیا باندې بده اغېزه کېدله. له وخت سره سره د مذهب زوال او کمزوري را منځته سوله او په یورپ او مسلمانانو کې هم جنسیت غځوني وکړې، په روم کې هر کال د پوپ په حکم په سوو ځوانان خصي کېدل، چې د دوی د اواز نزاکت هم هغه رنګه پاته سي، ولې چې دوی به مذهبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سندري ويلې او د باچهانو د هوس نښانه جوړېدل، د دې هيجړاګانو له کبله روم هم د سدوميت مرکز و ګرځېدی، په پخواني چين کي د ډوکالۍ په وخت کي به پلرونو خپل نابالغه زامن خرڅول، چي دوی به بيا د امردانو په قحبه خانو کي داخلېدل. د ايران د کلتور او ژواک اغېز پر اسلامي نړۍ هم پرېواتی او د بنو عباس په عهد کي، د ترک په ټولنه کي، د مصر بنو فاطمه او د هند د مغل باچهانو په ژوند کي هم دغه وبا ليدل کېږي. سکهان هم د هم جنسيت منونکي دي، د رنجيت سنګه عشق هم د ګلاب سنګه سره خورا په زور کي وو.

پوهان د هم جنسيت سوب نفسياتي ګڼي، د وليم سټيکل او کلفور ډايلن څېړنه دا وايي، چي هم جنسيت فطري نه بلکې په نفسياتي نظام کي د څه خلل په راتللو سره پيدا کېږي، بل خوا يو ساينس پوه هېويلاک ايلس وايي، چي هم جنسيت هيڅ يو نفسياتي مرض نه دی، د ده په خيال هم جنس پرست ته ناجوړه ويل زياتوب دی، ځيني نارينه له ښځو څخه مايوسه سي، يا د احساسِ کمترۍ په سوب هم جنس پرستي خپله کړي، دوی ته دا خطر ور پيښ وي، چي دوی د ښځو جنسي خواهشات په بشپړه ډول نه سي پوره کولای، په غربي هېوادونو کي و هم جنسانو ته د دماغي او نفسياتي خلل په وجه نه کتل کېږي؛ بلکې دوی ته د يوه ناجوړه يا ناروغه په سترګه کتل کېږي. دا خبره اوس دوی تسليم کړې ده، چي د ټولني د نفرت او له دوی څخه مخ اړونه د دوی د ګناه احساس نور هم زياتوي او دوی له يو عام وګړي څخه د يو ناروغه په رنګ ژوند تېروي.

شېرخان په وروستۍ برخه کي دا پاڼي ډېر په ځير و لوستلې، چي د هلکوانو د هم جنسيت په سوب په نړۍ کي د ايډز ناروغي تر ټولو زياته خورېږي او له دې سره تور ژړی، هېپاټايټس سي، (HCV) او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوري بدي او خطرناکي ناروغۍ د همدې شوق له کبله خورېږي...

..............................................

ماځيګر د هر تال له کبله دوی هغه د بولان د سيل ياران بيا يو ځای د ګلوبل سينټر پر هوټل سره را غونډ سولو، نن دلته د شېرخان يار واجد هم په محفل کي شريک وو، د دې ځای سموسې او جلېبۍ ډېري خوندوري وي، نثار چي جلېبۍ خوله ته کړې، نو په خندا سو، ويل يې، زموږ د کندهار يو ملګری ښايسته هلک ته جلېبۍ وايي، له همدې ځايه نور مجلس شېرخان پر مخ داسي بوتلی، چي:
د انسان په بدن کي تر ټولو ناپاک ځای ته ولي خلک هوس کوي...؟
يو بل سنجيده ملګري و ويل، که چېري هم جنسيت تر دغه انسان او ځوانۍ پوري پاته سي، خو ښه به وي، دوی خو چي سپين ږيري هم سي، نو بيا "حيا دي ډېره وي، ستا سو له مخه" پر ځان ځوانان خېژوي او دې ته يې د علت المشايخ نوم ورکړی دی...
نثار په زوره و خندل او شېرخان ته يې و ويل،
زويه! ستا همسايه نقيب الله خو دغه دنده نه کوي.
پر دې خبره ټولو و خندل...
تر چايو څښلو وروسته واجد څه ځان سره سم کړی، را مخته سو او پر دې موضوع باندي يې په داسي توګه د خپلو معلوماتو اظهار وکړی...
د هري ټولني خپل اقدار وي، زموږ پښتني ټولنه که يوې خوا ته د اسلام د سپېڅلي دين پيروکاره ده، نو بلي خوا ته پښتو خپله هم يو دستور دی او په دې دواړو کي د دې شي سخت ممانعت څه چي په ډېره کرکه او نفرت ورته کتل کېږي. زه دا نه وايم، چي دا وبا زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سینګار هټۍ

په ټولنه کې نسته، زموږ د خپلو رسمونو او عادتونو له کبله دا ناروغي دلته شتون لري، لکه په کاروبار پسې له کوره په میاشتو میاشتو ورکېدل د دې لوی سبب دی. زموږ دین و موږ ته د څلورو ودونو اجازت راکړی دی، خو د غربت او زموږ د کلتور له کبله دویم واده ته لا دلته په ښه سترګه نه کتل کېږي، دریم او څلورم خو ګرسره پر لویه لاره پرېږده... خو که هر څه اسباب یې دي، د دې مرض دواړي خواوي فاعل او مفعول زموږ د ټولني د سخت نفرت وړ ګرځي. هیڅ څوک یې دوستي نه خوښوي، نه څوک رشته ورسره کوي، نه کاروبار او تجارت... هغه ځکه چې غیر فطري لار انسان له ډېرو اندېښنو سره مخامخ کوي او بل دا چې نن سبا کومي خطرناکي ناروغۍ له دې وبا څخه پېښېږي، نو په کار دی، چې ریاست د دې د مخنیوي لپاره قوانین جوړ کړي او دا هم چې زموږ هر ځوان ته په کار ده، چې د دې په ضد تبلیغ وکړي او د ځوانانو په راګرځولو سره ټولنه له دې څخه و ژغوري.

واجد چې څه رنګه خبره پوره کړه، نو نثار په سنجیدګي سره و ویل: درځئ؛ ټول نقیب الله لره په تبلیغ ورسو، چې خدای ته و ګوره، په دې لاره کې نور تګ د ایمان زیان دی،

پر دې خبره ټولو یو ځل بیا سره و خندل.

.....................................

شېرخان د خور د کوزدې په ناکامۍ ډېر خفه وو، په خپلو ملګرو کې یې کتل، چې یو نېک، صالح او با عمل انسان یې له خور سره کوزده وکړي، خو "چې اوسې؛ په خوی به د هغو سې" څوک داسي یې په نظر نه راتلی، ولي د ده شا او خوا هغه ځوانان ګرځېدل، چې فېشن خوښوونکي د نوي جدید ژوند له غوښتنو سره روان وو او څوک په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشه، څوک په جنسي اړیکو او څوک له نورو سره په رومانوي کیسو ککړ وو.. ده به له ځانه سره سوچ کاوی، چي هلکوان خو داسي ښایسته، سپېڅلې، سوچه، ذهینه او خاندانه نجلۍ ځان له غواړي، خو موږ ځوانان چي خپل ځان ته و ګورو، هیڅ څوک هم داسي صفا نه وي، نو ځکه خیال يې سو، چي نجوني به د هلک په اړه څه سوچونه کوي، بیا خپل زړه ورته و ویل، چي دا خو انساني خصلت دی، چي هر څوک د ځان ملګری صفا، سوچه، حسین او نازنین غواړي او بل دا هم چي یوازي او یوازي د ده په برخه وي، ځکه نجلۍ کله هم په خپله مینه کي څوک نه ګډوي او بیا چي به يې خیال د خپلي خور و خوا ته ولاړی، چي دا مسکینه خو ټوله ورځ په کور کي بنده وي، نه له چا سره لیدل کتل کوي او نه له چا سره خبري... نه له کوره بهر را وځي او نه موږ د فون کولو ازادي ورکړې ده، فقط په ټیلي وژن کي ډرامې ګوري او یا چي يې کله خوښندي کور ته راسي، نو له هغو سره خوشحاله وي. بیا به يې سوچ و واهی او له ځانه به يې پوښتنه وکړه، چي دا موږ له خپلو نجونو سره ظلم نه کوو، چي له هر هر څه څخه مو محرومه ساتلي دي. تر واده مخکي او تر واده وروسته بس په کور کي دننه د خدمت ګاري او د کور د نوکري په حیث.. خو یو دم د شېرخان فکر ته بله خبره را ولوېدله، چي دا خو زموږ نجوني دي، چي موږ يې د بدن او ذهن پړدې بندي ور ساتلي دي، بیا يې سوچ وکړی، چي دوی خو موږ پابنده ساتلي دي، آیا! د دوی پر سوچ او فکر خو بندیز نه سو لګولای، نو دا څه رنګه کېدلای سي، چي دوی دي د پېغلتوب مست دوران بې له سوچه او فکره تېر کړي، جنس خو په انساني جبلت کي شامل وي او ښځه خو بیا په میاشت کي څو شپې د دې جبلت په انتهایي سختو حالاتو کي وي، چي د طب له نظره هم د دوی خواهشات را پورته کېدل فطري خبره وي، نو دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه رنګه د خپل خواهش اظهار کوي. ښايي؛ دوی خپل خواهشات تر پښو لاندې کوي، يو بل ته يې بيانوي، له يو بل سره اړيکي ساتي، خوبونه ويني، خوراکونه کوي، لاسونه وهي، اتڼ کوي، که څه..

دا وخت د شېرخان ذهن ته ډول ډول سوالونه راتلل، خو د دې و شاته د خپلي خور معصومه څهره او کردار وو، چي په پټه خوله يې هر څه زغمل، څکه شېرخان اوس نيتې ته اړ سو، چي د دې پوښتنو ځوابونه و مومي...

تر ډېر زيار وروسته يې د نېنسي فرايډې (Nancy Friday) له کتاب (Women On Top) ښځه څو کرښي ولوستلې، چي عنوان يې وو:

(How Real Life Has Changed Women's Sexual Fantasies)

په دې اړه نور تفصيل څکه نه وو، چي انګرېزان هوښياران دي، د هر شي قيمت وصولوي او د دې لپاره به د دوی کتابونه څوک اخلي او يا به په نيتې کي څوک پيسې جمع کوي او نور معلومات به بيا دوی ته په بيعه ورکول کېږي... شېرخان فقط هغه درې کيسې په ځير ولوستلې، چي پر دې پاڼه په وړيا توګه پرتې وې ، دی چي کله له نيتې ښځه وزګار سو، نور په اضطراب کي را ګير سو، د ده خو لومړی خيال دا وو، چي بس ځوانان خپله ځواني په سوچو او بېلاريو تېروي، خو چي هر کله د پېغلو پر جنسي خيالاتو، د دوی په پټ عمل او کارونو خبر سو، نو غوږونه يې و نيول او کاهښت يې نور هم زيات سو، ده غوښتل، تر دې له مخه چي نجوني خپلي ګوتي په تور پوري کړي، په کار دي، چي موږ د دوی د ښه مستقبل او واده لپاره په عمل ګوتي پوري کړو.

.........................................

(c) ketabton.com: The Digital Library


شېرخان ورځ تر بلي د خور د واده او د خپل مستقبل په اړه فکرجن کېدی، د ده مخته لوی خنډ د ده غربت وو. د ده شوق که هر څو ده تر پښو لاندي کاوی، خو د ده دننه شېرخان په هیڅ ګون ساده ژوند نه خوښاوی. د ورځي پنځه سوه روپۍ او د میاشتي لس زره روپۍ چي ټولي پنځه ویشت زره روپۍ میاشتنۍ تنخواه جوړېدله، دومره نه وه، چي د دوی دي د خور د واده کړدار او سره زر په جوړ کړي. د مور دایمي ناروغي، څلور پنځه زره هره میاشت د هغې پر دارو درملو ګارېدلې، د کور خرڅ، د اوبو، بجلۍ او ګېس ګران بِلان... شا او خوا چي به یې و کتل، هیڅ بله اسره یې نه لیدله، د خور د پېغلتانه اوږدېدونکی دوران اوس شېرخان نور نه سو زغملای، ولي چي هري خوا ته د فتنو وبا را الوتې وه، دویم دا چي د مور صحت یې پر داسي حال وو، چي که خدای مه کړه؛ په دې څه وسو، نو خور به یې چاته پاته کېږي، هم دې غمونو ورځ تر بلي شېرخان ځوراوی، نن یې هم له همدې غمه د یارانو په مجلس کي په لومړي ځل د سګرېټ څو کشه و وهل، ملګري ورته حیران سول، چي پر هر څه ستونزو او سترو سربېره هم شېرخان کله د نشې لوري ته پام نه وو اړولی... اوس د شېرخان و مخ ته څو لاري وې، چي یا خو هغه آفرونه و مني، چي په هغوی کي ښه نوکري، ماډلنګ، اداکاري او د شوبز دنیا وي او یا د بل داسي چا سره نوکر سي، چي هلته تنخواه زیاته وي او یا کوم بل ښار ته د نوکرۍ لپاره ولاړ سي، یو پټ خیال دا وو، چي د ده د سکول یوه بدمرغه دوست ورته ویلي وو، چي په دې کار کي په لږ وخت کي ډېري پیسې ګټل کېږي... همدې سوچونو شېرخان د ژوند پر یو داسي چارسو درولی وو، چي ده د را روان ژوند په هکله هیڅ ډول فیصله نه سوای کولای. د ده ځواني او فکرونه دومره پخته نه وو، چي د ځان او کور په هکله کوټلې فیصله


2021.01.20 22:04

Ketabton.com: The Digital Library



وکړي او دا پړاو هم هغه وي، چې ځوانان له خپلي لاري څخه ښکېږي... یا یې بخت بیداره سي، ده ته اوس د خپل پلار یاد او د هغه لارښوونه هر وخت تر سترګو کېدله. ده هم غوښتل، چې د ده نور وروڼه وای، نو د ده وړه به په درنه وای. که څه هم د ده دوستانو ده ته هر وخت ښې مشورې ورکولې، لاکن هغوی د ده په پټ راز خبر تیانه درلوده.

تر ښه ډېرو فکرونو او سوچونو وهلو وروسته دی یوې فیصلې ته و رسېدی، چې د خپل ژوند د فیصلې مخته د خور د کوزدې او واده کار په مخه کړي او د دې لپاره چې هره ستړې مخته راځي، دی به یې پر ځان باندي وړي.

....................................

د شېرخان په خوښه ده ته نن د یوې فلمي اېډورټایزنګ کمپنۍ ډایریکټر فون را وکړی...

ما وختي لا درته ویلي وو، چې له موږ سره کار وکړه..

نو ستاسو د کار نوعیت به څه وي..؟

شېرخان په نرمي ورغبرګه کړه...

بس هیرو به یې هیرو..

خو آخر دا به څنګه کار وي..؟

ډرامې، ماډلنګ، سټېج شو او نور...

د ډایریکټر په لهجه کي اعتماد وو..

او نور... به څه وي..؟

بس پیسې به وي، ګلېمر به وي، ستا ډیمانډ به وي..

زما ډیمانډ د څه لپاره؟

شېرخان په معصومانه انداز پوښتنه وکړه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوره شېرخانه! دومره ساده مه جوړېږه..
په دې کې د سادګۍ څه سوال دی، زه په دې فیلډ کې ناولده یم.
ګوره؛ ته چې مشهوره سې، نو د معاشرې هر یو فرد به ستا د دوستۍ خواهش لري او خاص کر پېغلي نجوني خو به درپسې مري...
پېغلي نجوني...
شېرخان یو سوړ اسوېلی وکیښ، خو ډایریکټر یې په ځان نه کړی پوه او ژر یې ورته و ویل:
ما ته به تنخواه څومره را کوی..؟
ساده ګله! په دې کار کې تنخواه نه وي، چې څومره کار کوې؛ د هغه به معاوضه درکول کېږي..
خو آخر دا به څومره وي؟
چې څومره مشهوره کېږې؛ هغومره به دي تنخواه زیاتېږي..
د ډایریکټر دا آخري خبري شېرخان لږ شکمن کړی او په چټکي سره یې پوښتنه ځنې وکړه..
زه پوه نه سوم.
پوه به سې، چې دې میدان ته راسې، د هر ډایریکټر خپل خپل رېټونه وي، خپل خپل پرسنټېج یې وي...
شېرخان یوه بله پوښتنه په ډېره سادګي ورڅخه وکړه.
د ورځې به څو ګهنټې کار وي..؟
هاها.. ته ډېر ساده یې..
د ډایریکټر کړس کړس خندا شېرخان لږ شکي کړی، خو بیا یې بیرته په چټکي سره ورته و ویل.
اصل کې زما کور یوازې دی، زه له شپې بهر نه سم پاته کېدلای.. نو دا به څنګه سي..؟
شېرخانه! دا مسخرې نه دي، په شپو شپو شوټنګ، له کوره ورک،



2021.01.20 22:0

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناخوبي، ستړيا.. دا د دې شعبې بنيادي لوازمات دي.
ډايريکټر صاحب! زه هر څه کولو ته تيار يم، لاکن خپله خور او مور د شپې يوازي نه سم پرېښوولای..

.................................

پر ټولو ستړياوو سربېره هم شېرخان سينګار هټۍ ته پوره وخت ورکړی وو، چي تر اوسه پوري دا د ده لپاره يکي يوازي د معاشي ګټو ځای وو، چي د کور ګذران يې په کېدی او د ده د فېشن او خواهشاتو پوره کولو لاره هم. دلته هره ورځ هغه ډول ګڼه ګوڼه وو، خريدارۍ، د دکان د مالک معاشي پرمختګ او د شېرخان له وجهي د ژوند مېله تازه وه، که څه شېرخان به د سترو له کبله کله کله په ځان ګوتي نه وهلې، خو د ده قدرتي حسن دی لکه غمی هر ګاډۍ راغله، د دوی د مارکېټ مخته و درېدله، دوه عسکر د موټره را کښته سوه، سيخ سيدها د سينګار هټۍ ته ور ننوتله.
ښايي؛ دا د دې دويم يا دريم وار وو، ژر ژر يې لږ د مېک اپ سامان خوښ کړی او بيا يې شېرخان ته ور غبرګه کړه...
ما تا ته اول هم ويلي وو، چي ته ډېر مست يې..
مېډم؛ تا په ما کي کومه مستي احساس کړې ده..؟
په هغه ته نه پوهېږې..
نو ته ما په پوه کړه..
شېرخان د مېک اپ سامان په الماري کي پر خپل ځای کښېښووی.
ته دلته را نژدې سه، چي زه دي پوه کړم..

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېرخان پر کاونټر لاسونه کښېښوول او مېړم ته یې سترګي په سترګو کي ور ښخي کړې..
اوس و وایه؛ تا څه ویل؟
ما ویل؛ ته ډېر مست یې..
هغه څنګه؟
زه چي تا ته ګورم، ستا له هره اندامه څخه مستي را اوري...
نه مېړم؛ ته پوه سوې نه یې، نن په اصل کي ډېر یخ دی، ما ځان داسي سره پېچلی دی او نن په ښار کي ګېس هم کم دی..
راځه له ما سره.. داسي به دي ګرم کړم، چي ټول یخ به دي له بدنه ووځي.
نه مېړم، ډاکټر را ته وایي...
ډېره ګرمي ستا د بدن لپاره ښه نه ده،
شېرخان د پند په انداز خبره ور غبرګه کړه..
زه به ستا پر بدن لکه واوره داسي و اورېږم...
ته خو مي نه یخ ته پرېږدې او نه ګرمي ته، مېړم..
شېرخان لږ مسکی غوندي سو...
مېړم ته دې نرۍ خندا ډېر خوند ورکړی او خپل ښی لاس یې د ده پر نرمو لاسو ور کښېښووی، چي د خوښۍ یو نامعلوم غوندي احساس ور ته وسو او سوکه یې ور ته و ویل...
شا او خوا خلک ولاړ دي، زما دلته درېدل له خطرې خالي نه دي، کور مي یوازي دی، کرنل هم په دوره تللی دی، ما ویل؛ راځه له ما سره...
لاکن مېړم د څه لپاره... زه خو دلته په کار لګیا یم...
ستا کار به زه در وکړم او زما کار به ته را وکړې..
..............................



2021.01.20 22:05

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یخ له کبله نن ګاونډي دکاندار نقیب الله د لاندي ښوروا له کوره را غوښتې وه، څلور کاسې یې تر خولې پوري ډکي جوړي کړي وې او خپل نژدې شا او خوا ملګري یې را و بلل، د سینګار هټۍ ته راغلی، د دکان مالک ظاهر شاه ته یې وختي لا ست کړی وو. دواړو په ګډه و شېرخان ته و ویل، راځه؛ نن به د یخ اثر د ګرمي ښوروا په خوړلو لېري کړو...

شېرخان د ظاهرشاه خبره و منله او له دوی سره روان سو...

پر څونې نقیب الله ډېر کوشش وکړی، چي د شېرخان تر څنګ کښېني، خو د ظاهرشاه او ګل باران په مابین کي شېرخان داسي جوخت کښېنستی، چي نقیب الله د هر څومره کوشش باوجود هم هلته ځان ځای نه کړی، ځکه نو راغلی او مخامخ ورته کښېنستی او ستر ګي یې په شېرخان کي ښخي کړلې... د ناز خو یې دا حال وو، چي یوه ګوله به یې خپله کوله او دوه واره به یې د لاندي غوښه د شېرخان خوا ته ور اړوله، ګل باران چي په مسخرو کي یې ثاني نه وو، و نقیب الله ته و ویل:

زویه! د کوشنیوالي یار دي زه یم او مهرباني دي پر شېرخان ډېره ده...

نقیب الله چي حاضر ځوابه وو، ور غبر ګه یې کړه.

دی ځوان دی، ضرورت یې لري، یخ یې کېږي، په تود به سي، تا خو هسي هم ډېري غوښي خوړلي دي...

په غوښو خوړلو کي خو ته هم تر چا نه یې کم... دوی ته دي حال و وایم.

ګل باران نقیب الله لږ جذباتي کړی..

د غوښو خوړلو خپل خپل وخت او خوند وي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقیب الله بلي خوا ته د موضوع وړلو هڅه وکړه..
هو؛ زویه! د مرغانو او حیوانانو غوښې خو موږ هر وخت خورو او خوند پر اخلو، ته خو د انسان د غوښو شوقین یې.
ګل باران ناشوده ټوکه پر وکړه.
د دوی د بحث په مابین کې ظاهر شاه لالا ور ولوېدی او ورته و یې ویل:
تاسو دا کوم لا حاصل بحث را اخستی دی، پرېږدی؛ دا ګرمه ګرمه ښوروا وخوری، در څخه سړېږي..
هو؛ ظاهر لالا! زه هم دا وایم، خو نقیب الله په دې عمر کې لا هم نه سړېږي او د غوښو طلبګار دی.
ګل باران بیا ټوکه وکړه...
شېرخان و خپل مخ ته پروت د لاندي سپین لم و نقیب الله ته ور واړاوه.
ګل باران له شېرخان څخه پوښتنه وکړه، دا غوښه دي ولي ور کړله.
خو تا ویل، چې دی د غوښو ډېر شوقین دی.
هو واقعي؛ د غوښو شوقین دی، خو سپینه غوښه بیا پر بوی نه پرېږدي..
شېرخان لږ ډاډه سو، ګل باران او نقیب الله یو بل ته سره و کتل او په سترګو سترګو کې سره موسک سول، پر ماحول لږ خاموشي خوره سوه. د مارکېټ ملګرو پر ښوروا ډېر خوند اخستی وو، نقیب الله چې څه رنګه سپین لم نوشِ جان کړی، نو ګل باران و شېرخان ته و ویل..
ستاسو همسایه نقیب الله توره غوښه هم نه پرېږدي...
د شېرخان و مخ ته یو تور خچوکی پروت وو، هغه یې هم و نقیب الله ته ور مخته کړی...

(c) kitabton.com: The Digital Library



دې پلا ګل باران پر شېرخان ټوکه وکړه.
تاسو څه يو بل ته سپيني او توري غوښې لوروی، موږ مو تر مايين محروم پاته کړلو..
شېرخان د ډېري سنجيدګۍ او پوهي باوجود لږ ساده وو، د ده په رموز پوه نه سو او ګل باران ته يې و ويل..
ما ډېره غوښه و خوړه، نقيب الله لالا خپله برخه ما ته را کړې وه، ځکه ما بيرته ور واپس کړه..
ګوره؛ ستا خو په دې سر خلاص سو، چې نقيب الله لالا "په قول ستا" و تاته خپله غوښه پېرزو کوي..
هو؛ ګل باران لالا! زه خو احسان فراموش نه يم.
نو که کله ده له تا څخه ستا غوښه و غوښته، ستا ځواب به څه وي.
ګل باران د پاخه کوني پر چم خبره ور تېره کړه...
ګوره، ګل باران لالا؛ زه پخپله د پسه غوښه کمه کمه خورم، د چرګ او ماهي غوښه مي خوښه ده، زه به يې کورته پخه کړم، چې د ده خوښه وي، هغه ډش به د يخ په ورځ راوړم او نقيب لالا ته به لويه برخه پکښې ور کړم.
ټولو و يو بل ته په حيرانۍ سره و کتل...

.........................................

د وخت په تيرېدلو سره د شېرخان تجربه او مشاهده هم زياتېدله او د حقيقت او ګمان نړۍ ور ته نوره تابانه او روښانه کېدله.
د ټولني د وګړو کردارونه او رويې د انسان هر حس بيداروي، خو د ځوانۍ، دولت او حسن نشه په دې پوهنه کي لږ خنډ او ځنډ اچولای سي. شېرخان که د حسن او ځوانۍ نشه په مغزو کي لرله، خو د ده غربت به دا نوري نشې لږ را کمي کړي وي او همدا د ده بخت وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې ده ته یې د حقیقت د لارې درک ورکولای سو... زیاتره ځوانان چې ځواني، حسن او دولت و لري، د هغوی ژغورنه لږ ګرانه وي او که چېرې یوازې ځواني او دولت له چا سره وي، نو هغوی هم په اسانه له یوې لارې نه سې را ګرځېدلای. د شېرخان په مغزو کې چې به کله کله نورو غوښتنو او جذباتو سر را پورته کړی، نو د مور او خور تربیت او ذمه واري به دی له بلې لارې را و ګرځوی. کله چې به یو بل چا شارټ کټ لاره ور وښووله، نو د مخلصو ملګرو لارښوونې به دی له هغې لارې را و ګرځوی، خو له نورو سره د ده تر اوسه پورې په دې سر نه وو خلاص سوی، چې په ټولنه کې د نورو بلاوو او مصیبتونو په پرتله جنسي لوږه ولې په دومره ژوره توګه پنجې لګوي او هر دویم کس ولې د ده له لارې د خپلې لوږې احساس ځرګندوي... آیا! دا داسې لوږه ده، چې فقط په یوه یا دوو خړوبېږي، د دې لپاره به هر کس د خپلې ونډې خیرات کوي، که یا، یوازې د شېرخان شا او خوا ماحول له ده څخه دا توقع کوي.. له همدې پوښتنو د ځواب او په دې حالاتو د خبرېدلو لپاره دی و هغه طبي او اصلاحي سمپوزیم ته ډېر خوش بینه وو، کوم چې دوې ورځې وروسته د ډاکټر نادر خان د څانګې له خوا په سرکاري روغتون کې را بلل سوی وو او په دې کې هغو ټولو کسانو، تنظیمونو او ډلو ته بلنه ورکول سوې وه، څوک چې په څه نه څه حواله له دې موضوع سره اړوند وي، په دې سمپوزیم کې اړوندو کسانو ته د دوو نورو ملګرو د شرکت اجازت هم وو. شېرخان پر خپل وار خپل خوږ دوست واجد او نثار ته هم ویلي وو او له ځانه سره یې تیار کړي وو، چې په سمپوزیم کې به هره ډله په خلاص مټ پر هر کېس باندې خپله رایه او مشورې ورکوي او په ګډ بحث کې به هم برخه اخلي.

.....................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شېرخان مور ته نن پروين نرسي فون را کړی وو او د دې د صحت او روغتيا د پوښتني په څنګ کي يې زياتي پوښتني د شېرخان په اړه کړي وې. ماخستن چي شېرخان کور ته راغلی، نو مور يې د پروين د فون او خبرو په اړه ورته و ويل... تر دې مخکي چي شېرخان به خبري ته خوله جوړوله، فرزانې په چټکي سره و ويل:

موره! ته نو څه د شېرخان خوښه پوښتې، ښه ښايسته پېغله ده، نوکري لري، اخلاق لري او کورته به ستا علاج کوي، بس يوه ژبه يې زموږ نه ده، نو څه وسو، زما او ستا اردو زده ده، زه به پښتو هم ور زده کړم.. بس موري ته هو کړه، شېر لالا پرېږده او خوښه يې پرېږده..

لېونۍ؛ ما لومړی هم تا ته درخلاصه کړې ده، چي ستا لاسونه مي نه وي در سره کړي، زه تر هغو هيڅ نه کوم.

شېرخان په ډېر ناز د خور ځواب و وايه.

ته خو يو وار هو.. وکړه، موږ به کوزده وکړو، نوري خبري به بيا ګورو...

فرزانې! يوازي د کوزدې خبره نه وي، له کوزدې سره ډېري خبري تړلي وي. ته داسي وکړه، ورسه، ډوډۍ تياره کړه، زه به له شېرخان سره خبره وکړم...

مور فرزانې ته په ډېره خوږه لهجه و ويل.

دا خوارکۍ په څه خبره ده، چي موږ له کوم کړاو سره مخامخ يو، مور يې په حسرت او ارمان سره و ويل او د شېرخان خوا ته يې سترګي ور واړولې.

موري! زما دا شعر ډېر خوښ دی او دا مي د ژوند مرام ټاکلی دی..

کوم شېر..زما شېرخانه! هر شېر زما زوی شېرکی دی، زه نور شېران څه کوم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



موره! شېر نه شعر شعر...
ښه؛ نو دا بيا ښتګه وي..
ته غوږ ورته و نيسه، دې شعر ته.

که اسمان دي د زمري په خوله کي ورکړي
د زمري په خوله کي مه پرېږده همت

هو؛ زويه! زه چي تا ته ګورم، نو نيمي پاته نه سم. ستا انا دي خواره خستکه سي، چي په تا يې...
نه موري! دا به زما په نصيب کي ليکلي وه. هغه خوارکۍ خو په ذهني توګه هم سمه نه وه...
دا خو زما قصور وو، چي ما ته کور ته پرې اينښي وې او زه د پلار کره کوزدې ته تللې وم...
موره! نو څه وسو، که د ژوند يو اړخ د سړي کم سي، نو نوري هم ډېري لاري سته، پر هغه هم تګ کولای سو..
خو زويه! زما هم ارمان وو، چي...
د مور تر سترګو اوښکي رواني سوې.
موري! ستا ژړا ما همېشه ځوروي، چي زه ځان پوره ګڼم، نو ته ولي ځان کړوې...
نه زويه! له تا سره زموږ د ټوله کور ارمانونه تړلي دي، که چېري خدای يو دوه ورونه در کړي وای، نو، موږ به ولي دومره خوار او زار وای..
موري! خوار دي زموږ دښمن سي، ما د کوم شي د کمي احساس تا ته در کړی دی، چي زړه در لږ سي، د خدای راکړي هر څه در ته راوړم...
هو؛ زويه! ستا احسانونه موږ ښتګه هېرولای سو، خو ستا دا يوازي ورځ نه سم برداشتولای...

(c) ketabton.com: The Digital Library



موري! لږ صبر وکړه، چې فرزانه د خپل کور مېرمن کړو، بیا به دي حج ته بوځم او دا ارمان به دي هم در پوره کړم، که خیر وو...
وی زویه! دا بخت بیداره نه بولم، چې زه دي پر دې حال حج ته ولاړه سم.
مور یې د ډېري مایوسی په انداز کې و ویل.
موره! خدای مهربانه دی، ستا صحت به ښه سي...
هو؛ موري! پروین ورېنداره به هم حج ته درسره ولاړه سي، چې هلته دي خدمت هم وکړي او ثواب هم...
فرزانه له دې خبري سره سمه دسترخوان په لاس خوني ته را ننوتله...
هو، هو؛ زموږ نوی اخښی به هم خپله...
شېرخان لا خبره نه وه پوره کړې، چې فرزانې یې خبره ور غوڅه کړه او ورته و یې ویل، نوې ناوې حج ته نه ځي، هغه خو..
نو بیا ته ولي پروین پر موږ پېنه کوې...
شېرخان په چټکي ورته و ویل
هغه خو به د مور درملنه کوي..

..................................

شېرخان، واجد او نثار سهارنهه بجې د روغتون لوی تالار ته ځانونه را و رسول، دلته د دوی هر کلی ډاکټر نادر او د هغه ملګرو وکړی. د نن په طبي او اصلاحي سمپوزیم کې سل ته نژدې ګډون کوونکي او تر شلو پوري پوهانو ګډون درلودی. ډاکټر نادر د سمپوزیم د پیل وینا په دې ټکو وکړه.
ټولني ته د یوه نوي شي راتګ د بدلون لاري مومي، خو د هر نوي شي تر راتګ مخکي د ټولني د وګړو فرض جوړېږي، چې هغه و نوي شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته له هري زاويې څخه و ګوري او پر ټولنه باندي د هغه شي د مثبت او منفي اغېزو په اړه لټون تر سره کړي... که چېري په لومړي سر کي موږ د هغه راغلي نوي شي په اړه معلومات نه و لرو او هغه بې لګامه پرېږدو، نو د هغه بيا داسي خطرناکي نتيجې را ووځي، لکه د څه په اړه چي د نن ورځي دا سمپوزيم را بلل سوی دی. موږ طبي پوهان چي نن سبا له کومي بلا سره مخامخ سوي يو، هغه زموږ پر ټولنه باندي د نوي ټيکنالوجۍ په راتګ د بهرنۍ نړۍ او کلتورونو د هغه جنسي آزادۍ يا بېلارۍ اغېزې دي، چي زموږ ټولنه يې زغم او په ټولنيز کړه وړه کي د ځايولو توان تر اوسه پوري نه لري. دغه جنسي ازادۍ زموږ پر ټولنه داسي بد اغېز ولي وکړی، چي موږ ورته ګوته په غاښ نيولي پاته يو...

موږ به په لومړي سر کي هغه څو کېسونه تاسو ته وړاندي کړو او د هغو طبي وجوهات به و لټوو، تر هغو وروسته به تاسو "چي د ټولني د هر ډګر خلک په دې سمپوزيم کي ګډون لري" د دې سياسي، کلتوري، معاشي، مذهبي، اولسي او نفسياتي اړخونه را په ګوته کوی او د هغو وجوهات به را په ګوته کوی او د هوارولو لاري به يې را ښياست... تر هغه وروسته به بيا موږ له دې څخه په اخذ د خپل نوي نسل د ژغورني لاري لټوو.

موږ هره ډله له يوولس يوولس کسانو څخه ياني طاق مو جوړه کړې ده، ټولو ډلو ته به جلا جلا پوهان دا کېسونه وړاندي کوي او په وروستۍ برخه کي به د دې پايلي را يو ځای کوو...

خو يوه خبره دلته کول راته ښځي اړينه او ضروري ښکاري، چي...

دا ټول کېسونه زموږ د خپلي ټولني دي، په دې کي هيڅ ابهام نسته او دا هر کېس دومره عام دی، چي په هره سيمه، کلي او ښار کي موندل کيدای سي، البت موږ د يو انسان او ناروغه نوم، شناخت او

2021.01.20 22:06

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمه د طبي قانون له رویه له بل چا سره نه سو شریکولای، ځکه دا د هر کس آئیني حق دی، چي د هغه شناخت دي بل ته و نه کړل سي...

د ډاکټر نادر له وینا سره سم ټول ګډون کوونکي خپلو خپلو ټاکل سوو ډلو ته و رسېدل، شیرخان او د ده ملګري واجد او نثار د اوو نورو ملګرو سره راغلو شا او خوا پر ګړدي مېز باندي را کوږه سو. په خوش قسمتي سره د ډلو په بهیر کي ډاکټر نادر پخپله د دوی د ډلي په برخه رسېدلی وو، چي هغه به له دوی سره دا کېسونه شریکوي.
ډاکټر نادر له خپله ځانه سره لیپ ټاپ او څو فایلونه پر ټېبل کښېښوول، تر رسمي پېژندګلوي وروسته ډاکټر نادر پر لومړي کېس داسي رڼا واچوله...

دا پنځه ویشت کلنه نجلۍ د درې بچیانو مور ده او د څلورم بچي د زېږېدو پر مهال د ډېري ویني بهېدلو له کبله ورته د ویني د لګېدلو امر وسو، چي کله یې د دې وینه ټیسټ کړه، نو په هغه کي د ایډز (Aids) د خطرناکي ناروغۍ موجودګي ښکاره سوه. دا خبره پر دې او د دې پر کورنۍ لکه د ګولۍ ټک داسي وه، شریف او معتبره خاندان په کلي کي اوسي، خو د غربت له کبله یې خاوند د بل ټرک چلوي او پنجاب ته په شپو شپو ورک وي، چي کله موږ د دې د خاوند تپوس وکړی، نو هغه له وهمه راڅخه پټ سو او د دې ناروغي بچي هم ژوند له لاسه ورکړی..او
د دې پوښتورګي (بډوکي، ګردې) د زیاتي ویني بهېدلو له امله اوس ناکاره سوي دي او دا غریبه به د تل لپاره د بل په اسره پاته وي...

د ډاکټر نادر پر دې رپورټ باندي ټول ګډون کوونکي حق حیران سول، یو جذباتي سیاسي کار کوونکي و ویل، زموږ په سیمه کي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارخانې سته، نه ډېمونه، د ډوکلۍ له کبله مو د ټولي سيمي باغونه او زراعت وران ويجاړ دی، ځکه د نورو صوبو د ابادۍ په خاطر زموږ ځوانان په شپو او مياشتو ژوند هلته تېروي او يو شمېر خليجي هېوادونو او ايران ته ځي او هلته په کلونو کلونو د مسافرۍ شپې سبا کوي، هلته څه کېږي او دا ځوانان هلته څنګه ګوزاره کوي، موږ ټول په دې خبر يو، نو داسي ناروغۍ د سياسي عدم مساوات له کبله پېښېږي...

ښاغلی واجد چې ډېر سنجيده او يوه کس وو، و برخه لرونکو ته يې خپله رايه داسي څرګنده کړه...

جنسي تنده د هر انسان په فطرت کي اخښل سوې ده، ځکه جنس د هر انسان بنيادي حق دی، تر واده مخکي چې څوک د دې په خوند خبر نه وي، نو هغه صبر کولای سي، خو تر واده وروسته نارينه پر خپلو جذباتو باندي په ګرانه قابو ميندلای سي، په شپو شپو له کوره لېري پاته کېدل دوی دې ته اړ کړي، چې لاس او پښې و غځوي او د هغه نتيجه موږ په دې شکل کي وينو، چې د نارينه ژوند خو په دار سي، اوس د دې معصومي مېرمني يې څه قصور دی، چې په دې بدمرغه ناروغي کي را ګېره سوه او خدای خبر چې د دې خاوند او دې پخپله به دا ناروغي و کومو بې وزلو ته ور اړولې وي، دا خو دومره خطرناکه ناروغي ده، چې په خدای باور وکړی، چې په نوم اورېدلو يې هم د سړي پر بدن د بدمرغۍ څپې راځي...

د نفسياتو د يوه پوه ځوان رايي ټول ګډون کوونکي نور هم له حيرانۍ سره مخامخ کړل..

د ايډز مرض چې په هر چا پوري سي، نو په نفسياتي ډول هغه.. هغه وخت نيمی نه سي پاته، ځکه زموږ په ټولنه کي د دې مرض اخستلو صرف يوه لاره خلکو ته معلومه ده او له نورو لارو چې دا ناروغي



2021.01.20 22:0

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښېږي؛ هغو ته موږ پام نه دی کړی او نه په خبر یو... دا خاموشه وایرس په دومره تېزي سره زموږ په ټولنه را ګډ سوی دی، چي کله کله د انسان پر خپل ځان هم شک پیدا سي.. د اېډز له مریض څخه خلک ځکه لېري ځغلي، له هغو سره ناسته ولاړه، له هغو سره مجلس، قربت او دوستي ته د چا زړه نه کېږي، ځکه یې ناروغه د تنهایي او ناروغۍ پر داسي چارسو ژوند له لاسه ورکړي، چي د تنهایي، بې وسي او بدنامۍ داغونه هم له ځانه سره ملګري کړي..
د معاشیاتو پوه چي ښه ښاغلی ځوان وو، و ویل؛
غربت د هري ناروغۍ مور ده، پر نړیواله کچه باندي د جنسي خواهشاتو د پوره کولو چي کومي ټېکانې سته، په هغه کي د هري ښځي او نارینه په باقاعده ډول معاینات تر سره کېږي او دا تر هرو ځو میاشتو وروسته بیرته تر سره کېږي، چي هر یو هلک او هره نجلۍ له ناروغۍ څخه پاک پاته وي، نو تر هغه وروسته هغوی ته د جنسي اړیکو د ساتلو سرټیفکټ ورکول کېږي او بل نن سبا په محفوظه او خوندي توګه د جنسي اړیکو لپاره هر څه موجود وي، خو د غربت ځپلي ټولني یوه المیه دا هم ده، چي غریبان د غربت له وجهي د خپل بدن په سودا خپل ځان، نس او کور ساتي، د دوی ګټه دومره لږ وي، چي هغوی دا طبي حفاظتي لاري د کم علمۍ یا مجبورۍ له وجهي نه سي پوره کولای او نه د حکومت پر دوی باندي کنټرول وي، ځکه دوی پخپله هم په ځان نه وي خبر... زه که له تاسو سره د معاشي بدحالۍ حال شریک کړم، نو ستاسو زړونه به و چاودي...
شېرخان چي تر اوسه خاموش ناست وو او دا هر څه یې په غور اورېدل، ده ته خپل دوست نثار کرار و ویل، چي زه یوه پوښتنه وکړم؟ تر دې مخکي چي شېرخان ځواب ورکړي، ډاکټر نادر یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره واورېدله او ډاډ یې ورکړ، چې هره خبره کولای سې...
نو نثار خپله پوښتنه داسي وکړه، چي:
ډاکټر صاحب! دا خو ځوانان دي، چي له کوره ورک دي او نور ځایونه لاس او پښې غځوي، خو د دوی مېرمني یا کورودانې هم جنسي خواهشات لري، هغوی خپل جنسي خواهشات څه رنګه پوره کوي..؟
ډاکټر نادر په سنجیدګي سره ورته وویل:
ښکاره خبره ده، چي هغوی هم خپل انساني خصلت لري. لکه د نورو ځایونو نجوني چي زموږ د ځوانانو غوښتني ور پوره کوي، دغه ډول به هره ښځه څه نه څه هڅې ضرور کوي.
د نفسیاتو یو پوه بیرته را مخته سو او ویې ویل:
زموږ د ټولني د شرافت پیمانې اوس لږ څه تښتې سوي دي. موږ ښایي؛ نن د هلکوانو پر جنسي موضوع بحث کوو، که چېري زموږ د ښځو د جنسي اړیکو په هکله څېړنه وسي، نو کېدای سي، چي تر دې هم زیاتي خطرناکي نتیجې او خبري ښکاره او مخ ته راسي...
د نثار یو وار بیا د مزاح حس را بیداره سو او ډاکټر نادر ته یې وویل:
ګوره؛ تاسو خو پوهان یاست، تاسو مسخرې او شعرونه نه خوښوی، لاکن موږ خو معاشره کي خلاصه خوله خبري کوو او دا خبري او شعرونه دومره خلک خوښوي او خوند پر اخلي، ځکه که ستاسو اجازه وي، نو زه به د دې موضوع په هکله یوه مشهوره ټپه و وایم..
هو؛ ته دا ټپه یا شعر و وایه، وروسته به زه بل کیس را مخته کړم..
نثار و شېرخان ته وکتل او بیا یې کرار ورته وویل...
دوی خو به خوانه بدوي...؟
هغه ځواب ورکړی، چي زه څه خبر یم، چي ته ښنګه شعر او ټپه وایې، خو ډاکټر نادر اجازه درکړه، چي و یې وایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ښځې و خپل خاوند ته چې د کوره هر وخت لېږي وي، د عبرت لپاره دا ټپه وايي...

ته خو لا ښه يې خره به و کړې      بده خو زه يم چې...

ټولو ګډون کوونکو يو بل ته په حيراني سره وکتل...

.........................................

ډاکټر نادر دويم کېس په دې تورو پيل کړی...

دا پنځه شپيته کلن حاجي... زامنو له خپله کوره شړلی دی، له بده مرغه د ده ټوله ځواني په امرد پرستي کې تېره سوې ده او اوس په دې عمر کې هم ځوانان هلکوان له ځانه سره ګرځوي. د ده د زامنو وينا ده، چې دی يې پر ځان.. معنا...

د ډاکټر نادر سره ژبې او تورو ياري نه کوله، خو تر لږ سوچ وروسته يې و ويل، چې دی مفعول وي...

ډاکټر نادر و واجد ته و کتل او ورته و يې ويل،

چې اوس جمله سمه سوه،

هغه ورسره د منلو سر و ښوراوی...

ځکه ډاکټر مخ ته خپله خبره داسې جاري و ساتله..

د ده زامن وايي، موږ عزت دار خلک يو، لوڼې، لمسياني او نږندې مو په کور کې دي او دی پرېدی لنډهر هر وخت کور ته راولي..

ډاکټر نادر لږ په سنجيدګې سره څر ګنده کړه:

دې سپين ژيري په ټولنه کې لوړ مقام درلودی، د ننګ او جنګ او د قلم او مېړاني خاوند وو، په مېډيا او کانفرنسونو کې به د ده ژبه او قلم لکه طوطي داسې ږغېدل، خو د بد صحبت له کبله دی په دې مجلسونو کې را ګېر سو. اوس چې ډاکترانو پوښتنه ورڅخه وکړه، چې ته ولې دا کار کوې...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب یې دا دی، چې زما د بواسیرو ناروغي ده او هغه په بل څه نه ور کېږي، خو طب دا وايي، چې د بواسیرو ډېر اسانه اپرېشن او علاج دی، چې د انسان ټول تکلیفونه ور ختموي...

د نفسیاتو ماهر د دې کېس په اړه وویل،

چې د جنس په اړه د خوند اخستلو د هر چا خپله خپله پیمانه او معیار وي، خو دا خبره یقیني ده، چې څوک هم د امرد پرستۍ په ناروغي اخته سي؛ په هغوی کي د دواړو خواوو برخه اخستل کېږي، معنا لومړی فاعل او بیا مفعول هم جوړېږي، چې د لذت معیار د یو چا وټاکل سي، هغه د ژوند په یو پړاو کي هم بیا له دې نه را ګرځي، خو په سپین ژیرتوب کي چې د دوی د فاعل جوړېدلو توان له منځه ولاړ سي، ځکه نو د سترګو دا وړی خپله تنده بیا داسي ماتوي، چې ځان ورته مفعول کړي او زیاتره بیا دوه هلکوان خپل و مخته په امرد پرستي لګیا کوي او دوی ته په کتلو سره خپل خپل خوند ځنې اخلي... لاکن په نفسیاتي توګه دا کس داهېر کړي وي، چې په دغه عمر کي د ده پر وړو نوري کومي ذمه داریاني وي... د ځوانانو بېلاري خو ټولنه تر یوه حده پوري زغملای سي، خو د بوډاتوب حرکتونه هیڅ څوک هم نه زغمي. نفسیات پوه یوه جالبه خبره داسي وکړه، چې د کوم سپین ژیري مېرمن د ده خواهشات په لوی عمر کي نه سي ور پوره کولای، نو دا سپین ژیري بیا په نورو هلکوانو خپله جنسي تنده ماتوي او دوی زیاتره هر وخت د ټولني له خوا تر ټل کېږي هم او دا ناروغي تر جنسي زیاته نفسیاتي وي...

د معاشیاتو پوه حیرانوونکې خبره وکړه، چې ډېر دولت لرونکي نر او ښځي په زیات عمر کي د ځوانانو په تلاش وي او په دې عمر کي نر او ښځه دواړه ځوانانو ته مفعول وي، چې دې ته به څه نوم ور کوو؟

سیاسي جذباتي ځوان و ویل، چې زموږ په ټولنه کي شعور نسته،



2021.01.20 22:07

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعلیم نسته، په زیات عمر کي پر انسان ډېري ذمه دارياني راځي... د ماشومانو روزنه، کور او جايداد کتنه، په ټولنيزو چارو کي برخه اخستل، سياسي جدوجهد او د قامي خپلواکۍ لپاره مبارزه، خو د ډېر دولت له کبله دوی هر څه شاته کړي وي او د خپل هوس د تندي ماتولو بار يې پر ورږو اخستی وي.

ښاغلي واجد چي له ډېره وخته دا بحث په غور سره اورېدی، پر خپل وار و ويل، چي په دې کېس کي د پيسو د زياتوب او مجبورۍ دواړو عنصر شامل دي، که يوې خوا ته سپين ږيری د مستۍ يا عادته څخه دا کار کوي، نو له دوی سره چي کوم ځوانان وي، د هغوی زړه نه ور غواړي او نه پر دې سپين ږيرو خوند اخستلای سي، هسي د خپلو معاشي مجبوريو له کبله د دوی هوس ور پوره کوي. شېرخان د دې کېس په دوران کي يوه خبره هم و نه کړه، خو داسي معلومېدی، چي دا کېس دی ډېر ترهولی دی، کله چي د نثار وار راغلی، نو شېرخان لږ و مسېدی، نثار و ويل:

د سپين ږيرو دا دندې خو زموږ په خوا ډېري دي، لاکن دا د آنټيانو خبره جالبه ده، يو وخت ما په لاهور کي په يوه پارک کي واک کاوی، چي يوه سپين سرې را باندي پېښه سوه، ډېره مهربانه وه، لاکن زه د دې په مهرباني پوه نه سوم، نو څکه پر دې مي مهرباني و نه کړله، اوس چي تاسو خبره ښکاره کړه، نو زه د هغې د مهربانۍ و شاته په غوښتنه او خبره پوه سوم..

ډاکټر نادر ګپه پر وکړه،

چي اوس دي څه خيال دی...

نثار هم په ګړندي ډول ور غبرګه کړه، چي

والله خيال خو مي ډېر خيالور دی..

..............................

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر نادر غوښتل، چې دا څو کېسونه ژر تر ژره دوی ته وړاندې کړي او تر هغه وروسته هغه لارې و لټوي، چې ټولنه له دې وبا څخه و ژغوري، ځکه نو ده د دريم کېس وړاندې کول هم داسې پيل کړل...

دا پنځه دېرش کلن د کالج استاد دی، ښه ليکوال او شاعر دی، له بده مرغه يې د کورنۍ فيصله و منله او د اکا بدرنګه لور يې د خور په سرۍ کې قبوله کړه، خو هغه بې تعليمه مېرمن د ده له لومړۍ ورځې څخه نه وه خوښه، نو ځکه له لومړۍ ورځې د دويم واده تلوسه ورته پيدا سوې وه او د هغه لپاره يې دلته او هلته لاسونه وهل، د څه مودې لپاره يې په يوه اين جي او کې هم کار وکړ او هلته يې له يوې بلې نجلۍ سره هم تعلقات جوړ سول، که څه هم هغه د ده تر لومړۍ مېرمن هم بدرنګه وه، خو د ده خيال وو، چې په دې ډول به زه له خپلې کورنۍ څخه انتقام واخلم... د دوی تعلقات دومره مستحکم سول، چې د پېغلې په رحم کې د ده نهال شين سو، هغه ډېرې منډې ترنډې وکړې، چې له دې کيسې لاس واخلي، خو ښځه چې پر بدو راسې، نو بيا له هغې څخه په خدای پناه په کار ده، دې پېغلې هم دی مجبوره کړی، چې له دې سره نکاح و تړي... د ځوان تر وس هم خبره و وتله او دويمه مېرمن يې هم کور ته راوستله..

اوس د بنو جنګونه، د دواړو بدرنګه اولاد، دا ځوان ګرد سره د ښځې له ذاته څخه بد ذوقه کړی، نو ځکه يې د ذايقې بدلولو لپاره د هلکوانو ياري شروع کړه، خروړی سپی هر چا ته خوله اچوي او تر واده وروسته انسان زړور سي، ځکه هغه په ډېرو شيانو باک نه کوي.

دويم دا چې دې ځوان له نيټ څخه لځ فلمونه هم ډېر کتل او د ده خيال وو، چې د دې فلمانو په ډول به هر ځوان دلته هغه رنګه



2021.01.20 22:07

(c) Ketabton.com: The Digital Library



رسپانس ورکړي، خو ده چي دلته د فلمونو په څېر دلته د څو یارۍ کولو هڅي وکړې...

زه دلته یوه خبره په ټینګار سره کوم...

ډاکټر نادر لږ و درېدی او د اوبو بوتل یې پر غاړه پورته کړی، نیم بوتل یې خالي کړی، د ده له څهرې او تاثراتو څخه معلومېدله، چي دی ډېر په خښم دی، چشمې یې پر سترګو سمي کړې او مخته یې داسي و ویل:

موږ په ټولنه کي یوه ډېره غلطه عقیده لرو، چي زه یې بېخي نه منم او هغه دا چي هره ښایسته نجلۍ او هر ښایسته هلک دي بدکاره وي، خو د دې ځوان په مغزو کي چا دا خبره ور اچولې وه او دې خبري یې په ذهن کي ځای نیولی وو، چي دا خبره دغسي ده...

ده چي به کله یو هلک و لیدی، نو پر دویمه دریمه خبره به یې هیله تانده سوه او د هغه ګنډه ته به یې لاس ور واچاوی، چي په دې ډول یې څو ځایه خپل سر مات کړ... بدنامه سو، جرمانه سو، د خلکو د نفرت وړ سو، ملګري ځنې بېل سول، یوازي سو، ځکه د دې ټولو وجوهاتو له کبله د شکري مریض سو او تاسو به خبر یاست، چي کله د شوګر ناروغي زیاته سي، نو د انسان جنسي قوت پر زیرو و درېږي او له دې ځوان سره نن سبا هم دغه روان دي...

واجد د ډاکټر نادر تر وینا وروسته سمدلاسه خپله خبره داسي وړاندي کړه، چي

د خوښې واده نه کول او یا د خوښي واده نه ورغوښتل زموږ د ټولني المیه ده او تعلیم یافته ځوانانو ته بې تعلیمه نجلۍ کښینول دویم غم دی، هم دا غمونه چي کله یو ځای سي، نو بیا ظاهري صورت هم کتل کېږي، خو که صورت هم بدرنګه وي، نو بیا ټول عمر انسان له خپله ژونده څخه خوند نه سي اخستلای... جنسي خواهش خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولاد پيدا کېدلو تر حده کيدلای سي، ولي د انسان فطرت دی، چي هر ځای او هر کله ده ته يوه موقع په لاس ورسي، نو دی د خپلي تندي د ماتولو هڅه کوي او همدغه تنده وګړی له ډېرو لانجو او ستومانيو سره لاس او ګرېوان کوي..

سياسي مبارز ځوان و ويل،

زموږ په سيمه کي د نجونو شمېر د نارينوو په پرتله زيات دی، ځکه ځوانان دويم او دريم واده ته رجوع کوي او دا ښه عمل په دې دی، چي زموږ د قام شمېر تر نورو زيات سي او دا به زموږ و سياسي قوت ته تقويت ورکوي... لاکن زه دا خبره هم په ډاګه کوم، چي بايد په دويم او دريم واده باندي د لومړي واده يا مېرمن استحصال و نه کړي. زه او زموږ پارټۍ د هر رنګه استحصال خلاف يو...

د معاشياتو پوه په سنجيدګي و ويل،

د نن سبا په دې ګراني کي دويم او دريم واده د ټولني زياتره وګړي نه سي زغملای، يوازي د واده اخراجاتو ته مه ګورى، د کوشنيانو تعليم او روزنه، د هغو روزګار، د کور خرځې پوره کول ډېر لوی بجټ غواړي، نو که د لومړي واده ښځه مطمين نه وي، هغه د واده په چپه په شارټ کټ لاره جنسي خواهشات په لږ بجټ پوره کوي.

نثار بيا يو دم را و غورځېدی او په طنزيه انداز يې و ويل،

يو خو دا شارت کټ لاره موږ نه پېژنو... انسان ته په کار ده، چي پر صراطِ مستقيم روان سي، دا زموږ د دين لاره هم ده او دين موږ ته د څلورو ودونو اجازه راکوي. د شارټ کټ مطلب خو دا دی، چي انسان دي ګردسره واده نه کوي او دا خو د نجونو استحصال دی، نارينه خو ځان ته شارټ کټ لاره ګوري، هغه خواره نجلۍ به څه کوي، د چا په برخه چي شين او تک تور، پنډ ناسياله مېړه و رسېږي،

2021.01.20 22:07

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نثار پر خبره بیا ټولو یوه او بل ته په طنزیه انداز و کتل.

...................................

ډاکټر نادر څلورم کېس په ډېره خواشیني را پورته کړی او له را پورته کولو سره سم یې و ویل، چې په کومه ټولنه کې د هلک او نجلۍ سماجي تعلق په کورونو، محله دارۍ، سکول یا کالج کې سره پاته نه سي؛ هغه بیا مخته د دواړو لپاره د تاوان سبب ګرځي. دا کوم کېس چې زه اوس وړاندي کوم، دا یو ډېر نایاب کېس دی، لاکن دا ډول کېسونه زموږ په ټولنه کې عام دي..

دا شپږ دېرش کلن ځوان په کوشنیوالي کې د پلار او مور د توجه نه ورکولو په سوب په غلط صحبت کې را ګېر سو، د سګرېټ په نشه روږد سو او مخته بیا د زورورو خلکو په لاس کنېوتی، هغو له ځانه سره په ګېرج کې نوکر کړی او د ګېرج له کاره سره یې د ده هم کار ور وکړی..دی ښایي؛ مجبوره، بې کسه او بزدله وو، چې کور ته یې حال نه وایه او پر له پسې لس پنځلس کاله د خپلي بې همتۍ له سببه د بل د هوس نښانه جوړېدی، کرار کرار چې بلوغت ته ورسېدی، نو د ده په لاس د ګېراج نور کوشني هلکوان ور تلل او ده انتقاماً هغه د خپل انتقام او هوس نښانه ګرځول، دا سلسله ښایي؛ اوس هم دوام لري، لاکن مهمه خبره دا ده، چې ده د کورنۍ پر ډېر اصرار هم له واده څخه ډډه وکړه، د کورنۍ زور خو بیا خپل زور وي، ځکه دی مجبوره سو، چې د دوی حکم ته غاړه کښېږدي، واده په ډېر اهتمام وسو، له ښه خاندان څخه وو او په قول د ده د کورنۍ مېرمن یې باسیرته او باصورته وه، خو دوې میاشتي وروسته چې دا د پلار کره ولاړه، بیا یې له راتګ څخه ډډه وکړه، تر ډېرو منډو ترنډو وروسته هم دا رشته بیرته جوړه نه سوه، دوه کاله ځوان دغسي و ګرځېد، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور او پلار مشر زوی وو، کشرانو ته یې هم د دستور له کبله د مخه واده نه سو کولای، تر ډېر ټینګار وروسته دی دویم واده ته تیار سو، درې کاله دا خانداني نجلۍ له ده سره وه، له هغې څخه یې دوې لوڼې هم وسوې، لاکن ناګهانه هغې دواړي په لومړیو دوو درو شپو کي د خدای په کار سوې، کله چي دا دریم وار امېندواره سوه او د بچي د زېږېدو وروستۍ میاشت را نژدې سوه، نو مېرمن یې د پلار کره ځنې ولاړه او د راتلو څخه یې ډډه وکړه، ویل یې، زه دې قاتل لره بیا نه ورځم، زوی یې و زېږېدی، مور یې ویل، زه خپله ځواني پر دې ماشوم زړوم او بل واده نه کوم، د دوو درو کالو تر منډو ترنډو وروسته یې مور او پلار په دریم واده ورکولو بریالي سول، لاکن دا ناوې یې زړوره او خوله وره وه، هغې په لومړۍ میاشت د ده د پخوانیو ماینو سره رابطه وکړه او سم دلاسه یې په عدالت د خلعي لپاره درخواست ورکړی، د عدالت ستر ګي هغه وخت خلاصي سوې، چي دې مېرمني یې صفا و ویل، چي دی زموږ ازدواجي فرضیت او حیثیت را پوره کولای نه سي او د شا له خوا د کورداری طلب او ټینګار کوي، دویمي کور داری تر څه حده د ده خبره منله، خو د هغې شرط دا وو، چي دوه واره ستا په خوښه او دریم وار به زما فرضیت راپوره کوې، د همدې له کبله دا درې واره له ده څخه امېندواره سوه، خو د نجونو د زوکړي په دویمه ورځ دا خوني پلار په پټه د خپلو معصومو ماشومانو لوڼو د ژوند خاتمه وکړه، چي کله یې د مېرمني شک په یقین بدل سو، نو د دریم لنګول له مخه د پلار کره ځنې ولاړه، دا بدبخت انسان په هیڅ ګون د نجلۍ وجود زغملای نه سي، ځکه یې په لومړي سر کښې د هغو خاتمه ور وکړه، تر دریم واده وروسته بیا بله ښځه د ده په نصیب نه سوه او اوس دا غم ځپلی لکه لېونی تنها تنها ګرځي، له ځان سره ګاییږي، خیرن کالي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیرن وجود.. هر څوک د غله یا هېروینې خیال پر کوي، هیڅ څوک له ده سره نسبت نه ساتي، بس د خپلې کمرې پورې محدود دی، یوازې د سګرېټ اخستلو لپاره یو یا دوه پلا له کوره را ووځي او له هیچا سره یوه خبره هم نه کوي.

د ډاکټر نادر دې رپوټ ګډون کوونکي په اضطراب کې واچول، د نفسیاتو ماهر د ګډون کوونکو حوصله ته د ډاډ ورکولو په خاطر خبره پیل کړه او ویې ویل:

دا جنسیاتي ناروغي اوس په نفسیاتي ناروغۍ بدله سوې ده، د ده ټول ژوند د دومره واقعاتو، د حقوقو د پایمالۍ، د هوسي تندو، د محرومۍ او کړاوونو سره مخامخ دی، چې د ده بیا رغونه یو اوږد پروسس غواړي او پر هغه ډېر زیات خرڅ راځي او د هغه لپاره د څو داسي ځانګو ضرورت وي، چې دی له ځانه سره و ساتي، لاکن په بدقسمتۍ سره زموږ په معاشره کې داسي ځانګې هم نسته، د دې کېس آخري خاتمه به د خودکشۍ په صورت کې وي.

سیاسي مبارز که څه هم دې کېس ډېر لړزولی وو، خو بیا یې هم په ریپډلو شونډانو و ویل، چې په یوه خوشحاله ټولنه کې د هر چا د معاشي او سیاسي حقوقو خیال ساتل کېږي، خو زموږ سیاسي او معاشي مجبورۍ موږ دې حال ته را رسولي یو، چې لاس او پښې مو کار کولو ته نه پرېږدي.

واجد لږ له همته کار واخست او ویې ویل، چې تر واده مخکې د هلک او نجلۍ رجحان کم از کم معلومول په کار وي، که یو څوک له واده څخه انکار کوي، باید د هغه لامل و کتل سي او د هغه لانجه ور هواره کړي او په دې کې بنسټیز رول د مور او پلار جوړېږي، چې هغه دې د خپل ماشوم یا ماشومې روزنه تر خپله څارنه لاندې وکړي، خو هر کله چې یو خواهش عادت او عادت مجبوري جوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي، نو بیا د هغه رغول ډېر ګران کار سي.. هم دغه زموږ د ټولني ډېره درنه الميه ده..
شېرخان د دې کېس په دوران کي دوه واره په ټشو خپلي اوښکي پاکي کړې، کله چي ډاکټر نادر و نثار ته د خپلي رايي ورکولو و ويل، نو نثار د سر په ښورولو ور څخه ډډه وکړه، ولي د ده شونډانو د ده د غمزده زړه د اظهار ترجماني نه سواى کولای...

.................................

ډاکټر نادر د پنځم کېس له را پورته کولو سره سم و ويل، چي په ظاهره خو دا د يو کس خبره ده، خو په دې کړی کي څو بېخي زيات مهم او عادي کېسونه ما را اخستي دي او په دې ټولو د ځان خبرول نه دا چي مهم دي؛ بلکې زموږ د ټولني په نفسياتو باندي د خبرېدلو لاره هم ده او دا وړاندي کول زما فرض جوړېږي... دا هغه ځوانان دي، چي د بچي د پيدا کېدلو اهل نه دي.
دا لومړی کس پنځوس کلن سړی دی، چي پرله پسې يې د څو څو کالو تر وقفه وروسته څلور ودونه وکړل، بلکې پنځه ودونه، ولي لومړۍ مايني ته يې طلاق ورکړ، د ده ټول عمر په هسپتالو کي تېر سو، د خپلو ښځو دارو درملنه يې په خلاص موټ وکړه، ټولي مېرمني د ده له جنسي رفاقت څخه مطمينه هم وې، ځکه چي د ده جنسي عضو هم په خاص مقدار غټ وو، هر کله چي به زناني ډاکټري د ده و کومه مېرمن ته د ده د معايناتو په اړه و ويل، نو ده به مېرمن ته ځواب ورکړی، چي زه خو روغ جوړ سړی يم، پر پنځم واده چي مېرمنو دی ډېر مجبور کړی، هغه ځکه چي ښځه تر هغو پوري ځان په حفاظت کي نه بولي، چي د دې بچي نه وي پيدا سوي. د بچي زېږېدل د نر او ښځي تر ټولو لوی ارمان وي، چي پر دې باندي د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ذات تکمیل پوره کېږي، نو ده هم د مني (Sperm) ټیسټ ورکړی، چي دا ټیسټ ده د ښار نارینه ډاکټر ته ور وړی، نو د هغه خبره د ده لپاره تر مرګ کمه نه وه، پر ده یې ټینګار وکړی او دی مجبوره سو، چي ځان لاندي باندي ورښکاره کړي... ډاکتر چي د ده تفصیلي معاینه وکړه، نو دا ورته ثرګنده سوه، چي د ده خایې (خوټې، بلورۍ) په نس کي پاته سوي دي او پر خپل وخت باندي خپل ځای لره نه دي را ښوه سوي. که چېري دی په کوشنیوالي خبر وای، نو د اپرېشن له لاري دا په اسانه توګه لاندي راوړل کېدلای سوې او له ده سره به د نورو پنځو انسانانو ژوند هم په عذاب نه اخته کېدلای.. اوس ښايي؛ هر څه له لاسه وتلي دي، ځکه به دی او د ده څلور واړي مېرمني ټول عمر د خپل بچي زېږولو خواهش او غوښتنه په زړه کي ښخوي او دا ارمان چي د کوم انسان نه سي پوره، نو هغه له ډېرو ذهني، معاشي او اولسي لانجو سره مخامخ سي.

ډاکټر نادر دا خبره دلته پوره کړه او مخته یې زیاته کړه، چي د ماشومانو ځیني ناروغۍ وي، که یې درملنه پر خپل وخت باندي ونه کړل سي، نو هغه هم د تل لپاره شنډ او نامرد پاته کېږي، خو په دې ټولو کي مهم هغه ځوانان دي، چي تنها تنها ګرځي، په تنهایي کي شیطان د انسان ملګری سي او د انسان او شیطان ملتیا هر وخت د یوې لانجې لپاره لاره هواروي. د ځوان او پېغلي زیاتره رجحان د سیکس پر خوا وي، ځکه د دې تنها ځوان ټوله سوچونه له سیکس سره ګرځي را ګرځي. لومړی سر خو دی د لاس له لاري تر څه وخته پوري حظ تر لاسه کوي او هره شپه په خوب کي شیطان هم ورته راځي او احتلام یې کېږي.. او تر هغه وروسته بیا د منی (Sperm) را وتل دومره ډېر سي، چي ټوله شپه او ورځ د ده د آله تناسل څخه روان وي، چي له کبله یې دی ډېر کمزوری سي او بیا پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره باندي هم سم نه سي تللای... کوم ځوانان چي هوښیاران وي، نو هغوی خپله تداوي پر وخت باندي وکړي او ناپوهان ځو کاله په دې ناروغي اخته وي او په دغه حالت کي چي واده وکړي، نو دا مرض خپل کار کړی وي او دی یې د ټول عمر لپاره د اولاد له پیدا کېدلو څخه محروم کړی وي.. اوس دا ځوان چي هر څومره لاس او پښې و مروړي، نو وخت ورسره وفا نه کوي. بې اولاده پلار معنا نامرد زموږ په ټولنه کي یوه ښکنځا ده.

ډاکټر نادر پر مخ و ویل، چي زه ستاسو سر په دې نه پرله ګرځوم، چي د نامردۍ څه وجوهات دي، ښایي، چي بېخي ډېر وي، خو دلته د دې کیسو راوړلو څخه زما بنیادي مقصد دا دی، چي د نامرد سړي له لاسه ماینه او مېړه دواړه په ځینو نورو ناروغیو اخته کېږي، چي هغه ټولي زموږ د ټولني د پر مخ باندي د کلینک د ټیکې داغ دی، لکه نامرد مېړه چي په نفسیاتي ډول د مېرمني، کورنۍ او ټولني مخته خپل ارزښت و بایلي، د جایداد وارث نه لري او د خپل سپین ږیرتابه د وخت د معاشي لانجو فکرونه ورسره مله سي، له تربرو سره یې د دښمنۍ فکر په مغزو کي ځغوني وکړي او دا ټول سوچونه دی تخریب او ورانکاریو ته اماده کړي او یو شریف بني آدم د ټولني لپاره د یوه ناسور بڼه خپله کړي...

بلي خوا ته چي د ده مېرمن په دې پوه سي، چي مېړه مي د اولاد قابل نه دی، نو هغه لومړی طلاق طلب کړي... که چېري د شریفي کورنۍ هم وي او له ده سره پاته هم سي، نو دلته بیا انساني فطرت هرو مرو بدلېږي او د ښځي ذات بیا هغه څه کولو ته ځان اړ بولي، چي دلته وړاندي کول یې زه مناسب نه ګڼم، خو د وړاندي سوو ټولو کیسونو په اړه تاسو په کار ده، زما لارښوونه وکړی، ولي چي دا کېسونه په ټولنه کي څومره ډېر دي، چي تداوي یې یوازي په ډاکټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه تر سره کېږي، بلکې په دې کې د ټولني د هر ډګر د پوهانو مرسته او ملاتړ او رايه د قدر او احترام وړ ده...

د معاشياتو پوه په بحث کي د برخي اخستلو پر مهال په مدلل انداز سره و ويل، چي د دې کيسو و شاته د معاشياتو دواړه اړخونه په ډېري توندي سره کار کوي. د مثال په ډول هر هغه کس چي شتمني لري، هغه د جنسي خواهشاتو د پوره کولو لپاره ډېر ودونه کوي، بلي خوا ته که څوک د اولاد له نعمت څخه بې برخي وي؛ هغه هم پرله پسې د دولت په زور ودونه کوي او ورسره د علاج په خاطر هم روپۍ بې تحاشا خرڅوي او دا تر هغه ساعته پوري وي، چي طمع يې نه وي ختلې... هر کله چي دی د ژوند هغه مقام ته و رسېږي، چي له هري خوا مايوسه سي، نو د اولاد پر ځاى د ده فکر د خپل ځان او مېرمنو د مستقبل د معاشي لانجو پر خوا واوړي، ځکه د کاروبار ساتلو لپاره خو زموږ په ټولنه کي د نارينه ضرورت وي، دا شی د نن سبا په معاشره کي که څه هم ډېر مشکل نه دی، خو بيا هم زموږ ټولنه د نارينه د برترۍ (Male Dominancy) له کبله په معاشي توګه د دې تکليفاتو ازاله نه سي کولای. دلته که چېري د ټولني وګړي له ده سره لږ کومک وکړي او دا مذکوره کس لږ د قربانۍ جذبه و لري، نو د ده دولت او جايداد يوازي دا نه چي بچ کيدلای سي؛ بلکې نوره وده هم کولای سي..

شېرخان ناڅاپه برغ پر وکړی، چي هغه څنګه..؟

د معاشياتو پوه ځوان په برجسته توګه و ويل، چي د چېرته چي له لاري.. معنا دا چي که دی خپل دولت او جايداد د ټولني د ښو چارو لپاره و يوې څانګي ته حواله کړي، نو دا به د ده د دنيا او آخرت ګټه وي، د ده نوم او عزت به هم خوندي پاته وي او د ده له دولت څخه به نور بې آسرې خلک هم پوره مرستي او ګټې تر لاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر نادر د نفسیاتو پوهاند ته چي کله د رایي ورکولو دعوت ورکړ، نو د نثار د مزاح حس را بیداره سو او ډاکټرنادر ته یې و ویل، چي دا خو والله خورا دلچسپ بحث دی، په دې کي خو د ډېرو ښه ورسره کېدلای سي، ماته هم ژر موقع راکړه، چي خپله ونډه پکښې واچوم او له دولت څخه خپله برخه پوره کړم.

ډاکټر نادر په خندا ور غبرګه کړه.

خدای د صابرانو مل وي...

د نفسیاتو ماهر و ویل،

والله دا سخت مقام دی، چي سړی خبره ورباندي وکړي، په هر کور کي د ماشوم موجودګي ژوند ته ښکلا ور بخښي، د ماشوم ژوند هر نر او ښځه د خپل ژوند تر ټولو قیمتي اثاثه ګڼي، ځکه د نن له ماشوم سره د دوی د کور مستقبل تړلی وي، خو که دا هر څه و نه سي، نو تیت او پرک پاته کیږي... نو دا د یوې داسي نفسیاتي ناروغۍ ښه واخلي، چي علاج یې یوازي په تسلي او داروګانو نه کیږي، ځکه محروم انسان چي تر څو داسي اسباب نه وي لټولي، چي د ده زړه په ډاډه سي، هغه پر کراره نه سي کښېنستلای.. که څه هم د بل بچي په غېږه کي اخستل او یا د ټیسټ ټیوب له لاري د بچي پیدا کول د دوی دنیاوي لانجې تر څه حده کمولای سي، خو لاکن دا انسان په باطن کي بیا هم یوه خلا احساسوي. دا انسانان آخر په غبرګون ورکولو په خپله ټولنه کي د منفي کردار لامل و ګرځي او په ټولنه کي د دوی وجود د نورو لپاره د نفرت وړ ګرځي، خو که له اولاده څخه بې برخي دواړه وګړي (نر او ښځه) په اصلاحي کارونو لاس پوري کړي، نو له منفي اړخ څخه د مثبت اړخ لوري ته یوازي دا نه چي دې جوړی یا دې وګړو ته ګټه رسېږي؛ بلکي د ټولني لپاره هم په ګټه وي.



2021.01.20 22:08

(c) ketabton.com: The Digital Library



**واجد چي سو که نوټس اخستل، چي کله موقع تر لاسه کړي، نو په سنجیدګي سره یې داسي و ویل...**

د نامردۍ په اړه د نړۍ تاریخ ډک دی، لاکن په پرمخ تللو هېوادونو کي دا انسانان د ټولني تر ټولو زیات با اصوله او باکرداره خلک پاته کېږي، زیاتره پوهان ټول عمر واده نه کوي او ځانونه د ټولني د ښېګړي لپاره وقف کوي، په نورو مذهبونو کي که موږ و ګورو، په عیسویت کي پادریان هم کله هم واده نه کوي او د خپل ژوند ټول خوارږه د بل د خوشحالۍ او ټولني د ښېګړي لپاره په کار راولي، بلي خوا ته بې اولاده جوړۍ چي کله د بل چا بچې په غېږه کي واخلي، نو دا د نړۍ د تاریخ المیه ده، چي دا ماشوم بیا دوی د طوایف په توګه او یا د نورو دندو لپاره په کار اچوي او که نارینه وي، نو بیا د دې نارینه اصل پلار د دې کورنۍ د جایداد تر لاسه کولو په موخه د خپل بچي ذهن سازي کوي، ځکه د ژوند پر یوه نه یوه پړاو باندي دا په غېږه کي خپل کړل سوي بچیان دوی ته دهو که ور کولای سي..

دا ټول خو د دنیاوي مال او اسباب لپاره دي، خو له بچي ښځه محرومه او خاص کر د نارینه بچي ښځه محرومه جوړۍ ګرد سره ذهني سکون نه سي تر لاسه کولای او په خصوصیت سره هغه ښځه چي د اولاد قابله وي، خو قسمت یې د ژوند تړون له یوه شنډ مېړه سره کړی وي، نو هره میاشت چي پر ښځه باندي کومه ناروغي راځي، هغه هره میاشت د دې د بچي د پیدا کېدلو طمع نوره را پورته کوي او دا تر خپلي (Fertility) تر وروستي پړاوه پوري په هیله او امید ژوند تېروي، خو موږ به د یو چا و حوصله ته د صبر بندونه تر کومه او تر څو پوري تړو، باید هره مور او پلار خپل بچیان په کوشنیوالي کي هرو مرو لږ تر لږه په دې حواله یو ځل ډاکټر ته ور ښکاره کړي او دویم دا چي باید هره نجلۍ او هلک تر واده مخکي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بچیانو د زېږېدلو د صلاحیت معلومولو لپاره له ډاکټر سره صلاح وکړي. دا هغه اسانه لاري دي، چي ټولنه له ډېرو شیانو او ستونزو څخه را ګرځولای سي.

بلي خوا ته که چېري داسي و نه کړل سي، نو په فکري حواله غټ خلک غټ سوچونه وهي او دا بې اولاده جوړې داسي ځانګه جوړولای سي، چي د یتیمانو بچیانو روزنه کولای سي، چي یوازي بې اولاده مور او پلار د ټولني ستونزه او المیه نه ده؛ بلکې هغه ماشومان د چا چي مور او پلار نه وي، له داسي یتیمانو څخه هم د نړۍ هره ټولنه ډکه ده، بس یوازي د فکر بدلون او اراده په کار ده، چي کله یې فکر له جنس څخه د ټولنیزي ښېګړي خوا ته واووښت، نو بیا په ټولنه کي د داسي محرومه خلکو هیڅ کمی نسته، چي ژوند یې پر قدم قدم د نورو په آسره پاته وي..

ډاکټر نادر چي شېرخان ته و کتل او د څه ویلو به یې ورته ویل، نو ډاکټر نادر د ده په کیفیت پوه سو، نو ځکه یې د چایو څښلو د دمې اعلان وکړ.

شېرخان له جیبه څخه ټشو را و ایستی او تودې غټي اوښکي یې پاکي کړې او مخ په وړاندي کرار کرار یوازي روان سو.

.................................

شېرخان نور دومره توان نه درلودی، چي په دې طبي او اصلاحي سمپوزیم کي پاته سي، ځکه چي ده هغه څه تر لاسه کړي وو، چي له کلونو کلونو څخه یې دی په لټون پاته وو، خو د ده د فکر په بټۍ کي دا وخت داسي اوربل وو، چي د فکر او وجدان څپو لمبې پکښې کولې او د غور او لټون لاري پکښې نقشه کېدلې، د عمل او کار کاري وارونه پکښې پخېدل او دا داسي حالت وي، چي انسان هري خوا ته

2021.01.20 22:08

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړولای سي... د شېرخان پر بدن خولې را رواني وې، ماغزه یې په جوښ وو، د زړه غورځنګ او دربې یې نژدې خلکو اورېدلای سو... لاکن چې کوم شي ده ته تکیه ورکړې وه، هغه د ده پخه او مصممه اراده او د ژوند تېرولو په اړه کلک هوډ وو... دی چې به کله هم له داسې حالت سره مخامخ سو، نو د مکتب د هغه استاد خبره به ور په یاد سوه، چا چې ورته ویلي یې وو. چې د انسان ښوونکي پنځه شیان دي، لومړی مور، دویم استاد، دریم ادیب، څلورم ټولنه او پنځم ریاست... دی کرار کرار پر لاره روان وو او یو دم یې له جېبه موبایل را و ایستی، په فېس بک کې یې د فلسفې هغه پاڼه کلک کړه، چې په هغې کې به هره ورځ یوه نوې خبره او نوې تګلاره په نخښه کېدله او پر هغه به بیا بحثونه کېدل. د نن ورځې لپاره چې کومه خبره پر دې پاڼه خوره سوې وه، هغه په دې ډول وه.

"د کوم قام چې ډېره برخه حق پېژندونکي، حق غوښتونکي، پوهنیزه مینه لرونکي، اولسواکي خوښوونکي، وجدان لرونکي، ، ځان پېژندونکي او د ټینګې ارادې لرونکي نه وي او بل لا دا چې بېځایه زهتوب (اناپرستي) لرونکي هم وي، نو داسې قامونه که هر څومره شتمن وي؛ تل بې وسه، بې وزله او د نورو صنعتي هېوادونو پر در ولاړ وي."

ځکه نو ده له ځانه سره و پتېیله، چې خپل حق پېژندل او تر لاسه کول، خپل ځان پېژندل، وجدان او انا لرل او ټینګه اراده داسې شیان وي، چې دا زما په خپل لاس کې دي او دا څه ګران شیان هم نه دي... په ژوند کې که زه له یوه شي څخه محروم پاته کېږم، نو د خدای په دې ویړ جهان کې د کار پنځه نوري لارې پر انسان خلاصېږي، لازمي نه ده، چې د یوه شي په لټون او خوند پسې موږ نوري ټولې لارې او د خوندونو د جهان دروازې پر ځان باندې و تړو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دا هغه مقام وو، چې شېرخان له ځانه سره يوه کلکه او پخه اراده وکړه او همدې فکر او خبرې لړ و غوړاوی او مابنام ناوخته کور ته را ورسېدی...

.................................

شېر لالا نن دي والله که خوب ته پرېږدم، ماته به خواه مخواه وايې، چې په دې درې نجونو کې دي کومه يوه ښه ايسي، چې زه يې خپله ورېنداره جوړه کړم.

فرزانې په ډېر ټينګار خوپه مينه ناکه لهجه ورته و ويل.

کومې درې؟

هاهاها، لېونۍ؛ ته خو يې نومونه را واخله.

يوه پروين نرسه.. دويمه يوه بله پېغله ده، چې هره دويمه ورځ موږ ته فون کوي او خپل نوم نازنين را ښيي او بل زموږ د کلي د کريم جان اکا ښياسته لور نازدانه...

دا درې لږ دي، څه نور نومونه هم راته واخله..

شېرخان په موسکا و ويل.

نه بس؛ چې ډېرى سي خرېږى سي. په دغه درو کې يوه را وښايه..

د فرزانې لږ هيله پيدا سوه او په ټټکې يې ورته و ويل، لاکن شېرخان بير ته پوښتنه ځنې وکړه..

ستا په دې درو کې کومه يوه خوښه ده..؟

نازدانه ډېره ښايسته او په کار پوه ده، دا نازنين زما ډېره نه خوښېږي، خو پروين مې زياته خوښه ده، ځکه چې هغه به د مور علاج هم کوي.

يعنې ته له کوره کلېنک جوړول غواړې..

شېرخان په خندا ورته و ويل.

ګوره لالا ! زه له تاسره سيريس مجلس کوم او ته مذاق کوې.



2021.01.20 22:08

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذاق خو نه کوم، حقيقت درته وايم، بيا به د محلې ټول خلک کورته د علاج لپاره راځي او ښځي خو به نو را رواني وي..

څه وسو، که موږ د چا په ښه ورسو...

فرزانې بيرته خبره ور غبرګه کړه.

تاسو د چا د علاج خبري شروع کړي دي..

د شېرخان مور په شړلې ساه خوني ته را ننوتله او له بچيانو څخه يې وپوښتل.

موري! دا فرزانه ده، له ما نه کښېني، هر وخت د کوزدې خبري راته کوي.

لوري! ته ورسه، د ماخستن ډوډۍ تياره کړه، ناوخته دی..

فرزانه هم کراره ولاړه سوه، مور يې د شېرخان په څنګ کي کښېنستله، څو کراري کراري خبري يې ورته وکړلې او په آخر کي يې لږ په لوړ ږغ ورته و ويل، چي زموږ ګاونډی دی، زموږ په مخکي ځوان سوی دی، ښه مور او پلار يې دي، هستمن دی، بس بله به نه پکښې کوو،

شېرخان خاموش پاته سو او هيڅ يې هم ورته و نه ويل.

.....................................

په سينګار هټۍ کي د نوي ټيکنالوجۍ په راتګ سره شېرخان نوي نوي تماشې ليدلې، په مېسنجر کي د ميني ډک وايس او ليکلي پيغامونه، لوڅي او فحش لطيفې سيکسي سندري، په واټس اپ کي د خپلي ميني د صداقت اعتبار او قسمونه، ډول ډول د ځان او د نورو پېغلو عکسونه را ليږل، چي د سړي جنسي حِظ پاروي او چا او چا خو لا دا هم کول، چي خپل لڅ کلپونه به يې هم و شېرخان ته را استول. همدغه ډول به ځوانانو د جنسي اعضاوو سپرېګاني، د طاقت ګولۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غبارې او داسي نور توکي په لويه کچه وړل، چي د هغوی د عملي ژوند هينداره پکښې ښکارېدله، د پېغلو په اړه چي د پېغلتوب کوم توکي بازار ته را روان وو او پخوا به پخو ښځو په ډېره پرده کي وړل، خو اوس به د هغو شيانو را نيولو لپاره ځواني نجوني په داسي لوی زړه راتلې، چي په داسي خريداری به يې فخر کاوی...

د نازنين راتګ د پخوا په څېر روان وو، د پوځي ښځي هم تر اوسه پوري خپلي هڅي رواني ساتلي وې، د پنډي ښځي هم هيله نه وه ختلې، ګاونډی دکاندار نقيب الله هم د خپل نفس او مقام په جنګ له ځان او جهان سره بوخت پاته وو او ورو ورو ستړګو يې اوس د تشدد بڼه خپله کړې وه، د دکان مالک ظاهرشاه کرار ناست او بې خاره يې خلي پيسې را ټولولې. لاکن د ژوند په دې هنګامه کي شېرخان اوس ډېر په احتياط ژوند کاوی، اخلاق، د بل کومک. وسيله، محنت او خواري د ده د ژوند ځانګړتيا وه، خو اوس يې د فېشن پر ځای د سوچ او فکر و سينګار ته پام ور اووښتی وو او هر وخت به په سوچونو کي ورک وو، سنجيدګي يې اوس د ژوند خاصه جوړه سوې وه، که به چا ګپه او مسخرې ورسره وکړې، نو د پخوا په شان برجسته جملې يې اوس په زغم او ناصحانه انداز خپلولو اووښتي وې. په ده کي دا بدلون هر ملګري احساساوی. ظاهرشاه څو واره له ده څخه په يوازيتوب کي د دې سبب و پوښتی، خو ده به ورته و ويل، چي دا د مدنيت پړاوونه دي، چي پر انسان تېرېږي او لازمي نه ده، چي انسان دي پر يوه حال باندي هميش پاته سي، د انسان ترجيحات له وخته سره بدلېږي او هوښيار بني آدم هغه وي، چي تر وخت مخکي د را روان سيلاب لپاره بندونه و تړي، د فطرت او د هغه له اجزاوو سره مينه اوس د شېرخان په فطرت کي ورځ تر بلي زياتېدله، د ده زيات وخت په کور کي د نوو کتابونو په لوستلو او له خپل ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



واجد سره په بحث او مباحثه تېرېدی. د فطرت له اداګانو سره د مینې په خاطر یې خپل خوږ دوست عبدالقادر ته فون وکړی او د غره د تګ اراده یې ورته څرګنده کړه، هغه هم د اتوار د ورځې د چارغاښې د تګ د پروګرام ورته و ویل، چې نن سبا هسې هم غرونه په سپینه واوره پوښلې او د ښکلا پړونی یې پر سر غوړولی دی...

د اتوار د ورځې په پروګرام کې شېرخان دومره خوندونه د فطرت له اجزاوو سره په ملاقات کولو تر لاسه کړل، چې ملګرو یې هم په پام کې نیولې وو، د غره پر څوکو یوازې ناست او سوچونه وهل، سړې او خونکې هواته خلاص ټټر نیول، د بوټو خوشبو د ګوتو پر سرو را ټولول او سونګل، د واورې خځوړې جوړول او پر ملګرو غورځول، بیا په واوره کې اوږد اوږد غځېدل، له خوشحالۍ جګ جګ غورځېدل، له ملګرو سره په واوره کې شا او خوا اتڼ اچول... داسې کومه خوشحالي او مستي وه، چې شېرخان په دې پکنک کې و نه کړه. له غره څخه چې ماخستن کورته ستړی راغلی، نو مور یې ښه د لاندې ښوروا ورلره پخ کړې وه او شېرخان هم په دغه ماښامنۍ په ښوروا د خوند له کبله داسې ځان موړ کړی، چې مور یې هم ورته حیرانه سوله، خو د شپې ناوخته شېرخان بیا په ځان اخته سو او د میتیازو تکلیف یې زیات سو، ګړي ګړي واش روم له تګ یې د مور او خور خوب هم ور خراب کړی، سهار یې طبیعت سم نه وو، خو له مجبورۍ کار ته روان سو، په دکان کې هم هر ساعت د متیازو لپاره بهر وتلو دومره ستړی کړی، چې اوس یې د سترګو پر شا او خوا توري حلقې پیدا سوې، ظاهرشاه نن ناوخته دکان ته راتلی او څوک نه وو، چې د ده پر ځای یې کار کړی وای، آخري ځل چې دی د متیازو لپاره و واتی، نو په متیازو کې یې زیاته وینه راغله او د ډېر تکلیف له کبله بې هوښه سو، یو ماشوم په منډه د دوی دکان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي او ملګرو ته يې حال ورکړی، د دوکان دوه کارِنده او ګاونډي نقيب الله په منډه ورغلل، د اېدهي ايمبولينس ته يې فون وکړی، هغه په لس منټه کې را و رسېدی.. نقيب الله شېرخان په غېږه کي نيولی را پورته کړی، دوو دکاندارانو يې لاس او پښې ورسره و نيولې او ايمبولينس ته يې و خېژاوی. د ايمبولينس ډرايور ورته و ويل، چي پر دې سټرېچر يې پرېباسی، خو نقيب الله ضد کاوی، چي دی زموږ ملګری دی، زه يې په خپله غېږ کي نيسم، چي خوږ نه سي، يوه کارِنده يې ظاهرشاه او کور ته هم اطلاع ورکړله، چي تاسو هسپتال ته ځانونه را و رسوی. شېرخان د بېهوښۍ په حالت کي ټول سره کېپدی، دلته نقيب الله ته خدای موقع ورکړې وه او د ده پر بدن يې لاسونه او د خپل بدن اندامونه موښل او يو نااشنا او انجان غوندي احساس يې کاوی، د ده خوله هغه وخت د دکان کارِنده په لاس را ټينګه کړه، چي د بېهوښه شېرخان د مخ مچولو هڅه يې کوله، کارِنده ورته په خښم سو...

په اېمرجنسي کي چي ډاکټر شېرخان و کتی، نو ژر يې يورولوجي وارډ ته واستاوی، ولي د ده بولي نه راتلې او تر نامه پوري يې مثانه ډکه سوې وه، په دغه حال کي ظاهرشاه هم را و رسېدی، هغه ژر ژر د ډاکټر نادر پوښتنه وکړه، ډاکټر نادر چي د شېرخان په ټوله ناروغي خبر وو، نن پر رخصتي وو، ځکه په وارډ کي بل ډاکټر کفيل "چي پر ډيوټي وو" شېرخان و کتی، له بهر مېډيکل سټور څخه يې ضروري سامان را و غوښتی، ګلوز يې په لاس کړل، پر شېرخان يې سکرين را وګرځاوی او نقيب الله ته يې و ويل، چي ته اوس د لږ ساعت لپاره د ده له کټ څخه را کښته سه، ځکه دا سکرين د ډاکټر او ناروغه تر مابين ډېر څه سره شريکوي او له نورو خلکو څخه د مريض پټې او پټ پټوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر کفیل تر ډېره پوري له شېرخان سره په تداوي لګیا وو، نرسي کېنولا ور ولګوله، ډرپ چالان سو، ستني ور و لګېدلې او بنه ساعت وروسته ډاکټر کفیل د بولو (Foly's) تیله په لګولو کي بریالی سو، دغه وخت د شېرخان مور او خور هم را رسېدلي وو، دوی چي د شېرخان شا او خوا سکرین و لیدی، نو مور یې په چیغو سوله او سیخ ورغله، شېرخان ته و درېدله، ډاکټر کفیل ډېره منع کړه، چي دلته مه راځه، لاکن د مور زړه وو، هغه کله کرارېدی سو، د متیازو تېلۍ چي یې څه رنګه و لیدله، نو په پنځه منټه کي له متیازو ډکه سوه او نور د شېرخان حالت هم سوکه سوکه پر سمېدلو سو، خو د ډاکټر کفیل پر تندي باندي په پرله پسې توګه تودې خولې را رواني وې. د شېرخان د مور چي د ده و خولو ته پام سو، نو د ده شکریه یې ادا کړهٔ او د خپل بچي د صحت او پت د خیال ساتلو په اړه کرار کرار تر ډېره ورته لګیا وه.

.................................

شېرخان که څه هم اوس په هوښ کي وو، خو توده تبه یې له بدنه نه وتله، خوراک ته خو یې ګردسره خوله نه ور وړله، یوې خوا ته د تبي ګرمي او بلي خوا ته د پرېشانۍ پر تندي باندي خولې... ناروغۍ په یوازي دوو ورځو کي ښایسته شېرخان ډېر کمزوری کړی، لومړۍ شپه په هسپتال کي د سینګار هټۍ یوه کارِنده ورسره تېره کړې وه، سهار چي یې مور هسپتال ته را و رسېدله، نو کارِنده یې رخصت کړی، چي څه رنګه دی روان سو، نو شېرخان د مور په غېږ کي سر کښېښووی او دومره ډېر یې و ژړل، چي سلګۍ یې تر ډېره پوري نه درېدلې، د مور میني او ډاډ که څه هم شېرخان ته تر یوه حده پوري تسلي ورکړه، خو د شېرخان پر څهره باندي د خوف او وېري یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس هر چا لیدلای سو، چې ښه وخت تېر سو، نو شیرخان له مور سره پټ مجلس شروع کړی، د مجلس په میان کې به یې مور څو واره ډاکټر کفیل ته ورغله او له هغه څخه یې پوښتني وکړې، بیا به راغله او هغه حال به یې شېرخان ته و وایه... شېرخان به په دې خبرو کله ډاډه او کله نور هم فکرمند سو. مور یې څو واره د دکان هغه کارندوو ته هم ژنګونه و وهل، چې له شېرخان سره تر هسپتاله پوري راغلي وو، یو وار یې مور هڅه وکړه، چې نقیب الله ته هم ژنګ و وهي،

"خو شېرخان د حالاتو د نزاکت له کبله منع کړه، ځکه ټولي خبري او کړی یوازي د نقیب الله تر خبرېدلو پوري رسېدلې. نو مور او زوی دا مناسبه و ګڼله، چې تر څو نقیب الله خپل وار کوي، موږ به خپلو کارو ته تکیه ورکړو، تر ماخستنه پوري مور او زوی په یوه نتیجه و رسېدلو، که څه هم مور یې دې فیصلې ته غاړه نه ایښووله، خو د زوی ډېر اصرار او د مستقبل په خاطر یې ور سره و منله."

اوس به ناجوړه شېرخان دا پرېکړه څه ډول او څه رنګه تر سره کوي، مور یې په دې هکله اندېښمنه وه، خو شېرخان ور ته و ویل:

موره! زه د هغې مور زوی یم، چې کله یې هم و ماته د وېري او خوف احساس نه دی راکړی، ته ډاډه اوسه، زه به هر کار پر خپل خپل ځای او وخت سر ته رسوم، د هر چا د خوښي، ارمان او امانت خیال به ساتم.

زه به نن شپه او سبا ورځ دا ټول کارونه تر سره کړم او بل سبا که خدای کول، چې لمر راخېژي، موږ به د نوي پړاو نوي منزلونه څارو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند هر اړخیزه عملي حقیقت لري، هر یو ماشوم نن هم له دې پیغام سره نړۍ ته راځي، چې خدای پاک لا له انسان څخه په پوره توګه نه دی مایوسه سوی، ګناه د عادت له لاري په انساني وینه کي خپل وراثتي مقام ټاکي او په انساني ټولنه کي د تخریب باعث ګرځي، هر هغه فعل چي د اجتماعي نفسیاتو او اصولو په ضد فعالیت کوي، یوهستره ګناه ده، منم، چي جمال د خدای په دې ډېر خوښ دی، چي خدای په خپله ستر جمیل دی، خو انساني جمال په یوه داسي ټولنه کي "چي په هغې کي بدرنګۍ خپلي ریښې ټینګي کړي وي" دا باعث د شرم، خوف، ګناه او وېري علامت و ګرځي. زموږ ټولنه له ډېرو ښېګړو سره سره په یوه داسي بدرنګه کار هم اموخته ده، چي هغه کار د نسل انساني د بقا لپاره لازم دی او په هر ذي روح کي د تولیدي نظام شتون د هغو د نسل د بقا لپاره لازمي وي، خو انسان د خپل تولید د پرمختګ لپاره له ټاکل سوو اصولو څخه مخ اړولی دی، هر هغه حد یې تر پښو لاندي کړی او پار کړی دی، کوم چي حیوانان هم نه کوي، تاسو کي به لږ خلکو سپی له سپي سره او سپۍ له سپۍ سره په جنسي چاره تر سره کولو لیدلي وي، کله به مو هم آس له آسه سره او اسپه له اسپي سره په سیکسي فعل تر سره کولو نه وي لیدلې، خو د حضرت آدم اولاد دا ټولي چاري په پرېمانه توګه تر سره کوي. د هري ټولني غوښتني او د ژوندانه معیار جلا جلا وي، پښتني ټولني لا د مدنیت هغه پړاوونه نه دي تر سره کړي، کوم چي د نورو ټولنو ویاړ دی. موږ ته تر اوسه په علمي، ادبي، سیاسي، اولسي، فلسفي او معاشي توګه ډېر سفر پاته دی. ښایي؛ دا خبره به بې ځایه نه وي، چي په ډېرو ځانګو کي لا موږ تر اوسه ګامونه نه دي اخستي او تګ مو نه دی پیل کړی، خو د دولت او مال مینه او جنسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنده زموږ د ځوان کهول په رګونو کې داسې ګډه سوې ده، چې هر حد او هر قانون یې تر شا کړی دی، د دې وجوهات لټول د دې ټولنې مسئولیت په دې جوړېږي، چې د ټولنې د پرمختګ ډېرې لارې فقط او فقط د همدې تندې له کبله په ټپه ولاړې دي، چې موږ ولې دومره جنسي تنده لرو؟ او ولې له غلطې لارې خپله تنده ماتوو...؟
موږ د دې په بدل کې د څومره تاوانونو سره مخامخ کېږو...
فقط د څو ثانیو د حظ لپاره موږ د څومره ناروغیو بوج پر غاړه اخلو..
په یو فعل تر سره کولو موږ د څومره خلکو استحصال کوو..؟
آیا! دا فعلونه په ټولیزه توګه د قام او ټولنې په ګټه او پرمختګ تمامېږي؟ او داسې بې شمېره تپوسونه چې د هغو ځواب د ټولنې د باشعوره خلکو او ریاست پر غاړه پور دی.
او اوس دا سوال چې موږ څه رنګه کولای سو، چې د خپل نسل د بقا لپاره پر سمه لاره ځانونه هغه لار ته سم کړو، کوم چې په قانون، مذهب او ټولنه کې معیاري، رواج او روا وي...
تر څو پورې چې زما د ژوند د ارمانونو او زما د ذاتي ژوند خبره ده، نو دا فقط زما د مور، زما د معالج او خدای تر میان یو راز وو، راز چې کله هم راز وي، نو هغه پر ټولنه ډېر ښه اغېز کوي. دوه انسانان چې له یو بل سره بې کچه مینه لري، نو د نامعلومو اثراتو د ضدیت په سبب هره ورځ په خپل ځان کنبې سره ورک سي او د ژوند ترکیبونه سره پیوست کړي...
زه منم، چې له ما سره به د ژوندانه د پیوستون هیله د ډېرو په زړونو کې روښانه وي او له دې څخه به پر مخ باندې یوه مقدسه رشته هم رغېدلې وای او ډېرو به له ما سره بالواسطه یا بلا واسطه د جنسي اړیکو خیال په زړه او اراده کې درلودی، خو زما خدای زما د خیرنو او مقدسو دواړو ګناهونو ګواه دی، ما کله هم چا ته داسې هیله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



طمع نه ده ور کړې، چې زه به په هغه تورن سم، زما د ژوند مرام فقط او فقط د بل مرسته، د بل د زړه ساتنه او مینه خورول ده. که د چا په دې خاطر امید پیدا سوی وي، نو په هغه کي زما قصور او کوتاهي نسته، ځکه پوره خو یو خدای دی او انسان د خدای په څېر نه دی، ما کولای سول، چي د دې ټولني د وګړو خدمت نور هم وکړم، خو وخت او حالات د چا په لاس کي نه وي. زموږ په ټولنه کي اوس هم د شعور د پراختیا لپاره ډېر کار مانده دی، د رشتو د تقدس لپاره د جایز او ناجایز حدودو ټاکل پاته دي، د خپلو فرایضو او د بل د حقوقو تر میان واټن ټاکل پاته دي، خو موږ فقط او فقط د یوې خیرني جذبې تر اثر لاندي ټول اقدار تر پښو لاندي کړو، ځکه چي کله رسوایي د چا په نصیب سي، نو د نقیب الله غوندي انسانانو قربت ور نصیب کړي. زه د هغو ملګرو د میني پوروړی یم، چي له ما سره یې بې کچه او بې غرضه مینه کړې ده.. زه به نه مرم، زه به تر هغو له ژوند سره په جنګ یم، تر څو چي مي د ژوندانه خوله توی کړې نه وي، لاکن توپیر به دا وي، چي له تاسو څخه به لږ نیهام، پر لېري واټن خو و زړونو ته در نژدې ژوند کوم...

شېرخان ماخستن پر واټس اپ باندي دغه پیغام د خپلو ټولو ملګرو په نوم واستاوی او بیا یې کرار د هسپتال په بستره کي ځان د خوب په حواله کړ.

........................................

وایه؛ شېرخانه! تش دي نوم شېر دی، که دي د شېر کارونه هم کړي دي؟

هغه خو به زه و تاته و وایم، چي څه مي کړي دي. ډاکټر صاحب! دا خو راته و وایه، چي تا څه وخت زه کتلم، هغه وخت څه پېښه وسوه او څوک څوک ولاړ وو..

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېرخان ډاکټر کفيل ته مخاطب وو..
شېرخانه! ته مطمين اوسه، د ډاکټر او مريض تعلق، د هغو خبري او رازونه، دا د ډاکټر او ناروغه تر ميان امانت وي، په طب کي امانت داري لومړی شرط دی، ستا هر څه له ما سره امانت دي... البته.
تر دې جمله وروسته ډاکټر کفيل د څه شېبې لپاره پټه خوله سواو د شېرخان تلوسه نوره هم زياته سوه او په چټکي سره يې پوښتنه وکړه..
ډاکټر صاحب.. دا البته.. څه معنا؟
ډاکټر کفيل څه شېبه پټه خوله وو، بيا يې وويل:
دا له تا سره کوم کس راغلی وو...
هو، هو، نقيب الله..
شېرخان جمله ور بشپړه کړله.
دا کس و ماته ښه سړی نه معلومېدی، کېدای سي، چي په لاره کي ده له تا سره کوم حرکت کړی وي...
ډاکټر صاحب! څه درته و وايم، همدا خو هغه غم دی، چي د ژوند په هر پړاو کي يې زه او نور ځورولي يو او دا کس خو بېخي... چي په بيماري کي يې خپله مکروه څهره نوره هم را ښکاره کړه...
ته ولي له دې سړي څخه دومره خار خورې..؟
ډاکټر کفيل په سنجيدګي سره تپوس وکړی..
شېرخان څو شېبې خاموش پاته وو، بيا چي يې بالا و کتل، چي ډاکټر يې د ځواب اورېدلو منتظر دی، نو يې د زړه خروښ په دې خبرو کم کړی...
ډاکټر صاحب! ټولنه ټوله له داسي بدمرغه کردارونو څخه ډکه ده، ما چي چېري هم ژوند کړی دی؛ هلته زه د ډېرو لپاره د خوښۍ وړ يم، هم دغه خبره زما د ژوند د خوشحالۍ مرام هم دی، اوس چي

ketabton.com: The Digital Library



دی به له ما سره څه چلند کوي، له هغه ښځه د بچ کېدلو لپاره موږ فیصله کړې ده، چي موږ سبا له دې ښاره ښځه کوچ وکړو او نور ژوند هلته تېر کړو.. نو ځکه زه له تا ښځه دا خواست کوم، چي نن مي له هسپتال ښځه ډسچارج کړې.
شېرخانه! ته د دومره لوړي حوصلې خاوند یې او فقط د یوه کس له کبله ټول ښار او سیمه پرېږدې، ستا د خامپوخو ښار، چي ستا د ژوند ټولي خاطرې ورسره تړلي دي..؟
هو؛ ډاکټر صاحب! څوک په رضا له ملکه نه ځي
یا ډېر غریب سي یا د یار له غمه ځینه
خو ته به چېري او کوم ځای ته ځې؟
ډاکټر کفیل په تجسس وپوښتل؟
ډاکټر صاحب! ما یو ځای لوستي وو، چي د پرمختګ لپاره یا سمندر ته ځه او یا دربار ته..
ډاکټر په حیراني ور وکتل، چي څه مطلب..؟
سمندر لوی وي، ساحل لري، له هري خوا دریابونه ورته راځي او دربار غټ او لوی وي، خلوص لري، د هر چا ښه پکښې کېږي..
ډاکټر زیاته کړه، چي خبره لږ نوره واضح کړه...
په اصل کي په کوشنیو ښارونو کي مدنیت ډېر پرمختګ نه وي کړی او ډېري بدمرغۍ وجود لري، په خصوصیت سره جنسي تنده او بېلاري... زموږ د ټولني اقدار سره تیت او پرک کړي دي... په لوی ښار لکه لاهور کي که څه هم هلته دا خویونه ډېر دي، خو هغه په یوه خاصه پیمانه او خاص ځای او زمان کي وي، هیڅ څوک نه مجبوروي، چي په زوره کار په وکړي. دلته خو د شریف او بیا د حسینو خلکو ژوند د بل پر رحم او کرم باندي وي...
ښه؛ په لاهور کي به نو ته څه کوې..؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر بله پوښتنه وکړه...
ما له یوې اېډورټایزنګ کمپنۍ سره معاهده کړې ده او هغه د بې وزله ماشومانو او کونډو په هکله پر څو پروجیکټونو باندي لګیا ده؛ کار کوي، ډاکومینټریاني جوړوي، زه به له هغوی سره په دې کار کي کومک کوم او هغوی ما ته د ښې معاوضې ډاډ راکړی دی...
شېرخانه! که خفه کېږې نه، نو د یوه ذاتي پوښتني کولو غلطي کولای سم؟
ولي نه؛ ډاکټر صاحب! ته خو زما په هر څه شریک ډاکټر یې..
شېرخان و ډاکټر کفیل ته نوره هم حوصله ورکړله..
دا چا، کله او څه رنګه له تا سره وکړل...؟
ډاکټر صاحب! ما تاته نه ویل، چي زه شېرخان یم او د مېړاني کارونه کوم. د شېرخان یو دم د مخ کیفیت بدل سو.. نرۍ خوله ورباندي راغله، خو په لوی زړه او غټ اواز یې و ویل،
چي دا په کوشنیوالي کي زما لېونۍ انا په بیاتي باندي له ما سره کړي وو، چي زما فرض یې په بېخ کي را پرې کړی وو، خو...
د ډاکټر کفیل تر خوله خبره نه را وتله...
هو؛ زموږ مشرانو هم ډېره بې غوري کړې وه، موږ په کلي کي وو، ښار ته په راتګ کي ډېر وخت تېر سوی وو او وینه هم ډېره بهېدلې وه او زه له پلار سره نامراد بیر ته کور ته تللی وم...
خو شېرخانه! ما چي ستا ژوند مطالعه کړی دی، ته څه رنګه په دې بې حسه ټولنه کي ژوند کوې او د دې جنسي ماحول او وږو تر میان ستا خپلي جنسي آرزوګاني څه رنګه خړوبوې...
هو؛ هو... زه هم زړه لرم، زه هم آرزو، خواهش او جنسي تنده لرم، خو دا ټول مي د صبر په اوبو، د زغم په صابن او د یقین په تولیه له ځانه لیري ساتلي دي.. زما ژوند فقط تر درې کسانو پوري راز وو او اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



his sick society to die. Perhaps because of his passion, the Nobel Prize-winning committee awarded him the Nobel Prize for Literature. Taban possesses the same revolutionary spirit, but We see a big difference between Taban and Gabriel Garcia Marquez. Taban is not only an artist but also a revolutionary doctor and he really wants his sick patient to be treated, which is very close to him. I think the struggle to save its patient is brilliantly portrayed in the present novel.

Although the current novel is a tragedy and having a horrible end , Taban is trying to paint an accurate picture of the spirit of our current society through different colors like a beautiful artist in his novel. Taban's Psychological Society is a society full of diseases. Like the beautiful Urdu fiction writer **Manto**, Taban also says that don't abuse the sexual misconduct prevalent in the society, but try to understand its economic and psychological causes. He is strongly opposed to capitalism as well as educational backwardness. Taban's characters are ignorant, they have many economic constraints, they are currently living in the age of modern communication in the world, most of them are people,who have the modern mobiles in their hands , which contain

(c) ketabton.com: The Digital Library



I have spent more than thirty years in his friendship with him, it is also the reason that I know each and every aspect of his personality, and before the reading of the present novel it was also my claim and still it is my claim. But when I studied the instant creation, I asked from myself that Mr where are you, you were wrong and you know nothing about him, and he is a totally different man, who was living, residing and laughing in your mind and your thoughts. Believe me, after the study of novel, I found Taban a very different man. Don't think that he is a very happy man, no he is very unhappy and gloomy man. Really he is in pain. It is only your idea that he is the man of peaceful mind, no he is a man of different Outlook and has a lot of concerns regarding our present society. He is a fierce and ferocious man of Pashto literature as **Jonathan Swift** of English literature.

It is not my idea only, but I am sure that Taban is not writing a novel at the moment,like a doctor he is just sitting next to a dying patient and knowing the cause of his disease and treating him properly. The good news here is that Dr. Taban does not want his patient to die at all. This is exactly the attitude of **Gabriel Garcia Marquez**, he is also fighting in every one of his novels. He does not want

(c) ketabton.com: The Digital Library



An old fisherman **Santiago**,one day when goes for the purpose of fishing in the sea, a very old dream of his comes true and a great wish shows to be proved and fulfilled. Here a huge fish, which looks like a giant and basically is marlin fish, gets caught in his hook, but now bringing this giant fish to the shore is the biggest problem for him and in the same struggle. Eventually, the same novel comes to an end. The same Marlin problem with **Dr. Liaquat Taban**'s current novel lies here with me. Although I have only a few sentences to write on it, but these sentences are very difficul for me. Really and no doubt there is a great piece of writing like Marlin in front of me, a very complex piece of writing written in a very scary way on a very complex society. My only wish is that people would rather go to the story of this novel and its style of writing. Try to understand the ugly spirit of the society presented in it, which is a great credit to Dr. Liaqat Taban, who is a fierce rebel against tradition and who represents a very modern society in a very modern way. But it is the irony of fate ,when we begin to think over this modern society, we find it very ugly, dirtiest and tremendously and extremely unclean.

Apparently Doctor Taban is a very simple and innocent person, it is true,

(c) ketabton.com: The Digital Library



# The world of Maniacs and Taban

At the moment I feel very nervous and I do not understand what I should do. Some people use exaggeration in life and whenever they do something, they exaggerated. Let's say I'm doing something very important. I don't think that's the case here, but the fact remains that I have been assigned a very hard job and since there is a severe shortage of critics in Pashto literature and then I am not a critic myself and this is not my job, May be that's the reason for the panic, yes, of course I'm a fiction writer, so I want everything I say to be clear and it is also my desire that it would be my good luck if people like my opinion, and since I have deep and old relationship,connection and association with English and Urdu literature, in consequence of that I am so serious and you can say uneasy and worried as well. I don't want people to agree with me or they should have the same views like mine, but they should try to think over my opinion once they close their eyes.

The **Old Man and the Sea** is one of the most wonderful novels in the world of literature, which is very beautiful, very short and the American writer **Ernest Miller Hemingway** won the Nobel Prize for Literature for this writing.

(c) ketabton.com: The Digital Library



the poison spread by the world's major economic powers in the form of sex movies, which is making us all Sex Maniacs, increasing our sexual needs, we have this ugly problem all the time and we can not do anything other than sex and its pleasure attracts us all the time. The question arises and in fact the world's major economic powers and their agents do not want us to become an economic power, they are trying to make us sexually ill by injecting us with sex. Don't let our mental abilities develop. May economic slavery be our destiny like every backward country in the third world and may we all be destroyed and ruined in the same way. In fact, Dr. Taban has written this novel in his own and unique style. As such, we can see his full observation. His excellent study and his control over the subject. From a medical expert, this novel is in fact a gift for Pashto literature and its readers. Let's not look at it as it is, but understand its spirit and try to understand the good intentions behind it. This is a novel by the modern Jonathan Swift of modern Pashto literature and full of horrible satire. It's a creation. I appreciate it. I appreciate the moral courage that the doctor has shown in presenting such a terrifying subject and now it invites you to read it. Thanks

**Farooq Sarwar Advocate** June 11, 2020

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا راز د يو بدرنګه له لاسه راز پاته نه سو، نو زه نه غواړم، چې له ما سره د تېرلو کسانو و جذباتو ته زيان و رسوم...

د ډاکټر کفيل وروستۍ پوښتني ته شېرخان په بستره کي سره را ټول سو او په ټينګه او مصممه اراده او کلک هوډ يې داسي و ويل.

د بل د خوښې او آرزو په خاطر خپلي خوښي او آرزوګاني تر پښو لاندي کول زه عبادت ګڼم، د بل د زړه ساتنه د نېک مقصد په خاطر د ژوند تر ټولو لوی مرام وي او زه به دا مرام تر وروستۍ سلګۍ پوري تر سره کوم.

(پای)

۰۲، ۰۲، ۲۰۲۰ اتوار

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال چاپ سوي آثار

**ناولونه:**

۱: څورېدلي سره یو شول: چاپ کال ۲۰۱۳م کال
د ۲۰۱۳ز کلنۍ ایالتي جایزه وړونکی (صوبایي ادبي اېوارډ) او
د ۲۰۱۳ز کال د حافظ الپوري د سیالۍ لومړۍ جایزه
۲: دارالامان: چاپ کال ۲۰۱۷ز کال
شال ادبي اېوارډ هنګو (شمالي پښتونخوا) ۲۰۱۷ز کال
۳: د سینګار هتۍ: ۲۰۲۰ز کال همدا ناول

**یونلیکونه** (سفرنامې)

۱: د ښکلا په تپاس: (د تهایي لېنډ یونلیک) چاپ کال ۲۰۰۹ز
صوبایي ادبي اېوارډ (ایالتي کلنۍ جایزه؛ ۲۰۰۹ز)
۲: د تاشقند د قند څکه: (د ازبکستان یونلیک) چاپ کال ۲۰۱۱ز
د ۲۰۱۱ز کلنۍ جایزه وړونکی (صوبایي ادبي اېوارډ)
۳: د زم زم تنده: (د حج یونلیک) چاپ کال ۲۰۱۴ز کال
د ۲۰۱۴ز کلنۍ ایالتي جایزه وړونکی (صوبایي ادبي اېوارډ)
۴: جنت په جزیره کې: (د مورېشیس او متحده عرب اماراتو یونلیک). د چاپ کال ۲۰۱۵ز کلنۍ ایالتي جایزه وړونکی (صوبایي ادبي اېوارډ)
۵: د سپوږمۍ انګڼ: چاپ کال ۲۰۱۶ز (د ملایشیا یونلیک)
د ۲۰۱۶ز کلنۍ ایالتي جایزه وړونکی (صوبایي ادبي اېوارډ)
۶: ترکیه د تهذیبونو ځانګو: چاپ کال ۲۰۱۷ز (د ترکې یونلیک)
۷: شاپېرۍ د کوه قاف چې پښتنې سوې: (د آذربایجان یونلیک)
چاپ کال ۲۰۱۸ز کال
۸: مستې د مسایي د ځناورو په ځنګل کې: (د کېنیا یونلیک)
چاپ کال ۲۰۱۸ز

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹: زما داوړی زړګی راوړه**
**په ناداني مي درکاوۀنه پوهېدمه:** (د کندهار او هلمند یونلیک)
په ښکلا مجله (کندهار) کي قسط وار چاپ سوی کلونه ۲۰۰۵ز
۲۰۰۶ز

**۱۰: د نیازبین کابل وږمې:** (د کابل یونلیک) چاپ ۲۰۰۹ز کال
په حسنی مجله (پښین) کي قسط وار خور سوی دی.

**تنقیدي او څېړنیز**

**۱: د شیدا او حنان پر تلیز جاج:** چاپ ۲۰۰۷ ز کال
د ۲۰۰۷ز کلنۍ ایالتي جایزه وړونکی (صوبايي ادبي اېوارډ)
د هایر اېجوکېشن کمیشن له خوا پر ملکي کچه باندي د ایم ایس په کورس کي شامل سو.

**۲: د سهېلي پښتونخوا پښتو رسنۍ:** چاپ ۲۰۰۸ز کال
د ۲۰۰۸ز کلنۍ ایالتي جایزه وړونکی (صوبايي ادبي اېوارډ)
د کوټې پوهنتون د پښتو څانګي په ایم اې کورس کي شامل او د هایر اېجوکېشن پاکستان له خوا پر ملکي کچه د بي ایس په کورس کي شامل..

**۳: د حمید او شمس الدین پر تلیز جاج:** چاپ ۲۰۱۱ز کال
د ۲۰۱۱ز کلنۍ ایالتي جایزه وړونکی (صوبايي ادبي اېوارډ)
د هایر اېجوکېشن کمیشن له خوا د ایم ایس په کورس کي شامل


**۴: تاباني فکرونه:** لومړی ټوک؛ چاپ ۲۰۱۲ز کال


**۵: پښتو موسیقي:** چاپ ۲۰۱۵ز کال
د ۲۰۱۵ز کلنۍ ایالتي جایزه وړونکی (صوبايي ادبي اېوارډ)
د باچاخان پوهنتون چارسده په پي ایچ ډي کورس کي شامل

**۶: تاباني فکرونه:** دویم ټوک؛ چاپ ۲۰۱۸ز کال

**۷: د کامګار او علي خان پر تلیز جاج** (چاپ ته تیار ۲۰۲۰ز)

(c) ketabton.com: The Digital Library






دارالکتب پرنټرز
رابطہ نمبر: 0092-91-2569011
darusaeed@gmail.com

2021.01.20

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**